# په افغانستان کې د «کي ، جي ، بي» فعالیتونه

داگسا ، کام ، خاد ، واد - تشکیلات،فعالیتونه او جنایات

عبدالوکیل

Ketabton.com

# په افغانستان کی د( کي ، جي ، بي ) فعالیتونه

## داگسا ، کام ، خاد ، واد – تشکیلات ، فعالیتونه او جنایات

عبدالوکیل

Ketabton.com

## دکتاب مشخصات

* دکتاب نوم : په افغانستان کې د«کي ، جي ، بي» فعالیتونه
* مؤلف : عبدالوکیل
* کمپوزر : احمد ضیاء «ذهین عدالتیار»
* خپرونکی : پخپله مؤلف
* تیراژ : (۱۰۰۰) توکه
* دچاپ نیټه : ۱۳۷۰ – میزان
* دیوه ټوک بیه : «۳۵» روپۍ

دچاپ حق محفوظ دی

## فهرست

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱– سریزه | | (الف) |
| ۲ – د، کي ، جي، بي مفهوم … | | (۱) |
| ۳ – په افغانستان کې دامیرامان الله خان … | | (٤) |
| ٤ – دمحمد ظاهر دټولواکۍ په … | | (۷) |
| ٥ – دمحمد داؤد دخپل سري رژیم … | | (۲۸) |
| ٦ – دثور له کودتا څخه دروسانو … | | (٥۳) |
| ۷ – دروسانو له نظامي مداخلې څخه … | | (۷۳) |

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

روسانو دخوپیرېو راهیسې په افغانستان کې استعماري اواستخباراتي هلې ځلې دخپلو پټوپولیسو دستګاه (کي ، جي ، بي ) له لارې په مخ بیولې چې دهغو یو شمیر اسلامي او افغاني ضد کړه وړه په مختلفو لیکنوکې ځرګند شوي خو کافي نه دي نو په افغانستان کې ددغې وحشي استخباراتي دستګاه فعالیتونو لاافشاءدهرمسلمان اوافغان ایماني او وجداني دنده شمیرل کیږي.

ځرنګه چې زه هم په دې وروستیو کلونو کې په افغانستان کې دکي ، جي ، بي » یوشمیر ورانوونکو کړو وړو شاهد وم نو ځکه مې دهغوی ځخه پردې پورته کولو ته اقدام وکړ او «په افغانستان کې دکي ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه » ترعنوان لاندې مې ددغو پیښوپوه برخه دجهاد هنداره » جریدې له لارې په دوویشتوګنو کې خپره کړه اودادی

اوس مې دخدای (ج) په مرسته پرخپرو شویو موضوعاتو سربیره یو شمیر نورودسترګو لیدلو ییښو چاپولوته دمجموعې په بڼول اقدام وکړ. دامنم چې ددې لیکنې دیو تعداد کلمو او اصطلاحاتو څخه ځرګندیږي چې دروسانو او دهغوی مزدورانو په مقابل کې دافغاني مجاهدینو او مسلمانانو څخه دفاع او طرفداري شویده نو په کومو الفاظو مې چې چاته خطاب کړی هغه مې مناسب اودهغوی حق بللی دی خو دامکان ترحده مې هڅه کړې چې حالات اوپیښې هغسې بیان او وخیرم لکه څنګه چې موجودې وې داځکه چې دافغانستان اوسنی او راتلونکی نسل هغه وخت مناسبه اومعقوله اقتصادي ، سیاسي اوټولنیزه تګ لاره اوهم دحال اوراتلونکي په اړوند په خپله کته دریځ غوره کولی شي چې تیرې شوي تاریخي پیښې په واقعي بڼول سره وپیژني .

سنبایي ستاسو په لاس کې دتاریخ دغه کوچنی پاڼه دیرې نیمګرتیاوې ولري خو زما په نظر دهغې اعتبار اوښه والی په دې کې دی چې ما د۱۳٤۷ هـ ش کال څخه راپه دې خوا دافغانستان په سیاسي بهیر کې په مستقیم بڼول سره برخه اخیستی ده نو په اکثرو هغو پیښو کې چې دلته تماس نیول شوی،دیوې خوا یاخومې پخپله پکې برخه درلوده اویا داچې دیوه کتونکي په بڼول دهغوی شاهد وم اودبلې خوا دروسانو استعماري پلانونو دلا افشاً په خاطر هغو پیښو ته اشاره شوی په کومو کې چې « کی ، جی ، بی » په هغه اویا دغه څیره لاس درلود .

ومن الله التوفیق

عبدالوکیل – حیات آباد ، پیښور

۱۳۷۰/٦/۲۲





# K.G.B.

# دکی ،جی ، بی مفهوم

«کی ، جی ، بی»دروسانو دپټو پولیسو یااستخباراتی دستګاه نوم دی او دهدولتی امنیت کمیتی» مفهوم لری چی کی(K) عبارت دهکمیتی »، جی (G)عبارت له «ګاسودارستو » یادولت ( روسان«G» په « ګی » سره تلفظ کوی اونوموړی دفساد منبع « کی ګی بی » لولی ) اوبی (B)عبارت له «بیزاپاسنستی » یا امنیت معنی لری اومخفف یی «کی ، جی ، بی »( K.G.B) جوړوی .

د۱۹۱۷ م کال داکتوبر انسانی ضدبدلون دروسانو دپټو پولیسو دستګاه لانوره هم خطر ناکه اوانسان خوره کړه ، په دی مرحله کی دروسانو دپټو پولیسو یعنی «چکا» ( په هغه وخت کی «کی ، جی ، بی» دچکایا «دانقلاب ، خرابکاری اودبی اجازی نفوذ پرضد دمبارزی فوق



Ketabton.com

العاده كميټى » په نوم يادېده اوبيا دغه نوم څو ځله تغير وموند ترڅو چې اوسنى د«كى ، جى ، بى » نوم يى ورباندى كيښود ) كارونه د«لينن » لخوا د«دزرژنسكى » په نوم يوه زرنګ ، ظالم ، ماهراوانسان نما داړونكى ته وسپارلى چې يوازى «لينن» ته مسول ؤ يعنى دمهمو پېښو راپوربه يى لينن ته وراندى كاوه اونور نوبه انسان وژنه اوشكنجو وركولو كى كامل اختياره كمونيست ؤ.

« لينن» اوبلشويكانو دوى په امپراطورۍ كى شكيل ولسونه كوموچه دلينن په مشرى د١٩١٧ م كال داكتوبر انسانى اوترقى ضد بدلون سره مخالفت څرګندكرمرتجع ، ترقى ضد ، دفيودالى اوبورژوازى نمايندګان اوطرفداران وبلل اودروسانو دغه بيتوپوليسوارګان دنومورى بدلون تول مخالفين ياپه فزيكى ډول سره له منځه يوړل اويا يى ترسختو شكنجووروسته بنديان اوبېروونكوكارونو ته سوق كړل . دغو خطرناكو پوليسو دروسانو په ټوله امپراطورى كى دويرى اووحشت څپى خپرى كړى چى تردى نن پورى څوك نړدى دوست اوخپل فاميل ته هم دزړه رازنه شي ويلى اودوى ترتسلط لاندى ټول ولسونه يى ديوه چارپېره شوى ديوال په بڼه ددايمى بنديانو په څېر راګير كړل.كي ، جي ، بي دروس دمركزي دولت په تقويه كيدو سره دروس امپراطورى دپراختيالپاره دنورو هيوادو په كورنيو چاروكى مداخلى ته شدت وركړاو دېرى مودى راپه دى خوادروسانو په كمونستى امپراطورى كى دكورنى اوباندينى سياست ټاكونكى قدرت يوازى همداارګان دى.درئيس جمهور، دكمونست ګوند عمومى منشى اوپانورو مهمو اوحساسو ګوندى اودولتى څوكيو لپاره دكي ، جي ، بي دخوښى اشخاص پخواتردى چى مقرراويا هغه اشغال كړى ، تعين





كيږى.دهرى حساسى څوكى اومقام لپاره نه تنها يو نفرېلكى په سلسله سره څو نفره په نظر كى نيسى چى كه چيرى لومړى دمختلفو عواملو له مخى خپل مقام له لاسه وركوى ځاى يى بايد د«كى ، جى ، بى » دخوښى دوهم اوپه همدى ترتيب سره دريم اوڅلورم ته پاتى شى. دغه وينى چښونكى دستګاه دبهرنيو هيوادونو لپاره مخصوصى څانګى لري چى دروسى امپراطورۍ په داخل اوهم دهغى څخه بهر دفساداوجنايت مهمه اوخطرناكه منبع ګرځيدلى ده دغه دوزخى دستګاه داسلام اوافغانستان دمسلمانانو اواسلامى خاورى په تباهى ، بربادى اوترخپل تسلط لاندى راوستلو كى دهيڅ ډول شيطانى هلو ځلو څخه ډډه نه كوى.روسي استخباراتو دڅو پيريو راپه دى خوا خصوصاً داميرامان الله خان له دورى څخه تر نن پورې دافغانستان په مادي اومعنوي بربادېو كى بنستيزرول لوبولى نو په افغانستان كى دهغوى پوشمير پټو او ورانوونكو فعاليتونو ته اشاره به ددوى حقيقي پيژندګلوى په اړوند بى ګټى نه وي .

# په افغانستان کې دامیر امان الله خان دقــدرت په دوره کې د« کی ، جی ، بی » نفوذ

( ۱۹۱۹- ۱۹۲۹ م )

کله چی روسانو دمنځنی اسیا خپلواک اسلامی هیوادونه یوپه بل پسی ترخپل استعمارلاندی راوستل نوپر افغانستان باندی دهغوی تسلط اودی لاری څخه دهند بحرته رسیدل یی په اوږده ستراتیژی تبدیل شول اوپه افغانستان کی یی دامیر امان الله خان دقدرت څخه لا پخوا خپلی استعماری اواستخباراتی چاری پیل کړی وی خودامان الله خان دقدرت په وخت یعنی ( ۱۹۱۹م) کال کی روسی سیاسی نماینده ګی ته په کابل کی دلږی ځل لپاره په رسمی ډول سره ځای ورکول ددی سبب شول چی روسان په افغانستان کی خپل شیطانی اواستعماری هدفونه په مستقیم ډول سره لانورهم ګړندی کړی .

له روسانو سره دامان الله خان سیاسی ، اقتصادی ، فرهنګی اونورو ټولنیزو ساحو کی اړیکی ټینګول په بی ساری ډول سره زیات شول .





دکابل اومسکو ترمنځ تلګرافی رابطه په مستقیم ډول سره قایمه شوه دروس څخه دنسبتاًغیر مدرنو الوتکو ، تیلفون اوتلګراف اونورو صنعتی اموالو رانیول اودهغوی سره دکارپوهانو په نوم روسی جاسوسانو راتګ ، روس ته دافغانی محصلینو لیږل اوپه نورو دولتی اړخونوکی دروسانو سره زیات نږدی کیدل ددی سبب شول چی روسان نورهم دی ته وهڅول شی ترڅو دافغانستان اشغال اودی لاری څخه ګرمو اوبو ته رسیدل دخپلو استعماری پلانونو په لړی ردیف کی ونیسی نویی په افغانستان کی دجاسوسانو اوطرفدارانو په پیداکولو زوراُچاوه .

د«لینن» دقدرت په دوره کی روسی پوځونه په مغلستان (منګولیا) باندی ورمرش شول اوترهمدی دمه پوری دروسی کمونستی امپراطوری ترمستقیم تسلط لاندی اوروسی نظامی قواوی پکی موجودی دی .

همدارنګه د«لینن» «وحشیانه قدرت په وخت کی «بخارا» چی یو اسلامی اوخپلواک هیواد وُ ، دبلشویکانو پواسطه اشغال اودروسی کمونستی امپراطوری جزیی وګرځوله اومنځنی اسیا په اشغال شویو اسلامی هیوادونو باندی یی روسی اوکمونستی دیکتاتوری (د پرولتاریا دیکتاتوری ) تسلط نورهم زیات شو، په همدی ترتیب کله چی امیر امان الله خان دکورني اغتشاش په نتیجه کی دکابل څخه کندهارته او دهغه ځایه بیا کوټی ، کراچی اوبالاخره ایتالیا ته ولاړ، روسانوخپل پوځونه دافغانستان په طرف رامرش کړل اوپه (۱۹۲۹ م ) کال کی دافغانی مسلمانانو دبی ساری مقاومت اوقربانیو څخه وروسته روسی اشغالګر پوځونه مزارشریف ته راورسیدل. روسانو امان الله خان ته خبرورکړ چی موږ په ټول قوت سره ستاپه بیا

پاچاکیدو کی په اصطلاح مرسته کوو اوبیرته دکابل په لوری حرکت وکره خوځرنګه چی امان الله خان خپله اصلی څیره دافغانستان دهغه وخت حوادثو هنداره کی په ربښتینی بول سره لیدلی وه چی نورنو افغانان دی نه منی ( امیر امان الله خان پوښمیرداسی ناسنجول شوی کارونه سرته ورسول چی دیوه عاقل انسان لپاره دحیرانتیا ورګرځی په دی بول دامان الله خان تیروتنو اونیمګړتیاو افغانان په قهر اوپاڅون ته اړکړل) نوځکه یی دبیرته راتلو اودتخت اوتاج نیولو جرت ونکړاوده یی ورځخه وکره .

دامان الله خان له تیښتی وروسته بیا دمحمد ظاهرترپاچاکیدو پوری « کی ، جی ، بی» دهغی بی ثباته وضعی څخه چی په افغانستان کی موجوده وه په بده ګټه اخستلو سره خپل نفوذ اواجنټوری فعالیت ته دوام ورکړ خودمحمدظاهر دسلطنت په دوره کی یی دنفوذ اوفعالیت لپاره په زره پوری شرایط برابر شول.





# • دمحمد ظاهر دتولواکی په دوره کی د«کی ، جی ، بی» فعالیت

## (١٣١٢- ١٣٥٢هـ ش )

دمحمد ظاهردتولواکی په دوره کی دافغانستان سیاسی ، اقتصادی اوفرهنګی اړیکی له روسانو سره نوری هم زیاتی شوی خودهغوی سره دنظامی روابطو ټینګښت چی دتولو په تناسب یی دوطن په خپلواکی کی بنستیز منفی رول ولوباوه ، افراطی بڼه غوره کره .

په افغانستان کی دتولو باندنیو هیوادونو دسفارتونو په تناسب دروسانو سفارت زیات شمیر کارمندان درلودل اولری یی اونور نوددی مطلب منطق او ثبوت ته اړتیا نشته چی په نړی کی دروسی سفارتونو دفعالیت اوکړه ورو مهم اواصلی لوری په غیر رسمی اوغیر قانونی بول سره داجنټوری چارو په مخ بیول دی.

په افغانستان کی دروسانوسفارت چی دکابل دارالامان په ساحه کی یی پراخه ځمکه په خپله محوطه کی رانغښتی ده یوازی داستوګنی

لپاره دمکروریانو اته لوی بلاکونه لری اوپه هربلاك کی په شلګونو اپارتمانونه چی دکوټو شمیریی سل ګونو ته رسیږی جوړشویدی . څرنګه چی روسان دکورنی (فامیل) ژوند په سویه په یوه کوټه کی دژوند کولو سره عادت شویدی نودروسانو ذکرشوی سفارت دیوه ښارحیثیت لری.برسیره پردی دمحمد ظاهردحکومت په اخیروکی دکابل پولی تخنیك په انستیتوت کی داستوګنی څلوربلاکونه یوازی دروسانو کورنیو داستوګنی لپاره جوړشویدی.لکه چی عملاً لیدل کیدل روسانو په افغانستان کی داجنټوری کارونو لپاره زیات مالی مصارف نه درلودل اودمالی مصارفو په بدل کی یی دخپلو زهرو څڅه کاراخیست هغه داسی چی دښوونکو ، اسیستانتانو ، تکنیشنو ، لابرانتو ، ... ترنامو لاندی یی دکی ، جی ، بی مسلکی غړی اودنومړو کارکوونکو دکورنیو ترپردی لاندی یی پر زیات شمیر ښځو اوپیغلو باندی چی یوازی اجنټوری چاری یی سرته رسولی دپولی تخنیك ساحه یکه کړه . دغو ښځو اوپیغلو داړونده اجنټانو سره په علنی او غیرعلنی ډول تماس درلود . دهغوی دااړیکی چی په علنی ډول وی دمحصلینو اونورو افغانانوپه منځ کی اجنټوري چاری تردی نامه لاندی په مخ بیولی چی ګنی مینه اومحبت ورسره لری اودیواویل دوستان اوملګری دی نوځکه دشپی اوورځی په هرډول شرایطو کی سره لیدلی اوکتلی شی . داستاذی اوشاګردی ترپردی لاندی اړیکی خو جدا وی چی روسی ښوونکو خصوصاً ښځو به دمحصلینو سره درلودلی .

دکابل اومزار شریف تخنیکمونه اودکابل په دهمزنګ کی فرهنګی خونه دروسانو داجنټوری نورهغه مرکزونه ؤ چی دکی ، جی ، بی





پرانوونکوفعالیتونو لپاره یی ښه زمینه برابره کړی وه.

«کی ، جی ، بی » خویا داچی داستخباراتو مسلکی غړی داستاذی ترپردی لاندی رالیږل اویا هرهغه روسی استاذ به چی افغانستان ته رالیږل کیده نوله کی ، جی ، بی سره داړیکو پرته داکارممکن نه ؤ.

دکابل ، مزارشریف ، شبرغان ، جلال اباد اودافغانستان په نورو ښارونو کی دمشاورینو ، کارپوهانو ، نفت اوګازپلټونکو اونورو کارونو ترپردی لاندی دکی ، جی ، بی پرسونل زیاتیده .

هغه افغانی محصلین چی روس ته دزده کړی په نوم لیږل کیدل اکثریت یی دکی ، جی ، بی همکاران شول اویو شمیر نورو یی روسی ښځی راوستلی . دغو روسی ښځوبه چی دافغانی محصلینو سره دواده ترپردی لاندی په افغانستان کی استوګنه پیل کوله یاخوبه دکی ، جی ، بی غړی وی اویا به کی ، جی ، بی هغه وخت اړیکی ورسره ټینګی کړی اودکی ، جی ، بی په حلقه کی به ونښتی چی دکوم افغانی محصل سره به یی واده وکړ .

همدارنګه دظاهردتولواکی په دوره کی تولو پیلوټانو ، اکثریت مدافعه هوایي اودنورو نظامی مسلکونو زیات شمیر پرسونل ښوونه اوروزنه په روس کی ترسره کیده.هغه نظامی اوغیر نظامی محصلین اوفارغان به چی په روس کی په مستقیم ډول سره کی ، جی ، بی ته جذب نه شول نوپه روانی لحاظ به یی دی ته تیارکړی ووچی په غیر شعوری ډول سره دروس اوکمونیزم ستاینه وکړی دیوی خواخوپه روس کی دټولو بهرنیو هیوادونو محصلینو لپاره شخصی تجارت ازاد ؤ اویو شمیر اجناسوته یی په قاچاقی ډول هم اجازه ورکوله اودبلی خوا دانوی ځوانان به یی په پیغلو اوښځو باندی تردی حده مصروف اومست کړل

چې وطن خولاخه چې ځانونه به ترې هیرشول اوپه اصطلاح دیپلوم خویې گرنتي شوې مال ۇ نوکله به چې داځوانان بیرته افغانستان ته راغلل دخصلت اوروان له اړخه به دافغاني ټولنې څخه پردي اوبیگانه خلك ترې جوړشوي وو.دد وی دخبروعمده لوری په شعوری اوغیر شعوری ډول سره دکمونیزم ستاینه اودهغه مخالف جنس په اړوند ۇ دکومو سره چې به یې دحیوانیت جنسي اړیکې قایمې کړې وې نودافغانستان هغه ځوانان چې روس یې په خپلو سترگو نه ۇ لیدلې ، په خیالي ډول سره به په روسانو اودهغوی دحیوانیت په جنسي اړیکو باندې شیدااوعاشق شول اوځوانی احساساتو دتسکین پخاطر په افغانستان کی روسی ټولنې ته ورته ټولنې دجوړولو ارزوگانو یې دشیطان په څیر ځانونه وتوختول ، په عسکری قواؤ کی دروسی مشاورینو شته والی اوپه روس پورې دوسلو اونظامی تجهیزاتو منحصرکیدل بل هغه عامل ۇ چې افغاني ټولنه یې دپاڼ خواته کشوله اودکی ، جی ، بی دشومو پلانونو دعملی کولو لپاره یې مناسب شرایط برابرول.

کی ، جی ، بی دسفارت له لارې وکولای شول چې د۱۳٤۳هـ ش کال څخه پخوا په پټه اومخفی ډول سره په افغانستان کی یو شمیر دموکراتیکو (کمونستي) حلقو په نوم ډلې جوړې کړي (کی ، جی ، بی په بهرنیو هیوادونو کی دمزدوروسیاسی ډلو جوړولو اودهغوی له لارې دخپلو انسانی ضد پلانونو دعملی کولو پخاطر مخصوصي څانگې لري).

په دغه تاریخي پړاو کی دافغانستان په زیاترو ولایتونو کی دفابریکو اوکارخانو نشتي نه لیدل کیدې اودهیواد ترټولو زیات اوسیدونکي په





کرهنه اومالداری لگیاوو ، دکرنی اومالداری سیستم اووسایلوابتدایي بڼه درلوده خودهیواد په کوټو شمارولایتونو اوکابل کی دصنعت (فابریکو) ذرې زرغون شوی ۇ اما دهیوادوالو دارتیاؤ له پوره کولو څخه عاجز ۇ اواکثریت پاخه مواد (صنعتي تولیدات) دخامو موادو په بدل کې دبهر څخه واریدیدل.دحکومت طرز شاهی مطلقه ۇ اودولت ټولواك پاچا اودهغه کورنی په لاس کی متمرکز کړی ۇ خو حکومت خورا کمزوری ۇ پاچا اودهغه کورنی دقومونواوقبایلوسمخالفت څخه ډیرپه ویره کی وو ځکه یې دقومونو اوقبایلو له مشرانو ، خانانو ، نامتو اشخاصو اوبعضو بانفوذه روحانیونو سره دنرمی اوراشه دزشه څخه کار اخیسته اوپه مخصوصوامتیازاتو ورته قایل وو په داسی حال کی چی دولس سره یې له دیکتاتوری اوبیروکراتیك چلند څخه استفاده کوله . واسونو دولت کتواومرستي ته سترگی نه غړولی بلکی دهغه له ظلم اوبیروکراسی څخه په ویره اودار کی وو .

غیردولتي جریدې ، مجلې اونور نشرات ، سیاسي گوندونه اوسازمانونه ، مظاهری اواعتصابونه منع وو ، دهیواد په زیاترو ولایتونو کی دبکلوریاپه سویه تحصیلات هم نه ترسرهکیدل اولیسی نه وې پرانیستل شوی خودکابل په ښار کی «کابل پوهنتون » وروپه ورو دسیاسی فعالیتونو دمرکز حیثیت ځانته اختیاراوه . دبهرنی سیاست په اړوند په دې تاریخي پړاوکی دیوی خوا دامریکامتحده ایالاتو دافغانستان شاهی دولت ته دزیاتواقتصادي اړیکوبرقرارولو اومرستي ورکولو څخه ډډه وکړه اوبلې خوا دمحمد داؤد دصدراعظمی لس کلنه دوره اویو شمیر نورعوامل ددې باعث شول چی افغانستان په اقتصادی اونظامی ساحو کی لانور دروسانو تر

نفوذ لاندې راشي اوکی ، جی ، بی، خپلی استخباراتی شبکی پراخی کړی .

په ۱۳۴۳هـ ش کال کی نوی اساسی قانون تصویب اوخپورشوځرنګه چی په دغه اساسي قانون کی سیاسی فعالیتونواوډګوندونو جوړولو اوفعالیت ته اجازه ورکړل شوی وه نوکی ، جی ، بی، بی له ځنده پخپل لاس جوړوشویوډلوته دستورورکړچی باید ټولی په کډه سره واحد سازمان جوړکړی .

نود۱۳۴۳ هـ ش کال دثور په یوولسمه نیټه دنکرشویو ډلو نمایندګانو دنورمحمد تره کی په شخصی کوړکچی دکابل ښار په څلورمه کارته کی یی موقعیت درلود غونډه جوړه کړه‌ددی غونډی په نتیجه کی یی دخلك دموکراتیك جریان په نوم سازمان چی بیا وروسته یی دخلك دموکراتیك ګوند په نوم وباله ، تاسیس کړاوپه ظاهره یی دهغه اساسنامه اوبرنامه جوړه اودمرکزی کمیتی غړی یی تعین کړل تره کی دنوموړی سازمان عمومی منشی اوببرك کارمل یی دمرکزی کمیتی منشی په توګه وټاکل یا په بل عبارت تره کی دګوند رئیس اوکارمل یی دهغه دمعاون په صفت تعین کړل .

(په نوموړی غونډه کی داشتراك کوونکو له جملې څخه تره کی اوکارمل ددوومختلفو حلقو دنماینده ګانو له جملی څخه ؤ .)

د۱۳۴٦ هـ ش کال انشعاب څخه وروسته په پرچمیانو ډیل چی تره کی درهبری اهلیت اولیاقت نه درلود خوځرنګه چی دسن په لحاظ ترټولو مشرو نوځکه یی هغه دعمومی منشی په حیث وټاکه په داسی حال کی چی خلقیانو دتره کی دغه ټاکنه دهغه مسلم حق باله.

دغه سازمان دخلق په نوم جریده نشر ته وسپارله اوپه لمړی اودوهمه





ګنه کی یی په ظاهره خپل مرام خپورکړ خوبیا لږڅه وروسته ذکرشوی جریده نشرنه شوه .

کی ، جی ، بی دخپلی پخوانی تجربی له مخی دغو اجنټانو ته دستورورکرچی خپلو فعالیتونو ته په فرهنګی ( پوهنتونونو ، ښوونځیو ...) کارګری اونورو دولتی موسسو اوپه عمومی ډول سره پرځان باندی دځوانانو راټولولوته پراختیا اوګرځندیتوب ورکړی ځکه چی ځوانان ترټولو احساساتی اوزرمشتعل اوډوکه کیږي.نوموړی سازمان په مظاهرو، متنګونو اوانفرادی تبلیغ جلب اوجذب پیل وکړ .

خودډیر کالو په جریان کی ځرګنده شوه چی دروسانو په مزدورانو باندی لګه ځنګه چی ارزوبی درلوده څوك راټول نه شول نوکی ،جی ، بی دبل تاکتیك څخه کاراخیست هغه داچی خپل اجنټان (تره کی اوکارمل ) یی دی ته ارکړل چی باید نوموړی ګوند په دوو برخو وویشی هغه ؤ چی په ۱۳۴٦ هـ ش کال کی ذکرشوی ګوند په دوو‌ډلو وویشل شو دیوی ډلی په راس کی تره کی اودبلی په راس کی کارمل تعین شو دتره کی په ډله کی اکثریت پښتانه اودکارمل په ډله کی تاجکو اونورو ملیتونو اکثریت جوړاوه.کله چی په ۱۳۴٦ هـ ش کال کی دخلك دموکراتیك جریان دخلق اوپرچم په ډلوویشل شو ، څو میاشتی وروسته دپرچم ډله بیاپه دوو ډلو تقسیم شوه چی دیوی ډلی په راس کی کارمل انتصاب شو اودبلی په راس کی طاهر بدخشی قرار ونیوه خوطاهر بدخشي په ۱۳۵۸ هـ ش کال کی دحفیظ الله امین په دستور په بندیخانه کی ووژل شو.دبدخشی ډله وروسته د« ستم ملی » په نوم مشهوره شوه (دغه ډله اوس دکابل په مزدور رژیم اوپه اصطلاح څوګوندیزسیستم کی فعاله برخه لري اودخلقیانواوپرچمیانوسره ځنګ

په څنګ په افغانستان کې دروسانو استعماري پلانونه عملي کوي ).
دروسانو دا پلان څکه په کتبه تمام شو چې خلقیانو، پرچمیانواوستمیانو(دطاهربدخشي ډلې) دنوبو غړوجلب اوجذب طریقه دملیت ، ژبې اومنطقوي تضادونو څخه په بده ګټه اخستلو سره پیل کړه نوپه هغه سویه چې ظاهراً یې په خپرونو اوتبلیغاتو کې په یاد شویوساحو (ژبې ، ملیت ، منطقې )کې دتضاد اواختلاف څخه نفرت ښکاره کاوه په عمل کې یې په همغه اندازه ورڅخه بده ګټه اخستلو ترڅې نن پورې دوام وکړ .
( کله چې دنوموړو ډلو دغړو کمیت زیات شو «کې ، جي ، بي » ددغوډلو دمحدودواومهمو غړو سره مستقیمې اړیکې درلودې ).
دکارمل ډلې وکولې شول چې دپرچم په نوم جریده نشر کړي خودخوګنو دچاپ اونشر کیدو څخه وروسته یې نشرات بند شول .
دغو دوومزدورډلو هرې یوې ځان دخلک دموکراتیک جریان باله خوکله به یې چې په بعضو جریدو کې نشرات کول نودتره کي اوکارمل ډلو توپیر په دې کیده چې دتره کي ډله به یې (جریان دموکراتیک خلق « خلق »)اودکارمل ډله به یې دهخلق دموکراتیک جریان » ( په اخیر یااول کې به دافغانستان نوم هم ورزیات شوی ؤ ) په نومونو نشر کول .دتره کي اوکارمل دواړو ډلو ادعاکوله چې ددوی مرام ده خلق» جریدې په اوله اوبوهمه ګڼه کې خپورشوی دی اوپه هغه کې یې ستراتیژیک اوغایې هدفونه څرګندکړي دي
خو دتره کي ډلې ددغه مرام ستراتیژیک هدف لکه څنګه چې دخلق جریدې په اوله اوبوهمه ګڼه کې خپورشوی ؤ نه تشریح کاوه ، هغوی دخپلې مرکزي کمیټې په یو شمیر نشراتي پاڼو کې اوهم په تقریري





بولې سره خپل ستراتیژیک هدف دخلقي دموکراسي ( کمونستان خلقي دموکراسي دپرولتاریا یادیکتاتوري یوه څیره بولې اوپرولتاریا دیکتاتوري دکمونیزم پیلامه ګڼي ) دقایمولو له لارې کمونیزم ته رسیدلو تبلیغ کاوه اودکارمل ډلې ته به یې ویل چې دادسرمایه دارانو اواشرافیانو نمایندګان دي .
دتره کي ډلې په دې اړوند یو دلیل داسې څرګنداوه چې دکارمل ډله دستراتیژیک هدف په حیث دملي دموکراسي دولت قایمول غواړي اودااول دولت یې دسرمایه دارانو اواشرافیانو دولت باله خو کله چې د ۱۳۵۷ هـ ش کال کودتاد تره کي اوکارمل ډلو له خوا رامنځ ته شوه نو په عمل او ماهیت کې ترهمدې نن پورې ټول په یوه لاره ولاړل هغه داچې دوی ټول سیاسي قدرت په خپلو لاسونو کې متمرکز کړ اودملي دموکراسي دولت نښې په عمل کې ونه لیدل شوې .
په ۱۳۵۰ هـ ش کال کې دتره کي په ډله کې انشعاب رامنځ ته شو ظاهر «افق » چې دتره کي ډلې دمرکزي کمیټې غړی ؤ دنوموړې ډلې څخه ووت او یو شمیر غړي یې ترې جدا کړل خو «افق » دتره کي له ډلې څخه جدا شوي ټول افراد له ځان سره ونه شول ساتلی اواکثریت یې دکارمل ډلې ته ورغلل . دتره کي ډلې به دافق ډله پټ پرچمیان بلل خو په هغه وخت کې دافق ډله ده ملیانو » (ملیان ) په نوم مشهوره شوه دغې ډلې څکه په دې نوم شهرت پیداکړ چې دافق ډلې به دتره کي په ډله پسې ویل چې دغه ډله دخلق جریدې په اوله اوبوهمه ګڼه کې خپور شوی مرام په غلطه خلقي دموکراسي بولي ، دوی (دافق ډلې ) ادعا کوله چې په نوموړي مرام کې دستراتیژیک هدف په حیث دملي دموکراسي دولت قایم کیدل درج شوي دي .

دافق ډله په۱۳٦٥ هـ ش کال کې دخلك دموکراتيك ګوند سره چې روسانو دافغانستان سياسي قدرت په لاس کې ورکړی ؤ يو ځای شوه افق اودافق يو شمير ملګرو ته يې دخلق اوپرچم ډلو (دخلك دموکراتيك ګوند ) په مرکزي کميټه کې ځای ورکړ اونوره ډله يې دنوموړي ګوند په صفونو کې مدغمه شوه .

دنوموړو ډلو اوهم نوروخلکو اوګوندونو ترمنځ دتره کي ډله دخلق يا خلقيانو اودکارمل ډله دپرچم يا پرچميانو په نومونو مشهوري شوي خو په واقعيت کې خلق اوپرچم دنکرشويو جريدو نومونه دي اما کله ناکله به دتره کي ډلي دکارمل ډلې ته کارمليان يا ببرکيان اودکارمل ډلې به دتره کي ډله تره کيان بلل .

د۱۳٤۳ هـ ش کال څخه وروسته زيات شمير ګوندونه رامنځ ته شول چې دهغې جملې څخه دماؤيستانو ډله هم وه چې دچينی استخباراتو په واسطه سره د«حزب دموکرات نوين» په نوم جوړه او دشعله جاويد په نوم يې جريده خپره کړه وروسته داډله دشعله جاويد يا شعله يانو په نوم مشهوره شوه.

همدارنګه په دې وخت کې د«جوانان مسلمان » په نوم داسلامي تحريك سازمان چې د«اخوان المسلمين » په نوم يې شهرت پيدا کړ، فعاليت کاوه خودهغه وخت دولت له خوا دکومې جريدې دخپرولو اجازه چې ددوی دنشراتی ارګان نماينده کی يې کړي وای نه وه ورکړل شوې په داسې حال کې چې د«ګهيځ » په نوم جريده مستقيماًدجوانان مسلمان نشراتي ارګان نه ؤ خو ډيرې اغيزمنې اسلامي خپرونې يې کولې اوداسې ويل کيدل چې ددغې جريدې کارکوونکو داسلامي تحريك سره کلکې اړيکې لرلې. ددغې جريدې دامتياز خاوند اومسؤل مدير منهاج-





الدين «ګهيځ » ؤ چې د۱۳٥۱ هـ ش کال دسنبلې په ۱٦ مه نيټه دجمعې په شپه پخپل کور کې چې دکابل چهاردهی په ولسوالی کی يې موقعيت درلود شهيد شو خلقيانو پرچميانو اويو شمير نوروډلواواشخاصو دګهيځ قتل داسې تبليغاوه چې نوموړی ماؤيستانو د«سيدال » نومي ماؤيست دانتقام اخستلو په اړوند وواژه .

(«سيدال» په ۱۳٥۰هـ ش کال دکابل پوهنتون په ساحه کې داسلامي تحريك طرفدارانو او ماؤيستانو ترمنځ دلاس اوګريوان جنګ په نتيجه کی ټپي اوبيا وروسته يې په روغتون کی ژوند له لاسه ورکړ )خوداهم دتوجه وړده چې دګهيځ جريدې دخپرونو تيره څوکه دروسانو استعماري ، شيطاني اوالحادي فعاليتونو دافشا اودهغوی دمخ نيوی لاروښودلو ته متوجې وه او روسان يې په سخت تشويش اواندېښنه کی اچولي وو نو روسانو دګهيځ جريدې د اغيزمنتوب دراتيټولو په منظور دمنهاج الدين ګهيځ ترور مناسبه لار بلله . سره ددې چې کی ، چې ، بې په بهرنيو هيوادونو کی دترورلپاره مشخص تروريستان اواجنټان لري خودګهيځ کورنۍ اودهغه ددوميلمنو له جملې څخه يو ميلمه کوم چې ژوندی پاتې شو ، دسترګو ليدلی حالت بيان داپه ګوته کوي چې شايي دمنهاج الدين ګهيځ په قتل کی دروسانو په سفارت کی دکی ، جی ، بی غړو په مستيقم ډول سره برخه اخيستی وي .

په دی برسيره د۱۳٤۳ هـ ش کال څخه وروسته نورسياسي سازمانونه اوډلي هم په علني ډول سره رامنځ ته شوي اوخپل فعاليتونه يې پيل کړل دهغوی له جملې څخه «جمعيت سوسيال دموکرات »چې د«افغان ملت » په نوم يې شهرت پيداکړ ، «جمعيت دموکرات مترقي »چې د«مساوات » په نوم مشهور شو ، « جمعيت عوام » مشهور په

«صدای عوام» ... هم دسیاسی سازمانونو په بڼه راڅرګند شول خو دکابل په ښار کی دکمیت په اړوند دتولو نورو سیاسی سازمانونو یا ګوندونو په تناسب داسلامی تحریك طرفداران، «شعله جاوید»، «خلقیان» او «پرچمیان» ډیر څرګندیدل . دافغان ملت په نوم سیاسی سازمان هم په خپو پرخو وویشل شو اوروی ډلی یی دملت په نوم جریده خپروله خو دځه وړدی وروسته یی خپریدل بند شول په داسی حال کی چی بلی ډلی یی د «افغان ملت» په نوم جریده خپروله اوبظاهرشاه پاچاهی تراخیرو پوری یی خپرونی جاری وی ، پردی برسیره نوری غیر دولتی مستقلی جریدی چی په کوم سیاسی سازمان پوری نه وی تړلی هم خپریدی .

دخلق اوپرچم ډلی چی په ۱۳٤٦ هـ ش کال کی دیو اوبل څخه جداشوی هیڅ یوی ډلی هم په منطقی اوقناعت ښوونکی ډول سره دانشعاب عوامل نه شول څرګندولای او دواړو ډلو په علنی اوڅرګندډول سره دایو مترقی اووطن پالونکی عمل باله چی دروسانو لارښوونه (په واقعیت کی دستور) عملی کوی اوهری ډلی دبلی په نسبت پردی باندی ځان مترقی اوغوره ګڼله چی دروسانو سره نږدی اړیکی لری اودواړو ډلو په ډیر ځله ددی پرسرجنجال وُ چی یوی به ویل روسانو ته موږنږدی اوموږیی په رسمیت پیژندلی یو اما بلی به ویل چی موږ ته تریل هرچازیات اهمیت راکوی اوپه رسمیت موپیژنی.په واقعیت کی په دی اړوند دواړو ډلو رښتیا ویل اودواړو ډلو نږدی اړیکی ورسره درلودی اما «کی ، جی ، بی» دیو اوبل اړیکو څخه بی خبره ساتلی وو.

روسانو به دتره کی ډلی ته ویل چی موږپرتاسو ترتولو زیات اعتماد





لرو اوبیره مینه موږسره ده ځکه چی دتاسو په ګوند کی غریبان اواطرافیان ډیر دی او موږخوداوله تراخیره دداسی غریبانو ملاتړیو اما دکارمل ډلی ته به یی په دی قناعت ورکاوه چی موږ(روسان) ځکه دستاسو سره ډیره خواخوږی اومحبت لرو اوتریل هرچاډیراهمیت درکووچی تاسو نسبت نورو ته باکلتوره ، هوښیار اواکثریت دهغه محیط (ښار) ځوانان په دغه ګوند کی سره راټول شوی یاست چی انقلاب به له همدغسی ځای څخه پیل کوی .

دی ته ورته پروسه ترهمدی نن پوری روانه ده اودهری ډلی دمهمو اشخاصو سره پټی اوګوښی اړیکی ساتی اودخپلی خوښی سره سم یی په رقص راولی .

که چیری څوك دنوموړو ډلو دحالت څخه ډیره کمه خبرتیا هم ولری نو په دی کی به تردید ونلری چی دذکر شویو ډلو په نظر روسانو ته جاسوسی یوعالی اومترقی عمل ګڼل کیږی اوورسره مخالفت اویا دهرهغه ډول اړیکو تینګولو څخه چی روسان یی غوښتونکي دی ، ډیره کولو ته یو ارتجاعی عمل وایی.دغو ډلو ته دانده مطرح چی روسانو ته جاسوسی کول نه یواځی داچی داسلام ، وطن ، ناموس ، پت اوعزت سوداګری ده بلکی دنوموړو دوو ډلو (خلق اوپرچم) رقابت تردی وخته پوری په دی ټکی دی چی نسبت بلی ډلی ته په روسانو ځانونه ومنی اواوږمقامونه ورته وسپاری هره ډله اوږی ورنږدی کوی ، اشاری ورته کوی دلایل ورته راوړی اوحتی بغاوتونه کوی خو «کی ، جی ، بی» ته داثابتوی چی دبلی ډلی په نسبت ښه باروړلی شی.اصلی مطلب داندی چی دلته داثابته شی چی خلقیان اوپرچمیان د «کی ، جی ، بی» جاسوسان دی اوهرڅه یی دروسانو په دستور ترسره کړل اوکوی

يي . دامطلب دوي پخپله هم نه ردوي اودخپلي تگ لاري سره يي ترلي بولي بلکي هدف دادي چي ددغو پيښو اوتجربو څخه بايد اوسني اوراتلونکي نسل کته واخلي اوداتريخ درس په راتلونکي توگه انيزه تگ لاره کي مثبت رول ولوبولي شي اوددغو اسلام ، وطن انسانيت اوعزت تباه کوونکو کړو وړو له تکرارڅخه مخ نيوي وشي نوځکه دا ضرور ده چي :

ددي لپاره چي دتولني راتلونکي اسلامي اوداسلامي خاوري دساتلو ، ترقي اوانسانيت تگ لاره په عملي اوحقيقي ډول سره تعين اوپيژنو بايد دتولني په تيرشوي تاريخ باندي هغسي پوه شو لکه څنگه چي په واقعيت او حقيقت کي ږ اودي .

ذکرشوي دلو(خلقيانواوپرچميانو) دمحمد ظاهرdتولواکي په زمانه کي دروسانو دسفارت له لاري دتولتي بورسونو ( چانسونو ) په نوم يو شمير غريي په منظم ډول سره روسيي ته دتحصيل لپاره ليږل چي په ظاهره به يي دعلومو په يوه څانگه کي تحصيلات پرمخ بيول اما په واقعيت کي ده کي ، جي ، بي » ترخطر ناکي ښووني اوروزني لاندي نيول کيدل چي په نتيجه کي يي زموږاسلامي خاوره اوجنت نشان وطن ده کي ، جي ، بي په جلادانو بدل کړ.

دظاهر شاه تولواکي په وروستيو کلونو کي په ټول هيواد کي زيات شمير ابتدايي ، متوسطو اوثانوي تحصيلاتو لپاره ښوونځي پرانستل شول خودکابل ښار ديو شمير ښوونځيو څخه پرته نور ټول ښوونځي دعالي تحصيلاتو لرونکو ښوونکو ، کافي درسي کتابونو ، دښوونځيو ودانيو اولابراتوارونو څخه بي برخي وو ، په دي برسيره انارشي او زياتو مظاهرو او اعتصابونو دمحصلينو او زده کوونکو دزده کړي





پروسه اخلالوله.دثانوي دوري يعني ددولسمو ټولگيو فارغانو له جملي څخه کم شمير پوهنځيو ته جذبيدل اوپه محدوده اندازه دولتي کارونوته درسمي مامورينو په ډول قبليدل خو اکثريت يي په خپلو کورونو کي بيکاره پاتي کيدل اوپه دولسوکالونو په بهير کي يي په بزگرۍ اونورو عادي کسبونو باندي دمصروفيت اوکارکولو روحيه له لاسه ورکړې وه .

همدارنگه بهرنيو هيوادونو ته دتلو امکانات هم کم اوپرابلمونو څخه ډک وو په دي ډول سره په دغو بي کاره فارغانو کي دولتي ضد اوچپه افراطي روحيه لانوره هم قوي شوه.دولسونو هم هغه په زړه پوري والي چي دښوونځيو سره يي پيدا کړي ؤ اوپه اکثريت منطقو کي يي په خپلو مصارفو سره دښوونځيو وداني ابادي کړي وي ، ورو په ورو له لاسه ورکاوه.په عمومي ډول سره دولسونو اقتصادي وضعي دردوونکي حالت درلود ، بيروکراسي لانوره هم مخ په زياتيدو وه او افغاني تولنه ديوي نامعلومي اينده لوري ته په حرکت کي وه .

دبريژنف په دوره کي په وروسته پاتي ساتل شويو هيوادونو کي دروسانو استعماري نفوذ اوتسلط طريقي داسي بڼه غوره کړه چي په دغو هيوادونو کي بايد کودتاگانو ته سازمان ورکړل شي او وروسته په سياسي ، اقتصادي ، ايديالوژيکي اوتولنيزوساحو کي ترهغو پوري نفوذ وشي ترڅو چي په بشپړ ډول سره يي ترخپل تسلط اواقتدارلاندي راولي.په رښتيا چي دادنوي استعماريله خطرناکه څيره وه اوده .

څرنگه چي دمحمد ظاهراومحمد داؤد په اردو کي دپښتنو افسرانو شميرنسبت نورو مليتونو ته زيات ؤ« کي ، جي ، بي » خلقيان په دي وگمارل چي بايد په پټه اوخورا احتياط سره په اردو کي جلب اوجذب

پیل کړی ځکه چې دخلقیانو اکثریت پښتنو جوړاوه او په اردو کې واره ظابطان اوټیټ رتبه صاحب منصبان ددوی دجلب اوجذب لپاره دتولو نورو سازمانونو اوډلو په نسبت ښه مساعد او تیاروو اوپرچمیانو ته یې په دې اړوند داسې دستور ورکړچې په اردو کې جلب اوجذب په هغومره احتیاط اوزرنګی سره باید اجراشي چې په هیڅ صورت افشا نشي اوپرچمیانو زیاته توجه باید دکورنیو چارو وزارت په اړوند صورت ونیسي. دظاهرپه تولواکۍ کې خلقیانو اوپرچمیانو دې کارته دوام ورکړخو دمحمد داؤد له کودتا څخه وروسته دواړو ډلو ته دستورورکړل شو چې په اردو اوځارندوی (پولیس) کې دجلب اوجذب فعالیتونو ته په خوراشدت اوګرندیتوب سره دوام ورکړی اونور نو « کې ، جي ، بي » په افغانستان کې دخپل تسلط اصلي لاره په اردو کې دخلق اوپرچم دډلو نفوذ اوکودتا وټاکله .

دپرچم اوخلق ډلو دد اوږد خپل سرې رژیم په ټوله دوره کې نیمه علني فعالیت درلود لاکن دظاهردتولواکۍ په دوره کې یې په ملکي ساحه کې په بشپړډول سره علني فعالیت کاوه‌دوی‌دظاهراوداؤد په دوروکې یوشمیر ملکي اونظامي غړوته په داسې پټ ډول سازمان ورکړ چې دهغوی دارتباطي غړو څخه پرته بل چاته نه وڅرګند.

لکه څرنګه چې پورته هم ذکرشول « کې ، جي ، بي » دخلق اوپرچم ډلو ټول غړي په مستقیم ډول سره داجنټانو په ډول نه وو استخدام کړي بلکې له مهمو اشخاصو خصوصاً درهبری اکثریت غړو اویوشمیر افسرانو سره یې مستقیمې اړیکی درلودې داچې دپرچم اوخلق ډلو غړیتوب دیو شمیر ځوانانو دقبول وړوګرځید علت یې دهغه وخت خاص شرایط اووضعه وه نودغو ډلو ته دیو شمیر ځوانانو





پورتللوعوامل زیات دي خومهمو ته یې په لاندې ډول سره اشاره کیږي:

۱:- په هیوادکې دیني زده کړې ته ددولت لخوا لازمه پاملرنه نه کیدل: په عمومي ډول سره ددوی نسل لپاره ددیني زده کړې پروسه خورا کمزوري وه .

دیوې خوا دافغانستان په اکثریت کلیو اوبانډوکې هغودیني علماؤ امامت اوپه عین حال کې ددیني تدریس چارې په غاړه درلودې چې پخپله یې په دې باره کې لازمه تجربه نه درلوده اودبله طرفه دلیسو ددیني مضامینو لپاره داسې استاذان (داستثنا په ساتلوسره) استخدام کیدل چې دپوهې سطحه به یې نسبتاً ټیټه‌ومحافظه کاران وو . دهغو زده کوونکو په مقابل کې کومو چې دماتریالیستي نظریې څخه دفاع کوله بې تفاوته اوکه احیاناً دهغوی په ردکې به یې کومې خبرې وکړې هغومره به غیرموثرې وې چې نه ویل به یې بهتروو . په دیني مضامینو کې اصلاًناکامی وجود نه درلود ځکه خو زده کوونکی ددې لارې څخه دهغوی زده کړې ته نه هڅول کیدل ، په ځینو مکتبونو اولیلیو کې ملا امامانو وجودنه درلود اوپوهنتونونه خواصلاً ددیني مضامینو دتدریس له عمومیت څخه بې برخې ؤ دپوهنتونونو ساحې داسې زهرجنې فضاً اشغال کړې وې چې دین ته پاملرنه دعقب ماندګی ، اطرافیت اونادانی په مثابه تعبیریدۀ اومحمد ظاهر په دې پوهیده چې که چیرې داسلام دین هغو علماؤ ته موقع په لاس ورکړی کوم چې پوه اوزښتیني دیني علما دي نو هغوی داقدرت په ځان کې لري چې ددوی نسل دعقیدې اوفعالیت لورې دبې دیني اوبالاخره دمحمد ظاهر دسیاسي ، اقتصادي اوکلتوری تګ لارې څخه داسلام

اووطن دهرارخيزي پرمختيا اوترقي لارې ته راوګرځوي او نوی نسل به په هغه صورت کی وکولی شی چی دافغانستان مسلمان ولس په حرکت راولی اوبيا به دمحمد ظاهر اميبايی اقتصادی خوځښت ترپښو لاندی اودسيلابونو په شان به داسلام ترپيرغ لاندی سياسی ، اقتصادی ، اوکلتوری غورځنګونه پيل شی .

۲:- اقتصادی وروسته پاتی والی او دبيروکراسی شدت :

ديوی خوا خو دانوي ځوانان چی دنويو ساينسی اوتولنيزو علومو سره يی څه ناڅه اشنايی پيداکړی وه اواقتصادی فشاريی په مستقيم ډول سره په خپل وجودکی احساساوه اوبلی خوا دمحمد ظاهردولتی بيروکراسی ددغو ټولو رنځونو دموجوديت دعواملو ديوه اساسی اوتحريك کوونکی عامل په بڼه څرګنديده نوځکه يی ځوانان دګرندی بدلون اوفاجعی په لوری ورکش کړل .

۳: انارشی:

په ښوونځيو ، پوهنتونونو اوليليو کی انارشی اوخپل سری دی حد ته رسيدلی وه چی دزده کوونکو اومحصلينو ګروپی اوانفرادی کړه وړه استاذان اوښوونکی تر بدی اغيزی لاندی راوستلی وااودولتی لوړو ارګانونو له خوا داستاذانو اوښوونکو هغه حقوق اوصلاحيتونه چی نوخت قوانينو له خوا په نامکمل ډول سره ورکړل شوی و ودفاع اوحمايت نه کيده اوپو شمير ضعيف النفسه اوپرځان نامتکی اوبی همته زده کوونکی اومحصلين دخلق اوپرچم دبی دينه اووطن پلورونکو ډلوډول ډول فشارونو په وجه ددوی څخه دفاع پيل او دهغوی غړيتوب يی قبول کړ. په هغو ښوونځيو اوليليو کی چی دخلقيانواوپرچميانو کميت نسبتاًزيات ؤ دبی طرفه اونورو سياسی سازمانونو غړيو ته به





يی ددوی په پيش قابونو (پليتونو) کی خاوری وراچولی ، فزيکی برخوردونه به يی ورسره کول ، تهديدول به يي اوډول ډول پرابلمونه به يي ورته ايجادول ترڅو هغوی دی ته مجبورکړی چی دخلق اوپرچم دډلوغړيتوب قبول کړی.همدارنګه په يوشمير ښوونځيو اونوروفرهنګی مؤسسوکی به يی بی طرفان په زور او تهديد سره مظاهری اواعتصاب کولو ته مجبورول . پردی برسيره خلقی اوپرچمی ښوونکو او استاذانو به دناکامولو او يا کمونمرو ورکولو له لاری زده کوونکی او محصلين دخپلو ډلو غړيتوب منلو ته مجبورول خو هغوی چی ددی مصيبت راوړونکی وضعی دمثبت تغير امکانات ورسره موجود وولازم اقدامات ترسره نکړل .

په ۱۳۵۰ هـ ش کال کی دافغانستان پخوانی پاچا محمد ظاهردپکتيا ولايت مرکزګرديز په هوايی ډګر کی دهليکوپترڅخه راښکته شو اودګرديز ښاردهغوښاريانوزده کوونکو اوماموريتو په مخ کی يی پلی حرکت پيل کړ کوم چی دده دهرکلی لپاره راوستل شوی وو په دی وخت کی دعبدالحی ګرديزی ليليی يوشمير زده کوونکو لخوا په هغو کانواوشګو وويشتل شو کوم چی دګلپانوسره يی ګوکړی وو محمد ظاهرچی ديوی خوايی سر لوڅ ؤ اودبلی خوايی ويښتان نه درلودل خپل لاسونه پخپل سرکيښودل خوبيا هم چاره ونشوه لږڅه وروسته هغه جنرال چی په څنګ کی ورسره روان ؤ خپله خولی دده پرسر ورکيښوده اوپه کرنديتوب سره يی بيرته هليکوپترته ځان ورساوه اوکابل ته ولاړ.ددغی پيښی څخه وروسته بيا دمحمد ظاهر دپاچاهی ترنسکوريدو پوری دګرديز په ښارکی دمحمد ظاهر په دستوردخلقيانو اوپرچميانو لپاره يو شميرخندونه پيدا شول چی په نتيجه کی يی د

مظاهری په رابطه جرئت له لاسه ورکړ.دی څرګندونې څخه مطلب دادی چی محمد ظاهرداسی امکانات درلودل چی باید په افغانستان کی یې د کی ، جی ، بی ریښې نه یوازې داچی زغولو ته نه وای پرېښودلی بلکه هغه یې لندی اوقطع کړی وای اونوموړی انارشی په ماهیت اوحقیقت کی ددیکتاتوری زوراوجبر بل شکل ؤ چی په نتیجه کی یې ناوړه عواقب پرځای پرېښودل.

٤:- دځوانانو دعلمی اوشعوری سطحی ټیټ والی بل هغه عامل ؤ چی په ډیره اسانی سره بدی لاری ته منحرف کیدای شول دوی دساینسی اوټولنیزو علومو څخه یوازی هغومره زده کړی وو چی دمنحرف کیدولپاره بنه تیارشوی وو.

٥:- دروس فارغ التحصلانو اوپه روس کی دافغانی محصلینو ( په کال کی به یو یا دوه واری په رخصتی راتلل ) شعوری اوغیر شعوری تبلیغ اودکمونیزم خیالی افسانو اودحیوانیت جنسی اړیکو بیان دافغانی ځوانانو په روحیه کی منفی بدلونونه رامنځ ته کړل اودخلق اوپرچم دلو کی شـامل کیدل یې دنـومـوړو افسـانو اوواقعیـتونو ( دحیوانیت جنسی اړیکی ) عملی کیدل بهترینه لاروبلله .

٦:- دلیلیو په بڼه دیو شمیر زده کوونکو اومحصلینو ژوند :

سره له دی چی دلیلیو په بڼه دزده کوونکو اومحصلینو ژوند دنیکو او عالی خصلتونو اونظریاتو دکسب په اړوند مناسب چاپیریال کیدای شی اما دهغو خاصو شرایطو په وجه چی موجود وو دپرچم اوخلق دلو دفعالیت ، جلب اوجذب لپاره یې په زړه پوری شرایط برابر کړی وو .

٧:- دغه دلی دسن اوجنس داختلاف اوپه غیر اخلاقی توګه دسازمان ورکولو په وجه دیو شمیر ځوانانو لپاره دسرګرمی اوامانوری





مبارزی سازمانونه وګرځیدل اونوموړی دلی یې دکمیت په لحاظ تقویه ګړنی .

دمحمد ظاهر دسلطنت په وروستیو کی دافغانستان اقتصادی اوسیاسی وضعی لانورکړکیچن حالت غوره کړ . ظاهرشاه ددغه حالت څخه دنجات او وتلو په خاطر یوه پیاوړی صدراعظم ته اړتیا احساس کړه ده ددی کار لپاره ،محمد موسیٰ شفیق بهترین شخص وُباله نو ځکه یې هغه فرایو اخستلو لپاره ولسی جرګی ته دنامزد صدراعظم په توګه معرفی کړ . ولسی جرګی نوموړی د١٣٥١ هـ ش کال دقوس په ١٦ نیټه دصدراعظم په توګه انتخاب کړ . شفیق دهیواد داقتصادی اوسیاسی وضعی سمون په خاطر یو سلسله جدی اقداماتوته لاس واچاوه چی نسبتاً ښی نتیجی یې هم تر لاسه کړی خو دشفیق له صدراعظمی اودهغه له کړو وړو سره روسان اودهغو طرفداران (خلقیان اوپرچمیان ...) موافق نه وو اود صدراعظم په توګه یې دشفیق موجودیت دخپلو کټو اواهدافو سره په تضاد کی ارزیابی کړ.

روسانو ، پرچمیانواوخلقیانو دشفیق پرضد تبلیغات اودسیسی پیل کړی.خلقیانواوپرچمیانو دشفیق په اړوند ویل چی هغه داسلامی تحریک سره ټینګي اړیکی لری اوغواړی په افغانستان کی دهغوی اهدافوته عملی جامه ورواغوندی.داؤد چی لس کاله په کور ناست ؤ دافغانستان سیاسی اقتصادی اوټولنیز حالات یي تر نظر لاندی لرل، په دی وخت کی داؤد له یوی خوا دشفیق له کړو وړو سره مخالف ؤ اودبلی خوا یی حالات داسی وګڼل چی دافغانستان په راتلونکی سیاست کی یی له کودتا څخه پرته په مستقیم ډول سره دبرخی اخستلو امکانات له لاسه ورکړی.په زړه پوری تکي داهم دی چی داؤد ته دلومړي ځل لپاره د١٣٥٢ هـ ش کال دسرطان ٢٦ نیټی کودتاچیانو له خوادکودتا کولو وړاندیزوشو اوداؤد له خوا دقبول وړوګرځید.

# دمحمد داؤد دخپل سری رژيم په وخت کی د «کی ، جی ، بی» کړه وړه

## (۱۳۵۲ - ۱۳۵۷ هـ ش)

په ۱۳۵۲ هـ ش کال دسرطان مياشتی په ۲٦ نيټه دشپی له طرفه داردو يو شميرافسرانو له خوا کودتا وشوه چی په نتيجه کی يی شاهی نظام رنګ اوپرځای يی جمهوريت اعلان کردغو کودتاچيانو په راس کی محمد داؤد قرار د رلود .

دکودتا په جريان کی دکودتاچيانو له پلی څخه يو مهم اوفعال کودتا چی حبيب الله زرمتی دکابل ښار پل باغ عمومی دپله سره دزرهپوش دچپه کيدوله امله خپل ژوند له لاسه ورکړ .

دغه کودتا چی افسر په زرهپوش دپاسه سپور ؤ او دريور يی دوارخطايی له امله زرهپوش دکابل په درياب کی ورواچاوه اونوموړی کودتاچی ترزرهپوش لاندی ووژل شو برسيره پردی دارګ اړونده ډير کم عسکری محافظين له منځه لاړل .





کودتاچيانو وکولای شول دسرطان په ۲٦ مه شپه چی دکودتا دپيل شپه وه دکابل ښار عسکری قطعات اوجزوتامونه ترخپل کنترول اوقوماندی لاندی راولی .

د۱۳۵۲ هـ ش کال دسرطان د ۲٦ په سهار دافغانستان راديو له څپو څخه دمحمد ظاهر دپاچاهی سقوط او د محمد داؤد درئيس جمهور په توګه قدرت اعلان شو.دمحمد ظاهر ټولو قوماندانانو اوجنرالانو دنوموړی اعلان په اوريدو سره بی له ځنډه دتسليمی اوداؤد ته دجمهور رئيس په صفت دده دټاکنی له امله دټولو ولاياتو څخه دمبارکی تلګرامونه وليږل شول.هغو افسرانو چی په کودتا کی يی اساسی رول ولوباوه دزياترو تحصيلات ياداچی په روس کی ترسره شوی وو او يادخلق اوپرچم ډلو غړي ووپه دی وخت کی محمد ظاهر عموماً هغه قوماندانان او جنرالان حساسو چوکيو اومقامونو ته ګمارلی اومقرر کړی وو چی يا خويی دځان اوظاهر دپاچاهی څخه دفاع روحيه نه درلوده اويا داچی دمقاومت اوميرانی روحيه پخپله ظاهر دخپلې پاچاهی دبقا په خاطر پکی له منځه وړی وه .

ظاهر له دی څخه ويره درلوده چی که چيری په حساسو اولوړو مقامونو باندی داسی قوماندانان مقرر کړی چی هغوي دملي ، خپلواك اواسلامي افكارو خاوندان وي نوده دله منځه تللو سبب يادكودتا عامل به شي .

نوځکه دعسکری قوا ؤ مورال داسی حالت اختيار کړی ؤ چی که هرچا دراديو اوارګ څخه ورته دتسليم اوتيارسی غږکړی وای ددوی لپاره دقبول وړؤ نومحمدظاهرشاه نوموړی عمل چی هرڅومره دخپل اقتدار دساتلو لپاره ترسره کاوه په همغه اندازه يی دځان اواقتدار دله منځه

ورلو مفهوم درلود .

محمد داؤد دکودتا څخه وروسته درئیس جمهور صدراعظم ، دفاع وزیر او دبهرنیو چارو وزارت مقامونه اوچارې په مستقیم ډول سره پخپل لاس کې ونیولې اودحکومت په جوړښت کې یې دپرچم اوخلق ډلو ته هم برخه ورکړه.دخلق اوپرچم ډلو ته په دولت کې برخه ورکول دخلق اوپرچم ډلو سره دګوندونو په سویه په مستقیمه مشوره اوتفاهم کې صورت و نه نیول شو بلکه ددغو ډلوپوشمیرغړی دکودتا دمهمولو بغاړو له جملې څخه وو په دې برسېره «کې ، جي ، بي » لاپخوا یو شمیر اجنټان په د ې ګمارلي ووچې باید داؤد ته ځانونه ډیر ورنږدې کړي. دغواشخاصووکولای شول چې دداؤد دنږدې معتمدینو له جملې څخه وشمیرل شي اوله کودتا څخه وروسته یې لوړې چوکۍ اومقامونه ورته وسپارل.حسن شرق ، دداؤد دصدارت مرستیال ، محمد خان جلالردتجارت وزیر اوشاه محمد دوست دهمدې ډلې له جملې څخه شمیرل کیږي.داؤد دخلقیانو په نسبت په پرچمیانو باندې زیاته تکیه وکړه او یو شمیر مهم وزارتونه یې ورته تسلیم کړل دبیلګې په توګه دکورنیو چارو وزارت یې دفیض محمد په نوم هغسې پرچمي ته وسپاره چې دکې ، جي ، بي سره یې مستقیمي اړیکې درلودې اوکې ، جي ، بي هغه دځوانی دوختو څخه دداؤد په څنګ کې ترخپلې اغیزې لاندې نیولی اوروابط یې ورسره ټینګ کړي وو . دداؤد په لومړۍ کابینه کې دکورنیو چارو وزیر اودسرحداتو وزیر دهغو عسکرې صاحب منصبانو له جملې څخه وو چې داؤد دکوچنۍ توب له وخته په خپل څنګ کې لوی کړي وو اما داؤد په دې نه پوهیده چې دغه دده پخپل لاس روزل شوي بریڅي دکې ، جي ، بي په دوزخي حلقه کې راغلي





دي .

همدا علت ؤ چې داسلامي تحریك مقاومت یې دکې ، جي ، بي په دستور هومره وځاپه څومره چې یې له وس څخه پوره ؤ اومحمد داؤد ته یې اکثریت راپوروونه غلط ورکول ( دداؤد یو خصوصیت داؤ چې داکثریت دولتي اوتولنیزو چارو اوقضایاؤ څخه به یې صرف راپور اخستلو اوپه مستقیم ډول یې ورسره تماس نه ساته ).

دمحمد هاشم میوند وال ( محمد هاشم میوند وال دمحمد ظاهر دپاچاهۍ په دوره کې دصدراعظمي دوره هم تیره کړې.ده دمترقي دموکرات جمعیت په نوم ګوند جوړکراودمساوات په نوم جریده یې هم نشر ته سپارله خودخلکو په منځ کې نوموړي ګوند دمساوات په نوم شهرت پیداکړ اودهغه غړو ته به یې مساواتیان ویل ) له منځه تلل دهمدغې لارې دکې ، جي ، بي په واسطه صورت ونیوه.روسانو دنوموړي په باب داسې تبلیغات کول چې هغه دامریکا متحده ایالاتو سره نږدې اړیکې لري او ورته په غوسه وُ په دې وخت کې داسې امکانات موجود وو چې داؤدبه میوند وال ته په دولت کې مهمه برخه ورکړي اوروسانو دا کار دخپلو ګټو سره په تضاد کې ارزیابي کړ. نوځکه یې دداؤد له کودتا څخه درې میاشتې وروسته دکې ، جي ، بي دهغې توطئې په اساس چې دده دله منځه ورلو پخاطر یې جوړه کړې وه دمحمد داؤد پرضد دکودتا په تور دکابل په ده مزنګ کې بندي اوبیایې دکورنیو چارو وزیر(فیض محمد) له لارې ووژه.ویل کیږي چې صمد اظهر کوم چې دکورنیو چارو په وزارت کې دافسرۍ دنده سرته رسوله دمیوند وال په وژلو کې په مستقیم ډول سره برخه درلوده . صمداظهر دپرچمیانو ډلې غړی ؤ اوهم یې دکې ، جي ، بي سره



ketabton.com

مستقیمی اړیکی پیدا کړی وی . دکورنیو چارو وزیر محمد داؤد ته راپور ورکړ چی میوند وال دخپلی نکتایی په واسطه خپل ځان پخپله وژلی دی .

دزراعت ، تجارت ، کورنیو چارو او یو شمیرنورو وزارتونو مهم مقامونه یی په پرچمیانو اوپرچمیانو ته په متمایلو اشخاصو ډک کړل په همدی وخت کی ؤچی مقام پرستو مرتجع اودون همته روشنفکرانو دخلق خصوصاً پرچم ډلی ته دورتللو اوپه هغوی کی دعضویت حاصلولو بی ساری شدت کسب کړ.کی ، جی ، بی دپرچمیانو رهبری ته دستور ورکړ چی دداؤد څخه په تینکه ملاتړوکړی پرچمیانو همداسی وکړل تردی چی یو شمیر خلکو به داؤد ته دپرچمی خطاب کاوه.

سره ددی چی خلقیانو اودوی پلویانو ته یی هم یو شمیر وزارتونه لکه دسرحداتو اوعالی تحصیلاتو وزارتونه ورکړل شول اوجلب اوجذب امکانات یی لانور مساعد اوزیات شول

خو کی ، جی ، بی » ددی شیوی اوتاکتیك څخه زیاته کټه اخستله چی دواړه ډلی ( خلق اوپرچم ) به یی په یوه رول کی نه استعمالولی نوځکه خلقیانو دپرچمیانو په نسبت دداؤد څخه غیر شدید ملاتړ وکړ اما هغه یی رد نکړ .

دداؤد په واسطه سره درادیو اونورو خپرونو له لاری دافغانستان خلکو ته خطاب دهغی سیاسی ، اقتصادی اوټولنیزی تګ لاری ابلاغ ؤچی دخلق اوپرچم ډلو دپه ظاهره اعلام شوی ستراتیژیك مرام سره یی تفاوت نه درلود اودواړو ډلو له خوا تائید شوه .

د۱۳۵۲ هـ ش کال دسرطان ۲۶ نیتی بدلون هغه کودتا وه چی د





۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیتی خونړی کودتا ته یی لار هواره کړه اوډروسانو سره دداؤد نظامی ،اقتصادی اوفرهنګی اړیکو تینګښت نور هم افراطی اوخطر ناك شو په دی پراو کی دولت ملکی خصوصاً نظامی ساحوکي روسي مشاورين دپخوا په تناسب زيات شول بالاخره حالات دی سرحد ته ورسیدل چی په افغانستان کی به افغانی پیلوټانو دروسانو په مستقیمه قوماندہ سره تمرینی الوتنی ترسره کولی .

دداؤد له کودتا څخه وروسته په عمومی ډول سره په سیاسی وضعه او افکارو کی تغیرات رامنځ ته شول اودافغانستان ولس اوسیاسی سازمانونو لپاره دسیاسی قدرت نیول نسبتاً عادی مسٔله وګرځیده .

داؤد په هیواد کی په ظاهری ډول سره سیاسی فعالیتونه منع کړل خو سخت ژور او مهم شول ده دملی انقلاب » په نوم ګوند جوړکړ خوځرنګه چی له پاسه جوړشوی ؤ نوځکه یی ډول او خواك هم کم ؤ او دداؤد دله منځه تللو سره سم دشګو بند په څیر رنګ شو.پخوا ددی چی داؤد دملی انقلاب په نوم ګوند اعلان کړی دخلکو په منځ کی داسی هنګامه وه چی داؤد دملی غورځنګ په نوم ګوند اعلانوی اما داؤد دخپل ګوند نوم دملی انقلاب په نوم ونوماوه خو دخلکو په منځ کی یی دملی غورځنګ نوم هم شهرت پیدا کړ.

دداؤد له کودتا څخه وروسته کی ، جی ، بی دخلق اوپرچم ډلو لپاره دسیاسی قدرت نیولو یوازینی لاره دمسلحو قواؤ (کودتا ) په اړوند مشخصه اوټعین کړه اودواړو مزدورو ډلو په نیمه علنی ډول سره تول امکانات پکار واچول.دوی دکورنیو چارو په وزارت خصوصاً اردو (ملی دفاع وزارت) کی وسیع ګوندی سازمانونه جوړکړل خو په اردو کی

دپرچميانو په نسبت دخلقيانو نظامی سازمان غرو کميت ډير ؤ .
دروسانو سره دداؤد نږدی کيدل اودکی ، جی ، بی په ناپاکو لاسو جوړو شويو ډلو (پرچم اوخلق) سره دهغه همکاری او هغوی ته په حکومت کی زياته برخه ورکول اواسلامی شخصيتونو اوسازمانونو تهديد او ځپل، اسلام اوافغانستان اسلامی خاوری اوخپلواکی ته دخطرزنګ ؤ اودافغانستان مسلمان اووطن دوست ولس يی په تشويش اواضطراب کی واچاوه نوځکه په ۱۳۵٤ هـ ش کال کی داسلامی تحريك ځواکونو دافغانستان په ګوټ ګوټ کی دداؤد رژيم دراپرځونی په منظور وسله وال قيام وکړ خودناکامی سره مخامخ شو. داؤد دغه مقاومت اواسلامی وسله وال قيام ديوه جدی اخطار اوخطرپه توګه وګاڼه . ددی په څنګ کی داؤد دروسانو اودهغو مزدورانو (خلق اوپرچم ډلی ) دپټو اوخطر ناکو فعاليتونو څخه هم خبر تيا پيدا کړه نوځکه يی ورو په ورو دچپ څخه ښی ته په تګ پيل وکړ اوله کابينی څخه يی دخلق اوپرچم ډلو غړو او ددوی طرفدارانو په شړلو پيل وکړ ، بالاخره په ۱۳۵٦ هـ ش کال کی يی په ډاګه اوطنی ډول سره دروسانو او دهغوی مزدورو ډلو (خلق اوپرچم ) په مقابل کی قرار ونيوه خو وخت له موقع څخه تير او داؤد دکی ، جی ، بی په خونخوار بند کی په ږوبيدو شوی ؤ .
دمحمد داؤد فردی رژيم په دوره کی اقتصادی پرمختګ دمحمد ظاهردتولواکی په تناسب ګرندی ؤ خوډولس دژوند سويه دهيواد داقتصادی پرمختګ په نسبت ډيره لوړه شوه ځکه چی يو شمير وګړی باندنيوهيوادو ته دکارکولو لپاره ولاړل اوهرکارکوونکي په افغانستان کی دکار داجراپه تناسب خو چنده ډيری پيسی ترلاسه کولی . په هغو





چارکوونکو کی کوم چی عربی اويو شمير نورو هيوادونو ته تللی وو خلقيان اوپرچميان هم ولاړل دوی هلته هم ګوندی سازمانونه جوړاودافغانانو په جلب او جنب يی پيل وکړ.
دداؤد رژيم په وروستيو کلونو کی دداؤد اړيکی له پرچميانو او خلقيانو سره خرابی اودمهمو دولتی چوکيو څخه يی وشړل په دی وخت کی خلقيانواوپرچميانو دهغه دستور سره سم چی ورته ورکړل شوی ؤ دداؤد اودولت پرضد داډول تبليغات پيل کړل چی په دولت کی ارتجاع اوخائينينو ځای نيولی دی ( دوی دهغه وخت ملی دفاع وزير «رسولی »، دکورنيو چارو وزير «قديرنورستانی » داطلاعاتو اوکلتور وزير « ډاکتر نوين » ... دخپلو مخالفينو له جملی څخه ګڼل ، رسولی اوقدير نورستانی يی دثور کودتا په جريان کی ووژل ) ، بهرته دافغانانوتګ بايد منع شي اوبايد په افغانستان کی کار وکړی ( که چيری هغه افغانان کومو چی په بهرنيو هيوادونو کی کار کاوه افغانستان ته راستانه شوی وای واقعاً چی ددوی له جملی څخه اکثريت بی کاره پاتی کيدل پردی برسيره افغانستان ته دبهرنيو اسعارو راوړل دافغانستان په ګټه وو) ، داود دشپی له خوا خلك وژنی اوبيايی دکابل په سيند کی اچوی ، داتم تولګی څخه نهم تولګی ته دکانکور ازموينه فرهنګی ضد عمل دی ( دثور له کودتا څخه وروسته يی هم په دی اړوند پراخ تبليغات پيل کړل )، بيروکراسی او بدی خوړل زيات شول ...خو هغه وخت چی داؤد دنومړو ډلوسره دوستانه اړيکی درلودی په ټولو دولتی نواقصو اوفاجعو باندی يی پرده اچوله اوپه مبالغه اميز ډول سره به يی دداؤد دهغه درژيم ستاينه کوله. دداؤد اوخلقيانو ، پرچميانو تر منځ اړيکی ديوی ورځی څخه بلی ته

مخ په خرابیدو وی .
داؤد د ۱۳۵٦ هـ ش کال دحمل په ۲۳ نیټه روس ته سفر وکړ په هغه غونډه کی چی دداؤد او بریژنیف ترمنځ وشوه دبریژنیف لخوا داسی مسایل مطرح شول چی په بین المللی اړیکو کی دروخپلواکو هیوادونو ترمنځ یی مطرح کول معمول نه وو.داؤد دبریژنیف دآمرانه خبرو په اوریدو سره په غوسه شو خو هغه وخت چی په حقیقت کی یی دداؤد دواره لاسونه ترشا وتړلی وواو بریژنیف داسی ورته وښودله چی که چیری دروسانو په لار ولار نشی دخطر سره به مخامخ شی .
خوکله چی افغانستان ته راستون شو په سیاسی تګ لاره کی یی نور بدلونونه هم څرګند شول .
کی جی ، بی په ۱۳۵٦ هـ ش کال دسرطان په میاشت کی دخلق اوپرچم دلی په یوه ورځ کی په سازمانی اوتشکیلاتی لحاظ سره واحدی اویو کړلی
(روسانواوپرچمیانوهڅه کوله چی دخلق اوپرچم دلو نظامی سازمانو نه سره ګډ کړی خو امین ددی کار مخالفت کاوه نو ځکه ددواړو دلو نظامی څانګی په د۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی ترشپږمی نیټی پوری په سازمانی اوتشکیلاتی لحاظ سره واحدی نه شوی ).
ددی وحدت څخه دصفوفو(عادی غړی) یوه غړی هم خبر نه درلود خوکله چی یو شمیر خلقیانو اوپرچمیانو پوښتنه وکړه چی داکوم عوامل ووچی لس کاله مو دیوه اوبل پر ضد تبلیغات کول جلا سازمانونه مو درلود ل اوپه هیڅ صورت وحدت نه کیده اما اوس په دی دول ناڅاپی اودیره تعجب اوره طریقه په یوه ورځ کی ترسره شو نو اړونده ګوندی اشخاصو په دیر عادی دول سره تولو پوښتونکو ته





څرګنده کره چی دادروسانو (دوی شوروی ملګری ووېل ) غوښتنه اوتاکید ؤ .
په ۱۳۵۰ هـ ش کال کی دروزګار په نوم جریده کی دخلقیانو اوپرچمیانو یو شمیر لیکنی اوسیاسی مطالب خپریدل چی دهغی جملی څخه دنومړو دلو دوحدت مسٔله هم مطرح شوه خو دځو هفتو تحریری سوالونو اوځوابونو څخه وروسته دپرچم دلی خلق دلی ته ولیکل چی راشی دمونږ ګوند ته راشی یعنی داچی په انشعاب کی دپرچم په دله پسی دمرکزی کمیتی اکثریت غړی ولاړل ( خلقیانو هم په نومړوی ادعا باندی تاکید کاوه او ویل یی چی مونږ اکثریت یو ) په راتلونکی بله ګنه کی دخلق دلی ورته ولیکل چی راشی دپلار ګوند ته راشی خو په هیڅ صورت سره یو ځای او واحد نه شول اما دا دکی ، جی ، بی زامن چی یوبی هم پلار نه لری په ۱۳۵٦ هـ ش کال کی دکی ، جی ، بی په یوه دستور باندی په یوه ورځ کی بی له کوم پرابلم او مشکل څخه سره یو او واحد شول.داؤد د۱۳۵۷ هـ ش کال دحمل په میاشت کي ایران، پاکستان ، سعودي عربستان ، کویټ اومصر ته رسمي سفروکړ ، دداؤد دغه سفر روسانو ته ربټیني تکان ورکړ.
روسانو داؤد ته داسی وښودله چی که چیری دا سیاره زموږ دمدار څخه بی ځایه شی نو ورانیدل یی حتمی دی خو داؤد په هغه سویه قواو تدبیر نه درلود لکه څومره چی مغرور ، بی پروا او تصور یی کاوه.په دی وخت کی دداؤد په تګلاره کی دروس پر ضد زیات تغیرات رامنځ ته شوی وو او روسان هم په دی پوهیدل چی داؤد په کوم حالت کی قرار لری .
روسانو خپلو مزدورو دلو خلق او پرچم ته دستور ورکړ چی که چیری

داؤد پر تاسو تعرض اوحمله وكړي اويا پخپله داؤد بل څوك له منځه وړي نو سياسي قدرت بايد ستاسو (خلق اوپرچم دلي) په لاس كي ونيسي اوكه داسي و نه شول نو تيار، هوښيار او حالاتو ته متوجه اوسي.په دي مرحله كي كې ، جي ، بي وكولای شول چي داسي حادثي رامنځ ته كړي چي دداؤد توجه ورته راوګرځوي او ددي په عوض چي داؤد دوضعي او حالاتو دعمل ابتكار او كنترول په لاس كي واخلي پخپله دنباله رو او دحوادثو په ګرداب كي يي غرق كړي .

د۱۳۵۷ هـ ش كال دثور ۷ كودتا څخه يوه هفته مخكي دمير اكبر خيبر په نوم دمزدور ګوند دمركزي كميتي غړي چي د۱۳۵٦ هـ ش كال وحدت څخه پخوايي دپرچم په دله پوري اړه درلوده دكې ، جي ، بي دطرحه شوي پلان په نتيجه كي ووژل شو .

روسان دخلق اوپرچم په مركزي كميتو كي له دووكسانو سره په پرابلم او مشكلاتو اخته وو دادوه نفره امين اوخيبر وو امين په ظاهري ډول دروسانو مخالفت نه كاوه خو ترشايي چي څه خوښ ووهغه يي ترسره كول.له روسانوسره دامين ظاهري نرم برخورد روسان دي ته نه هڅول چي دامين په له منځه وړلو كي جدي او چټك عمل ترسره كړي خو خيبر هغه څوك وُ چي ديوي خوايي تره كي ، كارمل او دمركزي كميتي نورو غړو ته تدريس وركاوه اوتولو به استاذ باله اودبلي خوا په سازماني چارو كي دروسانو دزياتي مستقيمي مداخلي اودستور سره يي مخالفت كاوه اوروسانو په راتلونكي كي دده موجوديت دځان لپاره پرابلم او دسردرد باله .كله چي په ۱۳٤٦ هـ ش كال كي دخلق اوپرچم دلي سره جداشوي خيبر په دي هڅه كي وُ چي بايد بيرته سره واحدي شي خوكله يي چه د۱۳۵٦ هـ ش كال دسرطان په مياشت كي دخلق





اوپرچم دوحدت اويووالي په هكله دروسانو مداخله اومستقيم دستوروته په خپلو ستركو وليدل نو دخيبر او روسانو ترمنځ مخالفت خطرناك حالت غوره كړ ( خيبر دكمونستي نظرياتو او روسانو ضد نه وُ اما په خپلو كړو وړو كي يي دروسانو زياتي مداخلي سره مخالفت كاوه يا په بل عبارت دروسانو باوروړلوته تيار وُ خو دبار دوزن په اندازه كي يي خپل نظر هم شرط باله ).څرنګه چي روسان دداؤد رژيم په اخيرو كي دګوډي دپيداكولو اوداسي حوادثو دمنځ ته راوستلو په لټه كي ووچي داؤد دخلق اوپرچم دلوسره ټكراوله منځه يي يوسي نوروسانو دخيبر وژل ترټولو مناسب اوپرځاى عمل وباله اودخيبر په وژلوسره يي په يوه غشي دوه ښكاره په لاس راوړل .

ديوي خوايي دخلق اوپرچم په دلو كي (نوموړي دلي په دي وخت كي سره متحدي شوي وي )دمستقيمي اوبي حده مداخلي مخالف شخص څخه ځانونه بي غمه كړل اوله بله اړخه يي دداؤد اوخلقيانو اوپرچميانو ترمنځ دټكر كيدو انګيزه رامنځ ته كره .

خو روسانو اودخلق اوپرچم دلودغه قتل عاملين دافغانستان داخلي اوبين المللي ارتجاع وباله دغه اعلان دخلق اوپرچم دلولخوا هغه وخت خپورشو كله يي چي دنوموړي جسد خښناوه خو د۱۳۵۸ هـ ش كال دجدي په ٦ نيټه دروسانولخوا عارف عالم يار ( نوموړي دخلق په دله پوري مربوط وُ اودروسانو دراتګ څخه پخوا دترانسپورت عمومي رئيس اوپه عين حال كي دكابل ښار دووناحيو دګوندي منشي دندي په غاړه درلودي اومشر ورور يي «صديق عالميار» دپلان وزير وُ.عارف دمحمد داؤد دقدرت په وخت كي دهغې غلا په واسطه چي په هغه كي نيول شوي وُ يوه موده بندي خانه هم تيره كره دغو دوو دامين سره

نوډی اړیکی درلودی ) دخیبر قاتل په نوم ونیول شو روسانوادعا وکړه چی خیبر دامین په دستوردنوموړی پواسطه وژل شوی دی اما عارف عالمیار وکولی شول چی دروسانوله لاسه وتښتی خودبیر زر دوهم ځل لپاره په وزیر اکبر خان مینه کی دده دخور په کور کی ونیول شو اوپه عاجل ډول سره یی له منځه یووړ دلته ؤچی روسانو پرچمیانو ته بریتونه تاوکړل چی ګنی ددوی دخیبر انتقام یی واخیست .

خیبر دثور له کودتا څخه یوه هفته مخکی ماښام دهغه شرک پرغاره ووژل شو کوم چی دکابل په ښار کی دولتی مطبعی شمال شرق خواته تیر شوی ؤ.دهغه جسد یی په همغه شپه خپل کورته ( نږو مکرویانو ته ) نقل کړ اوبورځی له خوا دخلق اوپرچم ډلو غړی په نږو مکرویانو کی دهغه بلاك اواپارتمان مخ ته راټول شول په کوم کی چی دده جسد ایښودل شوی ؤ.په همدی ورځ دمحمد داؤد پولیسو نوموړی جسد عدلی طب ته چی دکابل پوهنتون په ساحه کی یی موقعیت درلود انتقال کړ.دکی، جی ، بی په دستور دخلق اوپرچم مشرانو خپلو صفوفو ته خبرورکړ چی دپوهنتون په ساحه کی دعدلی طب مخامخ راټول اوذکر شوی جسد دکابل ښار په کوڅو کی وګرځوی .

دخلق اوپرچم ډلو غړی دعدلی طب مخامخ راټول شول خو پولیسو دغه جسد په ډیر مهارت اوهنرسره دعدلی طب څخه وایست اودهغه کور ته یی یوړ.خلقیان اوپرچمیان هم نږو مکرویانو ته ورغلل خو دشپی لخوا یی زیاتره راټول شویو کسانو ته دستور ورکړچی خپلو کورو ته ولاړ شی اوپه سبایی دولایتونو اوکابل ښار ټول غړی راوغوښتل .په دوهمه ورځ دنوموړو ډلو زیات شمیرغړی دخیبر کورمخی ته راټول شول اودډولسو بجو په شاوخوا کی یی دهغه جسد





په موټر کی کیښود اوترشایی راټول شویو خلقیانو اوپرچمیانو حرکت پیل کړ. جسد یی دهغی مطبعی مخامخ تیر کړ دکومی مخ ته چی قتل شوی ؤ اودامریکا متحده ایالاتو سفارت څخه دتیریدو په وخت کی یی چی څه خولو ته ورتلل ویی ویل او دپل خشتی ترجوماته پوری دښځو سازمان غړیو هم نوموړی جسد په داسی حالت کی بدرګه کړ چی دیو تعداد سرونه لوڅ اومنی ژوبونه یی اغوستی وودکابل بالاحصار جنوب ته په هغه هدیره کی چی دخیبر جسد خښیده غونډه جوړه شوه تره کی اوکارمل هغه څه ولوستل کوم چی پخوا لیکل شوی ووسلیمان لایق اودستګیر پنجشیری دپښتو اودری لیکل شوی شعرونو ولوستل خومهم ټکی چی دکارمل لخوا وویل شو داؤ چی «دامرګ راوړونکی سکوت باید مات شی »، ددی څخه دخلقیانو اوپرچمیانو هدف داؤ چی نور نو لکه څنګه چی نن مو تظاهرات وکړل دلزوم په صورت کی په راتلونکی کی هم دوام ورکوو اوکه چا مخالفت کاوه نو مرګ ته تیاریو .

(دداؤد په رژیم کی له ملی انقلاب ګوند څخه پرته چی داؤد یی په راس کی قرار درلود دمظاهرو ، اعتصابونو ، دګوندونو جوړول اونور سیاسی فعالیتونه غیر قانونی اعلان شوی وو)

دخیبر دخښیدو مراسم پای ته ورسیدل خوداؤد چی د خلقیانواوپرچمیانو دغه نسبتاً لوی مارش ولید ، دسرداری دبی پروایی له خوبه یی راویښ کړاوداؤد هغه وخت پرډوی باندی تعرض پیل کړچی پرچمیانو اوخلقیانو دخپلی دفاع اوپه تعقیب یی دتعرض لپاره ځانونه چمتو کړی وو(اسی هم ویل کیږی چی خیبر داسلامی تحریک لخوا وژل شوی)

دخیبر دجسد له خښیدو څخه دری ورځی وروسته داؤد دخلقیانو

اوپرچمیانو دمرکزی کمیټی اکثریت غړي چې کارمل اوتره کې هم پکې موجودو بندیان کړل دافغانستان رادیو څخه یې ددوی اوددوی دپلارونو نومونه په داسې شکل اعلان اوذکر کړل لکه چې عادي غله یې نیولي وي . رادیو زیاته کړه چې دغو کسانو دقانون څخه خلاف عمل کړی دی او قانوني چلند به ورسره وشي.داسې ویل کېدل چې په دې وخت کې قدیر نورستاني کوم چې دداؤد دکورنیو چارو وزیر ؤ ، داؤد ته دخلقیانواوپرچمیانو دهغو مشرانو دوژل کېدو وړانديز وکړکوم چې بندیان شوي وو خوداؤددقدیر دغه وړانديز ته توجه ونکړه . «کې جې بي » لاپخوا په دې ټینګار کړی ؤچې که چیرې دداؤد لخوا دمرکزی کمیټی اودګوند نورغړی نیول کیږی نوپه هرډول چې وي باید دخلقیانو اوپرچمیانو هغه دوه کسان چې دنظامي څانګو مسؤلیتونه په غاړه لري ، خپل ځانونه داسې وساتي چې بندیان نشي .

دپرچمیانو دنظامي څانګې مسؤل نوراحمد نور ؤ کوم چې دثور کودتا څخه وروسته په لومړی کابینه کې دکورنیوچارو وزیر په حیث وټاکل شو او ویې کړای شول چې د داؤد پولیسو پواسطه دنیونې څخه ځان وژغوري خو داڅرګنده وه چې یوازې دپرچمیانو نظامي څانګې نه شول کولای دداؤد رژیم راوپرځوي اولکه څنګه چې په عمل کې هم ثابته شوه چې په کودتا کې یې هم دوهمه درجه هغه هم ډیر ضعیف رول ولوباوه .

دخلقیانو نظامي څانګې مسؤلیت د«امین» په غاړه ؤ اودپرچمیانو نظامي څانګې په نسبت یې کمیت ډیر ؤ . امین دتره کې اوکارمل دبندي کېدو څخه یوه ورځ وروسته ونیول شو اودکابل ولایت جیل ته چې دپرچمیانو او خلقیانو دمرکز ی کمیټي یو شمیر نورغړی هم پکې





بندیان ؤ بوتلل شو.

د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیټې څخه څلور میاشتې وروسته امین (امین دکابل پوهنتون دساینس یا طبیعي علومو پوهنځې څخه فارغ اوماستري یې په امریکا کې تکمیله کړه ) په هغه کنسرت اوغونډه کې برخه واخیسته چې دساینس (طبیعي علومو) پوهنځي لخوا دپولي تخنیك انستیتوت په ادیتوریم کې جوړه شوی وه .(په دې وخت کې امین په ظاهري ډول سره دبهرنیو چارو وزیر اودصدراعظم دمرستیال دنده په غاړه درلوده خوپه حقیقت کې دثور کودتا څخه نیولې بیادده تروژل کېدو پورې دنظامي قواوُ شریانونه دده په لاس کې وو) په دې غونډه کې امین دخپلې بیانیې په یوه برخه کې داسې وویل : « په کودتا (امین انقلاب وویل ) کې زما دمخکنیو قواوُ قوماندان همدلته حاضردی (امین دهغه نوم واخیست اوپه دغه وخت کې دامین دغه قوماندان چې داسلم وطنجار څخه عبارت ؤ دصدراعظم مرستیال اودمخابراتو وزیر په حیث ټاکل شوی ؤ) اودهوایي قواو قوماندان چې اوس دلته نشته (دامین دغه قوماندان عبدالقادر ؤ کوم چې په همدې وخت کې ددفاع وزیر په حیث مقررشوی وُخو امین دهغه نوم ذکر نکړ) بریمن رول ولوباوه اوزه پردوی باندې افتخارکوم ».

«امین په دغه غونډه کې له کودتا څخه وروسته دلومړي ځل لپاره په علني ډول خوپه رمزکي وویل چې یو شمیر اشراف زاده ګان (مطلب یې کارمل اوددده ډله وه ) باید پوه شي چې دکودتا (امین انقلاب وویل ) په مقابل کې دپرابلمونو پیداکول به دوی پخپله له منځه یوسي اوپه همدې غونډه کې ووچې په کابل پوهنتون کې دتره کې اوامین ډلې په علني ډول څرګندی شوی اودامین ډلې شعارونه ورکړل چې ژوندی دی

وی دانقلاب سترقوماندان (دشعارونو په اخر کی به یی دامین نوم ورسره نکرکاوه ) په دی وخت کی واضح څرګندیده چی کارمل او تره کی دواړو بایللی ده لاکن په ظاهره امین دتره کی څخه کلکه دفاع کوله او درهبر خطاب به یی ورته کاوه په همدی ورځ چی امین بندی کیږی دکودتا پلان یی ذکرشویو دوونظامیانو ته وسپاره او ورته ویی ویل چی که چیری سبا تر اتو بجو پوری زما لخوا څخه بل دستور درنکړل شو اویازه نیول شوی وم تاسو به داپلان عملی کوی . امین په همدغه ورځ (دکودتا څخه یوه ورځ مخکی ) ونیول شو او سبا په اتو بجو کودتا ته اقدام وشو او کودتا داسی پیل شوه :

داوْد دپرچم اوخلق دیو شمیر غړو دبندی کیدو څخه وروسته دهغو افسرانو په نیولو پیل وکړ چی دخلقی اویا پرچمی په نومونو افشاشوی وواو دداوْد داستخباراتو سره یی شهرت موجود وُ خو حالات داسی ووچی خلقی اوپرچمی افسرانو ته دستور ورکړل شو چی که چیری څوك دبندی کیدو احساس کوی کورونو ته دتللو څخه دی ډډه وکړی اوپخپلو قطعاتو اوجزوتامونو کی دی دتیارسی په حال واوسی نوهغو خلقی اوپرچمی افسرانو چی دبندی کیدو احساس کاوه خپلو کورونو ته دتللو څخه ډډه وکړه او په خپلو عسکری قطعاتو اوجزوتامونو کی دتیارسی په حالت کی وو اوکه چیری داوْد دهغوی دنیولو اقدام کړی وای نودستورداوْ چی باید مسلحانه مقاومت وکړی خوداسی ونه شول .

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور دمیاشتی په ۷ نیټه دپنجشنبی ورځ سهار داتو بجو څخه وروسته ترټولو مخکی دکودتاتور دوداولوګی دپلچرخی په څلورمه زغره واله لواکی پورته شو. په همدی ورځ سهارپه اتو بجو





دنومړی لوا کودتاچیانو «چورك» وواهه اوټولو افسرانو ته یی غږ وکړ چی ددغی لوا دغونډو تالارته راټول شی کله چی افسران راجمع شول نوکودتاچیانو په ټولو غیرکودتاکوونکوافسرانو پسی دنومړی تالاردروازه قلف کړله اویو نفر مسلح افسریی ورته پهره دارمقررکړ. کودتاچیانو ټانکونه په ارامی سره حرکت ته تیاراوه«ارګ»په طرف یی ور رهان کړل . وروسته بیا پنځلسمی زغره والی لوا اویو شمیر نورو جزوتامونو هم دکودتاچیانو په ملاترفعالیت پیل کړ.

داوْد ته هم دخطر راپوروته راتلل او دهمدی ورځی په سهار یی یو شمیر ټانکونه دارګ دامنیت پخاطر راوغوښتل برسیره پردی دداوْد یوشمیر قواوْ دارګ څخه دباندی موقعیت ونیوه خو دداوْد له خوا ورته خبرورکړل شو چی، یو څو ټانکونه دامنیت لپاره دارګ مخی ته راځی اجازه به ورکړی اما دداوْد دطرفدارو ټانکونو په نسبت دکودتاچیانو ټانکونه زر راورسیدل دداوْد پلویانو دکودتاچیانو ټانکونو ته په دی اشتباه اجازه ورکړه چی البته دغه ټانکونه هغه دی کوم چی داوْد غوښتی وو کله چی دکودتاچیانو ټانکونه په ۹ بجو دارګ شرقی دروازی مخی ته ورسیدل په ارګ یی ډزی پیل کړی .

دداوْد پلوی قواوْ دټانك ضد راکټونو په واسطه په ډیر کم وخت کی اووه ټانکونه په سرو اورونو کی پټ کړل اودکودتاچیانو غوښنی ترسبا سهاره پوری دارګ خیرمه ونو کی بندی اوراځپدلی اودسوځول شویو ټانکونو اوسپنی اوځنځیرونه ترڅو ورځو پوری دارګ شرقی دروازی په مخ کی پراته ووپه ارګ کی دداوْد پلوی قواوْ دکودتاچیانو تعرضی حالت په ټپه ودراوه اما دکودتاچیانو نوی تقویتی قوا راورسیده اوجګړی په شدت سره دوام پیداکړخو ددریو ساعتو جګړی څخه

وروسته داسې ښکاريده چې نور نو کودتاچيان مات اوتيښتې ته چمتو شوي دي . داوُد هوايي قواوُ ته امروکړچې په نښه شوي ځايونه بمباري کړي دولسو بجو په حدودو کې دوی جنګي الوتکې په لوړه الوتنه سره دکابل په ښار وګرځيدلې خوهيڅ بمباري يې ونکړه اما لږخه وروسته دبګرام څخه دکودتاچيانو جنګي الوتکې راورسيدې اوډداوُد دارګ په قواوُ يې بمونه وروغورځول همداوخت وُچې دکودتاچيانو مورال قوي اوډداوُد قواو جنګي مورال يې کمزوری کړ . په ارګ باندې دکودتاچيانو الوتکو لخوا بمباريو دوام وکړ اوډداوُد دارګ قواوُ له طرفه په دهوايي دفاع په وزو سره دکودتاچيانو الوتکې په سرو لمبو کې پټې شوې خوموثريت يې کم وُ اوبمباريو په شدت سره دوام پيداکړ ماښام په اووبجو چې لږشانته باران هم اوريده دافغانستان راډيو څخه په پښتو اوفارسي ژبو داسلم وطنجار اوعبدالقادر لخوا دداوُد رژيم دسقوط اعلاميه ولوستل شوه اوياده يې کړه چې ديحيی کورنی دقدرت تغر ورتول او داوُد دمقاومت اونه تسليم کيدو په اساس وځپل شو اوسياسي قدرت انقلابي نظامي شورا په لاس کې نيولی دی .

په همدې ورځ دقرغې اتمې فرقې ته دداوُد په طرفدارۍ سره دارګ په لوری حرکت ورکړل شو خوکله چې دنوموړې فرقې قواوې دکابل «ګردنه باغ بالا » ته راورسيدې دخلق اوپرچم دلو يې قوماندې په لاس کې واخسته اوقواوې يې ارګ ته دتللو څخه منع او په «کارته پروان » اوکارته مامورين » کې يې دکودتاچيانو په ملاتړ موضع ونيوله .

دريشخوراوومه فرقه هم دداوُد په ملاتړ دارګ په طرف وخوځيده خو دهغو هوايي بمباريو له امله چې دکودتاچيانو له خوا پرې وشوه دارګ





په لوری يې دهغوی دحرکت مخنيوی وکړ .

توله شپه يعنې ١٣٥٧/٢/٨هـ ش دکابل ښار په مختلفو برخو کې دداوُد اوکودتاچيانو نظامي قواوُ ترمنځ جګړه روانه وه او دکابل ښار اکثريت اوسيدونکې دهوايي بمباريو توپونو اوټانکونو او نورو وسلو دږزو له امله بيدار پاتې شول .

جګړې دوام وکړ او دورځې لخوا (دثور اتمې نيټې ) ديوې بجې پورې دريشخورو ، دارلامان اودکابل ښار په نورو برخو کې دداوُد پلوی قواوُ تعرض اودفاع ته دوام ورکړاودورځې په يوولسو بجو يې ددارلامان په سيمه کې دکودتاچيانو دوې جنګي الوتکې راوغورځولې خو دهمدغې ورځې ديوې بجې څخه وروسته دداوُد طرفدارو قواوُ مقاومت ختم اودکابل په ښارکې دکودتاچيانو قدرت ترسترګوکيده.

خودډی علت سره سره چې دخلقيانو اوپرچميانو نظامي څانګې په سازماني اوتشکيلاتي لحاظ ديو اوبل څخه جدا وې څنګه يې وکولی شول په کودتا کې دداوُد پرضد واحد او ګډ عمل ترسره کړي داوُ چې «کې ، جي ، بي » دسفارت له لارې دخلق اوپرچم نظامي څانګو سره په جدااوګوښې ډول اړيکې درلودې اودوی دواحد عمل قومانده اورهبري دکې ، جي ، بي » په واسطه ترسره شوه.

داچې «امين » دروسانو سره دکودتا پلان يوځای جوړکړاويا داچې روسانو په هغه کې مستقيمه برخه نه درلوده تراوسه پورې دقيق معلومات ندي ترلاسه شوي خوکله چې دکودتا پلان د١٣٥٧ هـ ش کال دثور ٧ نيټې څخه يوه ورځ مخکې داسلم وطنجار اوعبدالقادر په لاس ورغی روسان يې په ټولو جزياتوخبر اوډهغه دعملي کولو لارې چارې اوددغه پلان عملي کولو ته دپرچميانو هڅول اودخلقيانو سره ددوی

همکاری دروسانو په دستور صورت ونیوه .
کله چی د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور په ۷ نیته دکابل پلچرخی څلورمی زغروالی لوا څخه داسلم وطنجار په قوماندہ ( اسلم وطنجار دخلقیانو په نظامی څانگی پوری اړه درلوده ) ټانکونه راووتل دکابل پلچرخی دینځلسمی زغروالی لوا څخه دمحمد رفیع ( محمد رفیع دثور کودتا څخه وروسته په لومړی کابینه کی د«فوائد عامه وزارت » دوزیر په حیث مقرر شو اودپرچمیانو په نظامی څانگه پوری یی اړه درلوده ) په قوماندہ وروسته له هغه چی دخلقیانو نظامی څانگی ټانکونه ارگ ته ورنږدی شوی ووراووتل په دی مرحله کی اسلم وطنجار اومحمد رفیع دیو اوبل څخه بی خبره وو اما دروسانو په واسطه دادواړه قواوی یو اوبل ته ددوستو قواؤ په نوم ورو پیژندل شوی په همدی ترتیب سره داردو په یوشمیر نورو قطعاتو اوجزوتامونو کی هم دی ته ورته عمل ترسره شو خوبیا هم لکه څنگه چی پخوا هم ذکرشویدی په کودتا کی دپرچمیانو نظامی څانگی رول دخلقیانونظامی څانگی په تناسب کم ؤ.
په کابل کی دکودتاچیانو په واسطه سره دسیاسی قدرت دنیولوسره سم دخلقیانو نظامی څانگی افسرانو له خوا دپرچمیانو نظامی څانگی افسرانو ته داسی خطاب کیده چی پرچمیانو په کودتاکی (دوی به انقلاب ویل )دداؤد له قواؤڅخه ملاترکاوه خوداخرگنده اوبه دانگ پیلی ښکاریده چی دخلقیانو نظامی څانگی افسرانو له خوا په مجموع کی پرچمیان دکودتا (دوی به انقلاب ویل ) ضد معرفی کیدل.
کودتا چیانو دکودتا په لومړی ورځ (دثورپه اوومه نیته ) دخلقیانو اوپرچمیانو دمرکزي کمیتي بندي شوي غړي چی تره کی ، کارمل اوامین هم پکی موجود وو دټانک په واسطه دکابل ولایت تعمیر له بندي





خانی څخه دافغانستان راډیو ته نقل کړل . خلقیانو به ویل چی دکودتا په لومړی ورځ کله چی کارمل دخلقیانو اوپرچمیانو دمرکزي کمیتي نوروغړو سره دافغانستان په راډیو کی قرار درلود ، په دی تینگار کاوه چی کودتا(دوي به انقلاب ویل ) ناکامیږي اودخلقیانو اوپرچمیانو مشران باید کلیو اوبانډو ته پناه یوسي ترڅو دداؤد په لاس ورنشي خوپرچمیانو له دی مطلب څخه انکار کاوه اودځو میاشتو څخه وروسته دپرچمیانو له خوا داسی تبلیغیده چی دخلقیانو اوپرچمیانو په منځ کی دتضادونو دراپیداکولو اصلی عامل «امین » ؤ خو روسانو د۱۳٤٦ هـ ش کال څخه راواخله بیا تر ننه پوری خلقیان په یوه لاس کی نیولی اوپرچمیان یی په بل کی کله یی سرونه سره گټی (جنگوی) اوکله یې دیوه اوبل سره دوفاداری اومحبت په نوم غیږ په غیږ کوی اودواړه ولی دخپلو استعماری اهدافو په ترلاسه کولو کی دلاس الی په توگه استعمالوي .
دثور په اوومه نیته دورځی په پنځو بجو دخلق اوپرچم دلو ملکی غړوته دستور ورکړل شو چی له کودتاچیانو سره هغسی مرسته وکړی چی له لاسه یی کیږی اودایی په ټینگه ورته وویل چی که چیری څوک درڅخه پوښتنه وکړی چی داڅه پیښه ده نو ورته وایی به چی :داچی هره پیښه ده ستاسو په گټه ده اوبس نور به هیڅ نه وایی .
دارگ شاوخوا خصوصاً دارگ جنوبی برخی ته دکابل ښاریانو په داسی حال کی چی سری گولی اوریدی هومره گڼه گونه جوړه کړی وه چی کودتاچیان یی په تشویش کی واچول همداځای ؤ چی دخلق اوپرچم ملکي غړو ټانکونو ته دښاریانو دنږدی کیدو څخه مخ نیوی کاوه اوکله چی ماښام په اوو بجو دراډیو څخه دداود دځپل کیدو

خبرخپورشو اويو شمير ملکي خلقيان اوپرچميان راڅرګند اوخلکو هغوي وپيژندل نوپه هغه ځای کی اکثريت خلکو وويل چی داخوښه کارونه شو .

د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور په اتمه نيټه دغرمي ورروسته په دوبجو دکابل پوهنتون يو شمير هغه محصلين چی له اسلامي تحريك سره متعهد وو د کابل پوهنتون شمال ته دلوری غونډی پرسر راټول اوعاجله غونډه يې جوړه کړه دڅو دقيقو څخه ورروسته دغو محصلينو غونډی پريښوده اواکثريت يې دهغه ځايه څخه بيرته پوهنتون ته ورستانه نه شول اودکودتاکوونکو پرضد فعاليتونو پخاطر دکابل ښاراودهيواد مختلفو منطقو ته ولاړل .

دثور په ۸ نيټه دداؤد طرفدارو قواؤ دجلال اباد څخه دکابل په طرف حرکت پيل کرخو کابل ته لانه وی رسيدلی چی دهوايی بمبارۍ په واسطه يې دتعرضی فعاليت څخه وايستلی.دثور په اتمه نيټه په خوست کی دپرچميانواوخلقيانو نظامي ځانګو دخوست په ۲۵ فرقه کی دکودتاپه بڼه قومانده ترلاسه کړه اومرکز (کابل ) ته يې اطمينان ورکړ.په خوست کی دداؤد طرفدارو قواؤ دکودتا چيانو په مقابل کی دمقاومت نه کولويوعامل داهم ؤ چی هغوی په کابل کی دداؤد رژيم دنسکوريدو خبرترلاسه کړی ؤسره ددې چی دخوست په لويه ولسوالی کی دخلقيانوډغير نظامي غړو په تناسب دپرچميانو کميت خوراکم ؤ خودخوست ۲۵ فرقې ترقوماندې لاندې راوستلو کی کومه چی په خوست کی دنظامي قدرت يوازينی لوی اوقوي مرکزګڼل کيده ، پرچميانو دخلقيانوپه نسبت تاکو نکي اوسرغندوی رول ولوباوه ، پرچميانو اوخلقيانو دخوست حکمران ونيوه خو کله يې چی کابل ته





انتقالاوه په لاره کی يې ووژه.

دداؤد دولايتونو نوری نظامي قواوی په مرګ راوړونکی انتظار کی پاتی شوی خوهغسی چی داؤد ته دظاهر قواؤ دتبريکی او تسليمی تلګرامونه راوليږل دداؤد قواؤ ددی کارڅخه برده وکړه اوله کودتاچيانو څخه يې ملاتړ اعلان نکړ .

( دافغانستان نظامي ، جغرافيوی اوټولنيز حالات دوروستی پوی پيړۍ په اوږدوکی داسی حالت درلود چی هرچاپه کابل کی قدرت ترلاسه کړی وای اويا يې ترلاسه کاوه نوداپه ټول افغانستان کی دقدرت نيولو په مثابه ؤ خو دافغانستان مسلمان اوپتمن ولس به چی کوم پاچا اوقدرت مندخوښ نه شو نوتوری اوټوپك ته به يې لاس کړ اودغروراو دبدبې تاج به يې دهغه له سره دتوری اوغشی په زور ليری کړ).

دکودتا په لمړی ورځ د ۹ بجو څخه وروسته دخلقيانو اوپرچميانو ملکي غړوته دستور ورکړل شو چی دتيارسی په حالت کی واوسی اوبايد ټول په ملکي دريشيو ملبس وي اما دمازديګر تر پنځو بجو پوری صفوف په دی نه ؤ خبر چی کودتاچيان څوك دی خوصرف دومره ورته ويل کيدل چی داډنې زموږ (خلقيانو اوپرچميانو ) په ګټه دی . دوی څکه دپيل شوی کودتا څخه انکار کاوه اونه يې افشا کوله چی کودتاچيان پر ځان نه ؤ متکی اودناکامی امکانات يې موجود ؤ خوکه چيری ناکام شوی وای نودستور داؤ چی ټول خلقيان اوپرچميان به وايي چی داخو يو مرتجع اودوطن ضد عمل ؤ اماکله چی په کابل کی د داؤد قواؤ مقاومت ختم شو نږدې ؤ چی دروسی «اورا» په چيغو سره دخپلو خولو ونبکی خيری کړی .

داوُد دکودتا دپیل ځخه دده تروژل کیدو پوری په ارگ کی ؤ کله چی کودتاچیانو ماښام په اوو بجو د داوُد ځپل اعلان کړل داوُد لا ژوندی ؤ اماد داوُد دځپل کیدو خبر یی دده طرفدارو قواوجنگی مورال دراټیټولو پخاطر خپور کړ .

کودتاچیان دثورپه اتمه نیټه له غرمی مخکی هغه وخت شخصاً د داوُد سره مخامخ شول چی نور نودارگ قواوُ خپل مقاومت له لاسه ورکړی ؤ. کله چی کودتاچیانو پر داوُد باندی دتسلیمیدو غږ وکړ نو «داوُد » ترخه موسکا وکړه اوهغه ماشیندار ته یی لاس کړ کوم چی خواته یی ایښودل شوی ؤ .

ویل کیږی چی په همدی وخت کی د داوُد محصلی لور زرلښت نومی چی دکابل پوهنتون «دښکلوهنرونو » په پوهنځی کی یی تحصیل کاوه خپل پلار ته غږ کړ چی تسلیم شه دمرگ جدی خطر سره مخامخ شوی یونو «داوُد » لږی خپلی لورته دهمدی خبری ردځواب دماشیندار په خوله ورکړ او وروسته یی په کودتاچیانو ډزی پیل وکړ . «داوُد » یو کودتاچی ټپی کړ خوکودتاچیانو دلاسی بمونو اوماشیندارو په واسطه سره «داوُد » له پښو وغورځاوه او ژوند یی ورختم کړ .





# دثور له کودتا ځخه دروسانو په واسطه دافغانستان تر نظامی اشغالیدو پوری (۱۳۵۷-۱۳۵۸ هـ ش)

کودتاچیانو د۱۳۵۷ هـ ش کال دثورد ۷ نیټی په ماښام درادیو ځخه داسی اعلان وکړ چی ټول سیاسی قدرت نظامی انقلابی شوراته نقل شوی خو دنظامی انقلابی شورا سیاسی هویت یی ځرگند نکړ چی په کومو گوندونو پوری اړه لری اوغړي یی څوك دی.دکودتاځخه دری ورځی وروسته یی بیا دراډیو ځخه اعلامیه صادره کړه چی انقلابی شورا جوړه او نظامی شورا په انقلابی شورا کی مدغمه شوه.

تره کی دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم په توگه اوکارمل یی دانقلابی شورا او صدراعظم دمرستیال په حیث وټاکل اودافغانستان راډیو له لاری یی داساسی خطوطو په نوم چی خلقیانواوپرچمیانو داساسی قانون په مثابه تعبیرول ، ظاهراً خپل پروگرام او راتلونکی تگ لاره ځرگنده کړه خو دافغانستان مسلمان ولس د قبلیدو وړنه

گرځیده.

روسان ، خلقیان اوپرچمیان په دی عقیده وواودایی په داګه څرګندوله چی دخلك دموکراتیك ګوند ( دخلق اوپرچم مزدوری ولی ) تانکونه ، طیاری اونوری مهرنی وسلی په لاس کی لری

او روسان یی هم ترځنګ ولاړ دی پس هرپلان اوپروګرام چی وغواړی دافغانستان پرمسلمانو خلکو یی تطبیق کولای شی نوپه کم وخت کی یی دافغانی تولنی څخه روسی تولنی ته ورته تولنی جوړولو پخاطر زیات شمیر فرمانونه صادرکړل . په دولتی موسسو خصوصاً اردوکی دروسی مشاورینو کمیت ډیر شو اودافغانی تولنی په سیاسی اقتصادی ، کلتوری اوتولنیزو ساحوکی یی دانسانی فطرت اوترقی ضد تغیراتو راوستلو پروسه پیل کړه .دخلق اوپرچم ډلو دافغانستان مسلمان اوننګیالي ولس ته هغسی په خوارو ستر ګوکتل لکه څومره چی دوی خوار اوذلیل وو دوی به ویل چی «تودی پادی دی چی هری خواته یی بیایی هغی خواته ځی » خوتاریخ اوعمل ډیره زر وښوده چی داخلقیان اوپرچمیان دی چی روسان یی دغلامانو اولاس ترلیو بندیانو په څیر هری خواته څغلوی هغی خواته څغلی .

په رښتیا هم چی روسانو اومزدورانو یی (دخلق اوپرچم ډلی اودروسانونور اجنتان ) دافغانستان مسلمان او ننګیالی ولس دکروندو، رمو ، ګلو اونورو عادی کارونو ترسره کولو په بهیر کی نرم ، متحمل اوخواږه لیدلی وو خوپه دی نه پوهیدل چی دافغانستان مسلمان ولس چی هرڅومره ارام ښکاری نو بیا داسلام اودافغانستان داسلامی خاوری څخه په دفاع کی سیلابونه اودښمن تباه کوونکی توپانونه تری جوړیږی .





دخلق اوپرچم ډلی لادپخوانی تولواك محمد ظاهرشاه په دوره کی دافغانستان په مسلمان ولس کی دبی دینه ، دهری ، بی کلتوره (دافغانی باارزښته عنعنوضد ) اودروسانو په طرفدارانو مشهورشوی وو خوکله چی دشور ورانوونکی کودتا څخه وروسته یی سیاسی قدرت په لاس کی ونیوه دافغانستان دمجاهد او باتوره ولسونو سره یی داسلام عقل اوانسانیت څخه لیری سلوك اوکړه وره پیل کړل خودافغانستان مسلمانانو هغوی لاپخوا پیژندلی وو اودشور کودتا په دریمه ورځ دپکتیا ولایت دځدرانو په سیمه کی یی دکودتاچیانو (خلقیانواوپرچمیانو) اودوی طرفدارانو سره اسلامی چلند وکړاوهغوی یی له منځه یوړل وریسی یی په کنړونو کی پرخلقیانواو پرچمیانو وروډانګل اوترمرکونی ګوزارونو لاندی یی راوستل دڅومیاشتو څخه وروسته دافغانستان په تولو ولایاتو کی دروسی مزدورانو پرضد وسله وال جهاد پیل شو اوپه هیواد کی یی اکثریت ولسوالی اوعلاقه داری دایمان اوحق په زور ازادی اودروسی ګوداګیانو شوم پلانونه یی دشهادت دسروونو په سیلاب کی ډوب کړل.

د ۱۳۵۷ هـ ش کال دحوت په ۲٤ نیته دهرات په ولایت کی دروسی مزدورانو یعنی دتره کی اوامین غیر اسلامی رژیم پرضد وسله وال اسلامی پاڅون وشو اوتول ولایت دمسلمانانو په واسطه فتحه شو خودروس هوایی قواؤ په کمك سره په روسی بمونو باندی یی تول ولایت زیر اوزبرکړ او۲۸ زره مسلمانان یی په شهادت ورسول دغی دحق اوباطل سختی جګړی څخه وروسته دهرات ښار مجاهدینو تکتیکی عقب نشینی وکړه اوپه تول افغانستان کی دمجاهدینو بریدونو

اوبریالیتوبونوشدت پیداکړ.
د۱۳۵۸ هـ ش کال دسرطان په دریمه نیټه دتره کی اوامین رژیم پرضد په کابل کی د«چنداول » هغه اسلامی وسله وال قیام ؤکوم چی داسلام اواسلامی ولس زور بی ملحدینو ته په عملی بول وروښود. په دی اسلامی پاڅون کی دتره کی اوامین اسلامی ضد رژیم ته یی زیات ځانی اومالی تاوانونه ورواړول .
په همدی بول سره هغه اسلامی وسله وال قیام چی د۱۳۵۸ هـ ش کال داسد میاشتی په اولسمه نیټه دکابل بالاحصار څخه پیل شو دپوځیانو اوولس لخوایی په کده صورت ونیوه . دوی په لنډه موده کی دکابل بالاحصار اوهغه څیرمه منطقی ازادی کړی اودارگ په لوری یی حرکت پیل کړ په دی موقع کی دتره کی اوامین غیر اسلامی رژیم چی په نظامی ، سیاسی ، ایدیالوژیکی اواقتصادی ساحو کی په روسانو پوری تړلی ؤ ، هوایی اومځکنیو نظامی قواؤ دقیام کوونکو دپرمختګ مخه ونیوه اودیوی سختی خونړی جګړی څخه وروسته قیام کوونکی تاکتیکی عقب نشینی ته مجبور شول اوبالاحصار بیرته دتره کی او امین رژیم قواؤ ته په لاس ورغی .
په دی بول سره دځو میاشتو په بهیر کی دافغانی مجاهدینو بی شمیره جهادی کارنامی ، سوبی اوقهرمانی ترسره کړی چی دنوی دهری شیبی تاریخ اوباتوریو په اړوند باید لوی اوزیات شمیر کتابونه ولیکل شی خوپه دی لیکنه کی ددغه تاریخ دیره کوچنی اوباریکه ریښه ترلند او ځغلنده نظر لاندی نیول شوی ده .
دخلقیانواوپرچمیانو پرضد اودغو مزدورو دلو دسیاسی قدرت دختمولو او دیوه خپلواك اسلامی دولت داستقرار په خاطر په کلیو





اوبانو ، ښارونو اوبازارونو کی جهادی بهیر لانور هم ځپاند شو اواکثریت ولسوالی دمجاهدینو په لاس فتحه شوی.
نوکه چیری په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه نیټه روسانو مستقیمه نظامی مداخله نه وای کړی دخلق اوپرچم دلو دله منځه تللو شرایط تیارشوی وو اما دروسانو مستقیمی نظامی مداخلی داپروسه وځنډوله اودافغانستان دلابی ساری مادی اومعنوی ارزښتونو دبربادی سبب شول .
دثور کودتا څخه ځلور میاشتی وروسته دخلق اوپرچم دلو ترمنځ اختلاف علنی بڼه غوره کړه اودپرچمیانو مهم غړی یی باندنیو هیوادوته دسفیرانو په توګه ولیږل کارمل یی چکوسلواکیا، محمود بریالی یی پاکستان ، نوراحمد نور یی امریکا،نجیب یی ایران اونوریی نورو هیوادونو ته دسفیرانو په حیث ولیږل.که څه هم امین دی ته دومره نه ؤتیار چی روسان په خپل ځان باندی دفوق العاده قوماندانانو په څیر ومنی اودولتی اوګوندی چارو څخه دپرچمیانو شړل دامین په خوښه ترسره شول خودسفیرانو په توګه دکارمل اونورو پرچمیانو لیږل دروسانو یا کی ، جی ، بی په خوښه صورت ونیوه ځکه چی روسانو له دی ویره درلوده چی کارمل اودروسانو لپاره دپرچمیانو نورمهم غړی به دخلقیانو خصوصاً امین په واسطه په پټه ووژل شی.دروسانو دغی پیشبینی تریوه حده پوری حقیقی بڼه هم درلوده (تره کی دروسانو سره په تفاهم کی پرچمیان پخپل ځنګ کی منل خو امین چی په نظامی ساحه کی یی ترټولو زیات قدرت په لاس کی نیولی ؤ دی کارته غاړه نه ایښوده ) ځکه چی کله د۱۳۵۷ هـ ش کال په نیمایی کی دپرچمیانو یوشمیرغړی دسفیرانو په توګه بهرته

ولیږل شول دنورو پرچمیانو بندی کیدل اوله منځه وړل دروسانو ترنظامی مداخلی پوری دوام وکړ خودوی وژل یی دپرچمیانو په نوم نه بلکی داخوان المسلمین په نوم عملی کول نوکه چیری دپرچمیانو هغه غړی چی دروسانو لپاره نسبتاً زیات مهم وو دافغانستان په داخل کی پاتی شوی وای کیدای شول چی په کومه طریقه سره یی له منځه وړی وای .

دسفیرانو په توګه دیو شمیر پرچمیانو دتللو څخه وروسته کی ، چی ، بی په افغانستان کی پاتی شویو پرچمیانو ته دستور ورکړ چی خپل روابط اوتشکیلات په سری اوپټه توګه تینګ ، جلب اوجذب پیل کړی اوټولو پرچمیانو اوپرچمیانو طرفدارانو ته داابلاغ کړی چی امین دګوند په داخل کی کودتا وکړه اوټول ګوندی اودولتی قدرت یی دنظامیانو په زور پخپل لاس کی نیولی دی نوباید چی راوپرځول شی. پرچمیانو دی کارته دوام ورکړ.د۱۳۵۷ هـ ش کال په نیمایی کی پرچمیانو دکی ، جی ، بی په دستور کودتا ته اقدام وکړاما ناکام شول .

سلطان علی کشتمند چی په هغه وخت کی دپلان وزیر ؤ اوعبدالقادر چی په هغه وخت کی ددفاع وزیر ؤ (عبدالقادر اصلاً دخلقیانو له ډلی څخه ؤ خو روسانو نوموړی ته دستور ورکړچی دپرچمیانو سره یو ځای کودتا ته اقدام وکړی ) اوپو زیات شمیر نور پرچمیان یی بندیان کړل.دپرچمیانو په واسطه له کودتا څخه دکی ، جی ، بی هدف داؤ چی اصلی قدرت پرچمیانو ته وسپاری اوخلقیانو ته دوهمه درجه ګوندی اودولتی مقامونه ورکړی اوپو شمیر هغه خلقیان لکه امین اوطرفداران یی اوهغوی چی دروسانو عام او تامه قومانده نه منی له





منځه یوسی اویاداچی له قدرت څخه یی وغورځوی
وروسته له دی دپرچمیانو بندی کیدل اووژنه ګوندی شوه خو روسانو په ټولو امکاناتو سره دپرچمیانو له وژل کیدو څخه مخ نیوی ته اقدام وکړ روسانو تره کی ، امین او دخلقیانو نورومقاماتوته په ډاګه کړه چی که چیری دپرچمیانو وژل دوام وکړی روسان یی دخلقیانو اوځان لپاره په زیان بولی .

امین هم په علنی ډول سره ددی مطلب مخالفت ونکړ.روسانو پرچمیانو ته خبر ورکړ چی کله مو خلقیان ونیسی اوبندیان شی نوپه تحقیق کی به ورته لیکی چی زه پرچمی یم نوبیا به موبندی کړی خوږلی مونشی له دی خبر وروسته پرچمیانو همداسی کول اوچی بندیان به شول په تحقیق کی به یی ورته لیکل چی موږ پرچمیان یعنی دببرک ډله یو خوبیایی هم یو شمیر پرچمیان له تیغه تیرکړل اوکله به چی خلقیانو روسانو ته دپرچمیانو دقتل دوسیی ورښودلی نو به یی داجرم یکی لیکلی ؤ چی داداسلامی تحریک غړی وو نوپه دی صورت کی به خلقیان دروسانو له مخالفت اوتهدید څخه خوندی وو خوپو تعداد پرچمیان اودافغانستان زیات شمیرمسلمانان یی کوم چی دتره-کي اوامین رژیم په وخت کی نیول شوي وو ، بي له تحقیق څخه ورك اوله منځه یووړل .

روسانو په اګسا کی دتوجه وړ نفوذ درلود ځکه چی روسانو داګسا له رئیس اسدالله سروری سره مستقیمی اړیکی درلودی اوهغه یی باوری اجنټ ؤ ( دداؤد دپټو پولیسو دستګاه نوم مصئونیت ملی ؤاو د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیټی کودتا څخه ورسته یی هغه داګسا یا«دافغانستان دګټو ساتندوی » په نوم ونوماوه اوداګسا دغه رئیس اسدالله سروری

دروسانو په واسطه سره پر افغانستان له مستقیم نظامی تیری څخه وروسته دنسبتاً کم وخت لپاره په اصطلاح دانقلابی شورا او صدراعظم دمرستیال په توګه هم مقرر شو ) داګسا دغه رئیس په یوه صحنه کی دری روله لوبول په دی معنیٰ چی هغه ظاهراً هم دتره کی امرونو ته غوږنیوه اوهم یی دامین خوکی ، چی ، بی ته ترتولو وفاداراوهغی حقیقی راز داروُ نوروسانو ددی لاری څخه چی هرڅومره کولای شول هم یی خپل دوستان (پرچمیان ) له وژلو څخه بچ کول اوهم یی خپل دښمنان (داسلامی تحریك غړي اونور وطن دوستان ) په شهادت رسول .

داګسا څخه داسی خونړی او وحشی دستګاه جوړه شوه چی دزیات شمیر سیاسی بندیانو به لادتحقیق مراحل نه وو بشپړ شوی چی قتل اوشهیدان به یی کړل داکارهم تره کی په اګسا کی دخپلو وفادارو اشخاصو پواسطه ترسره کاوه اوهم امین.همدارنګه کی ،جی ، بی داګسا رئیس او دهغو اجنتانو په واسطه چی دمختلفو لارو څخه یی هلته ځای په ځای کړی وو دبی شمیره مسلمانانو دشهادت سبب شول ځکه خو کله چی روسانو په افغانستان کی مستقیمه نظامی مداخله وکړه اوددستګاه یی په مکمل ډول سره ترخپلی ارادی اوتسلط لاندی راوسته نوبیا یی دیوشمیر اعدام شویو اوشهیدانو نومونه اعلان کړل اودهغو تولو مسولیت یی چی روسانو اوتره کی وژلی اوشهیدان کړی وو دامین په غاړه ورواچاوه په دی وخت کی چاته پوره څرګنده نشوه چی ددی انسان خوری دستګاه له لاری څومره مسلمانان شهیدان شوی دی اوترڈی دمه پوری دهغو زرګونو مسلمانانو دژوند اویا شهادت هیڅ نښی اونښانی نه دی پاتی شوی کوم چی دنوموړی





دستګاه په واسطه نیول شوی دی .

د۱۳۵۸ هـ ش کال دسنبلی میاشتی په اخیرو کی دامین په واسطه سره تره کی له منځه ولاړاو داګسا رئیس یی له خپلی وظیفی څخه وشاړه اوپرځای یی خپل وراره اسدالله امین مقررکړامین هم دنوموړی استخباراتی دستګاه اګسا نوم ته تغیر ورکړاوهغه یی دکام (کارګری اطلاعاتی مؤسسه ) په نوم ونوموله امین دخپل قدرت په څومیاشتنی دوره کی هم زیات شمیر مخالفین ددی دستګاه له لاری شهیدان اوله منځه یوړل دروسانودنظامی مستقیمی مداخلی څخه وروسته کی ، جی ، بی دکام رئیس اسدالله امین وواژه همدارنګه دکام نوم یی په خدمات اطلاعات دولتی ( خاد ) واړاوه اونجیب دکابل رژیم اوسنی رئیس یی دهغه په راُس کی مقررکړ.

دروسانو لپاره دامین موجودیت یو دهغو اساسی پرابلمونو څخه وُ کوم چی دوی په افغانستان کی ورسره لاس په ګریوان وو تره کی به امین ته دوفادار اولایق شاګرد خطاب کاوه اوامین به تره کی دګوند روح باله خوپه حقیقت کی دواړو دیوه اوبل دفریب اوغولوونی په خاطر ظاهری احترام اونړدیوالی ښوده اوهریو په دی هڅه کی وُچی څنګه وکولی شی مقابل لوری مغلوب کړی اماامین نه غوښتل چی تره کی زرله منځه یوسی ځکه چی امین دتره کی په موجودیت کی هغه څه تر لاسه کولای شول چی بی له هغه یی ورته مشکلات پیداکول اوتره کی اکثریت هغه امکانات له لاسه ورکړی وو کوم چی دامین دخپل سری مخ نیوی یی پری کړی وای .

تره کی دروسانو په مشوره د۱۳۵۸ هـ ش کال په نیمایی کی خپل سفر کیوبا اوروس ته پیل کړ په روس کی یی له بریژنیف سره

دافیصله وکړه چې په هرصورت وی امین به له منځه وړی اوپرچمیانو ته به دوهمه درجه ګوندی اودولتی مقامونه سپاری کله چې تره کی بیرته راستون شو دامین راز دارسیدداؤد ترون کوم چې دترکی سره په نوموړی سفر کی ملګری ؤاودتره کی یاوړۍ تول هغه جریان چې ورڅخه یی خبردرلود امین ته بیان کړ.ویل کیږی چې دتره کی سره په دی سفر کی شاه ولی چې دتره کی له وژل کیدو څخه وروسته دبهرنیو چارو وزیر .اودصدراعظم دمرستیال په توګه وټاکل شو، ملګری ؤ اوکله چې افغانستان ته راستون شو نو دسترګو لیدلی حالت یی امین ته بیان کړ اوامین یی نور هم زرنګ اوځان ساتنی ته متوجه کړ.

د۱۳۵۸ هـ ش کال دسنبلی میاشتی په اخیرو کی تره کی امین ته تلیفون وکړ او ورته ویی ویل چې کارمی درسره پیداشوی یو واری زما دفتر ته راشه.همداځای ؤچې دتره کی او دروس سفارت یا کی ، جی ، بی پلان کوم چې دامین دله منځه وړلو پخاطر یی طرحه کړی ؤ باید عملی شوای وای.امین دخپلو باډیګاردانو (ساتونکو) سره ارګ ته ورغی خوکله چې دتره کی دکار دفتر ته ورننوت دتره کی ساتونکو دکلاشینکوفونو بزی پری وکړلی خو دامین رازدار سیدداؤد ترون ځان ورمخی ته کړ اوژوند یی پای ته ورسید اما امین په مټ کی سرسری ټپی شو خودوژنی څخه بچ شو ( امین څو ورځی وروسته دخپل دغه ملګری داحترام په خاطر دجلال اباد ښاردترون ښار په نوم ونوماوه ) خو دامین ساتونکو وکولای شول چې دتره کی ساتونکی له منځه یوسی اوتره کی یی ژوندی ونیوه اما بیا وروسته یی دبالښت په واسطه له منځه یووړ.دوی څکه بالښت په خوله ورکیښود ترڅو داسی څرګنده شی چې دکومی مریضی په اساس له منځه تللی دی او په ګوند کی





دامین په زیان انعکاسات اوعکس العملونه کم شی .

امین دتره کی له وژلو څخه وروسته په ۱۳۵۸ هـ ش کال دسنبلی په ۲۶ نیټه دراډیو تلویزیون څخه دتره کی استعفا داسی اعلان کړله چې تره-کی دهغی مریضی له امله چې ورته پیښه شویده دخپلو ګوندی اودولتی وظیفو څخه استعفا وکړه په دی ترتیب سره امین دتولو ګوندی اودولتی وظیفو په راس کی قرار ونیوه خوبیا هم روسانو ترتولو زرپه رسمیت وپیژاند.د۱۹۱۷ م کال څخه ترنن پوری خصوصاً په دی اخیرو کی په افغانستان کی چې هرڅوك قدرت ته رسیدلی روسانو ترتولو زر په رسمیت پیژندلی دی خوکوم چې یی په کته نه وو دهغوی دله منځه وړلو لپاره یی دهیڅ ډول توطئو څخه ډډه نده کړی نو ځکه یی امین هم په رسمیت وپیژاند اوهم یی دله منځه وړلو په دسیسو زور واچاوه .

دتره کی له وژل کیدوڅخه وروسته دده (تره کی) طرفداران اسلم-وطنجار ، سید محمد ګلاب زوی اوشیرجان مزدوریار چې دروسانو سره یی مستقیمی اړیکی درلودی دامین له ویری په کابل کی دروسانو سفارت ته وتښتیدل اودروسانو دنظامی مداخلی څخه وروسته (۱۳۵۸/۱۰/۶ هـ ش ) ګلاب زوی یی دکورنیو چارو دوزیر په صفت وټاکه ، وطن جاریی دمخابراتو وزیر اومزدوریار یی دترانسپورت وزیر په حیث مقررکړ .

امین دډیو اومنطقوی تعصبانو په راژوندی کولو سره پرځان باندی یو شمیر افسران اوځوانان راټول کړای شول اوهم یی په خاصه روپه سره یوشمیر افسران او نورمهم اشخاص دځان طرفدار کړل کله به چې کوم افسراویا بل شخص هغه چې دامین لپاره به مهم ؤ دده دفتر ته راغلل امین به له هغی تولی دبدبی اوخاصی او توریتی سره چې

درلوده یی له خپلی چوکی څخه پورته شو په ورین تندی الخندا یکه خوله به یی دهغه سره ستړی مشی او روغبړ وکړاودیوه چای په پوځای خورلوسره به یی نوموړی اشخاص دی ته تیار کړل چی باید شخصاً دده (امین) پخاطر قربانی ورکړی .

دامین دقدرت په وخت کی دتره کی ډلی دروسانو په دستور یوه کودتا پیل کړه خوناکامه شوه اودکودتایو شمیر کمونیستان کوونکی یی ونیول اوله منځه یی یووړل امین دتره کی دله منځه ورلو څخه وروسته دکم وخت لپاره په قدرت پاتی شو (۱۳۵۸/۶/۲۶–۱۳۵۸/۱۰/۶ هـ ش) اوپدی موده کی یی ټول هغه خلقیان چی په دولتی اوګوندی لوړومقامونو کی یی کارکاوه اوده ته ( امین ته ) وفادار نه وو دخپلو وظیفو څخه وشړل دقانونیت ، مصئونیت ، اوعدالت ترشعارونو لاندی یی بیشمیر بندیان ازاد کړل خودی دامعنا نه درلوده چی دیکتاتوری اووحشت کم شوی وُ امین ټول هغه کسان چی دده سره یی جدی مخالفت کاوه یایی شهیدان او ووژل اویایی بندیان کړل اوپه انسان وژنه دافغانستان دمسلمانانو په تهدید ، تعقیب ، غیر مصئونیتی اوبی عدالتی په اړوند تره کی ، امین ، کارمل اونجیب دیوه اوبل څخه کم نه وُاوهمدااوس روسان او مزدوران یی (خلقیان ، پرچمیان اونور اجنتان یی ) دافغانستان دټولو مادی اومعنوی ارزښتونو په تباه اوبربادی کی خپل وس نه سپموی اودمسلمانانو دشهیدولو او غولونی خطرناکی طریقی پکاراچوی .

امین او روسانو یواوبل په تشو خبرو سره تیر ایستل روسانو دامین له منځه ورلو لپاره دهری مناسبی اوممکنی وسیلی اولاری څخه کار اخیسته اوپه روسانو باندی دامین اعتماد نور هم کم شوی وُ په دی





وخت کی په افغانستان کی روسی مشاورینوپه خاص ډول سره دمسلحو قواؤ روسی مشاورینو ، دهغوی اجنټانو اوطرفدارانو دامین دراپرځونی پخاطر په ټولو دولتی اوغیر دولتی ساحو کی په سبوتاژ ، دامین پرضد تبلیغ،دده ضعیفولو اوبدنامولو لپاره ډول ډول کړو وړو ته لاس واچاوه . په دی پراو کی داردو اړونده روسی مشاورینو په دستور دمجاهدینو سره دجګړی ترنامه لاندی بی شمیره جنګی مهمات په مصرف رسول کیدل . دبیلګی په ډول دروسی مشاورینو په دستورؤ دتوپونو کارتوس (مرمی ) بی هدفه اوهومره زیات ویشتل چی دامین رژیم په لازم اوکافی ډول سره دهغوی دتیارولو امکانات له لاسه ورکړل اومسلحو قواؤ ته دامین له خوا خبر ورکړل شو چی دوی هغه وخت دتوپونو کارتوس ډزولی (فیرکولی ) شی چی دهغه دیوه ډز په نتیجه کی خو تنه مخالفین له منځه یووړای شی .

روسی مشاورینو به دامین نظامی قواوی په شعوری ډول سره دجګړی لپاره داسی سوق اداره اوعیارولی چی زیات تلفات ورته ورسیږی . روسانو داسی حالات رامنځ ته کول چی امین دی ته مجبور شی ترڅو ددوی ټول دستورونه ومنی اوکه داونه شول نو یی هومره بدنام کړی چی ټول ولس ورڅخه لاس په سرشی . سره ددی چی دتره کی دقدرت اړوند په وخت کی دافسرانو او ورو ضابطانو میاشتنی تنخواه (۱۰۰۰) افغانی لوره شوه خو امین دخپل قدرت په لومړیو کی دعسکری قواؤ دملاتړ حاصلولو لپاره دورو ضابطانو اوافسرانو تنخواه سل فیصده لوړه کړه اودهغو صاحب منصبانو تنخواه کومو چی په «کام » کی کار کاوه دنورو افسرانو په نسبت لانوره هم لوړه وه ( کله چی په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه نیټه روسانو مستقیمه

نظامي مداخله وکړه دغه دترور ، بربريت اوولسونو دتهديد استخباراتي دستګاه يې ديوه سره اوتوله په نظامي ارګان واړوله.) دتره-کي اوامين رژيمونو په وخت کي دپښتو ټولني اکاډمي کومه چي په پښتو ټولنه مشهوره شوې وه اود پښتو رسمي دولتي کورسونه لغوه شول په داسي حال کي چي پښتو ژبه عملاً ديوازيني دفتري ژبې په حيث قبوله شوه اوپه اګسا اوکام کي دتحقيق دوسيي په پښتو ژبه ليکل کيدی خو دامين په له منځه وړلو اودکارمل په راوستلو سره په خاد (واد ) کي دسياسي متهمينو دوسيو ليکنه په فارسي ژبه پيل اوترنن پوري دوام لري .

دتره کي او امين غير اسلامي رژيمونو کي به هغو دولتي مامورينو چي مورني ژبه يې پښتو نه وه په ډير مشکل سره په پښتو ژبه ماتي ګوډی خبري کولي اواکثرو به که دپلار په اروند ونه شول کولای نو دمور په ارتباط به يې ځانونه په پښتنتو پوری تړل ترڅو وکولی شي دوی په فکر په دی دول سره دورکړل شويو چوکيو څخه ليری نشي اودبندی کيدو اووژنی څخه بچ شي خو په حقيقت کي تره کي اوامين دخپلو اصلي اوعمده مخالفينو په له منځه وړلو کي ژبی ته اهميت نه ورکاوه .

پرچميانو دتره کي اوامين په رژيمونو کي په خورا احتياط اوپټ دول سره په خپل منځ کي اړيکي ساتلي اويو شمير غړيو ته يې دستور ورکړ چي دتره کي اوامين له رژيمونو سره دمخالفت تر پردی لاندی دمجاهدينو په منځ کي ځای ونيسي اوکه چيري به دکوم پرچمي دبندی کيدو اويا وژلو احساس وشو نو په دغه صورت کي دوژل کيدلو يابندی کيدو څخه دنجات په خاطر به په مجاهدينو کي هغو پرچميانو





ځه معرفي کيده چي په خوا به هلته ځای په ځای شوی وو . دامين رژيم په وخت کي دپرچميانو هغی مشری له خوا چي مسکواودروسانو تر استعمار لاندی ختيځی اروپا هيوادونو ته راتول کړای شوی وو دروسانو په لارښوونه يوه اعلاميه ترتيب اوافغانستان ته راوليږل شوه دغه اعلاميه دپرچميانو په پټه تنظيم شويو حلقو اويو شمير هغو خلقيانو ته ورکړل شوه چي دامين سره يې په تضاد کي قرار درلود . ددغی اعلاميی له مطالبو څخه داسی څرګنديده چي دامين دله منځه تللو وخت دپرچميانو ، دامين ضد خلقيانو اوپه اصطلاح ددوی بهرنيودوستانو په مرسته رانږدی شوی دی خو دروسانو څخه په خاص دول سره يادونه پکی نه وه شوی .

روسانو او دامين هغو مخالفينو چي دروسانو څخه يې طرفداری کوله او يو شميرنورو سياسی وګرو داسی تبليغات کول چي امين له مخالفينو سره تماس نيولی ترڅو په قدرت کی يې شريك اوپه ګډه سره ائتلافی حکومت جوړکړی په نوموړي مطلب باندي ترنن پوري په يوه اوبله بڼه خبری اوتبصری کيږي.

روس ته دتره کی له سفر څخه پخوا روسانو هغو پرچميانو ته چي سفيران اويا باندنيو هيوادوته تبتيدلی وو دستور ورکړ چي مسکواويا ددوی ترتسلط لاندی ختيځی اروپا هيوادونو (چکوسلواکيا ...) ته راټول شي دغوسفيرانو دورسپارل شويو سفارتونو دهغی جملی څخه دامريکا متحده ايالاتو ، انګلستان ، پاکستان ، ايران اويو شمير نورو هيوادونو کی دافغانی سفارتونو دارايي لوټ او دځانو سره يې مسکو ته نقل کړه .

په دی وخت کی «کی ، جی ، بی» بهرنيو هيوادونو ته دتښتيدلو

پرچمیانو په راس کی کارمل وټاکه اوپه افغانستان کی یی پرچمی اجنټ ظهور رزمجو چی دروسانو په واسطه سره دافغانستان له نظامی اشغال څخه وروسته دکابل ښار کوندی کمیټی دمنشی په حیث وټاکل شو، دپرچمیانو په راس کی تعین کړ . روسانو له امین سره دیو شمیر نویو محاربوی ماشینونو (ټانکونو) قرار داد لاسلیک کړاوروسانو داپرخان ورته ومنله چی نوموړی ټانکونه به دکابل په هوایی ډګر کی دامین رژیم ته سپاری .

ددغو ټانکونو انتقال یی د۱۳۵۸هـ ش کال دجدی په دریمه نیټه دځلور ماشینه نظامی باروړونکو روسی الوتکو په واسطه دروس څخه کابل ته پیل کړ خو دکابل په هوایی ډګر کی دنوموړو ټانکونو ساتنه ترهغو پوری روسانو په غاړه اخستی وه ترڅو چی یی دامین رژیم ته په رسمی ډول سره نه وای تسلیم کړی.دټانکونو راوړل دشپی او ورځی لخوا په دوامدار ډول سره جریان درلود اودجدی پنځمی ورځی ترماښام پوری یوه دقیقه هم داسی تیره نه شوه چی دکابل په فضا کی به دریو څخه تر پنځو پوری ذکر شوی الوتکی ونه لیدل شوی. دټانکونو په منځ کی هغه روسی عسکر ځای په ځای شوی وو چی په مخصوص ډول سره نظامی ښوونه او روزنه ورکړل شوی وه او ترهغو پوری یی دګنی کونی اودټانکونو څخه په زیات شمیر راوتلو څخه مخ نیوی وکړترڅو چی یی دامین په پلوی قواؤ اواستوګنځی باندی وسله وال برید اوبرغل نه ؤ پیل کړی اما یوشمیر پرچمیانو اونورو مختلفو اشخاصو داهم تبلیغوله چی امین پخپله دروسانو په مشاوره سره دروس څخه دیوه وسله وال کنوك غوښتنه کړی وه ترڅودخطر په وخت کی دامین رژیم څخه دفاع وکړی اما روسانو ددی موقع څخه ګټه





واخستله اونوره اضافی قوه یی رانقل کړه .

«کی ، جی ، بی » په افغانستان کی دروسانو له نظامی تیری څخه څو ورځی مخکی په دوامداره توګه په افغانستان کی دخپل سفارت له لاری ټول امکانات هڅی اوتلاشونه په لاګرندی ډول سره په کارواچول ترڅو چی په امین باندی نیشه یی مواد خوری اویا په کومه بله طریقه سره یی ونیسی ترڅودی ته یی مجبور کړی چی افغانستان ته دروسیی نظامی قواؤ راتګ اودګوندی اودولتی چارو څخه دده استعفا پخپله درادیو او تلویزیون څخه اعلان کړی اوداسی تاکید وکړی چی داهرڅه دده (امین ) اودده درژیم په خوښه ترسره شویدی .

خودامین زرنګی اوتاکتیك نسبتاً پیاوړی ؤ اوکی ، جی ، بی دټولو هلو ځلوسره سره داامکان ترلاسه نکړ چی امین ترخپلی ارادی لاندی راولی خوحیوانی لګته دروسانو پری قوی شوله .

کی ، جی ، بی په کابل کی پرچمیانو ته دستور ورکړ چی یو سیاسی مانور اجرا کړی او د۱۳۵۸هـ ش کال دجدی دشپږمی نیټی څخه څو ورځی مخکی نسبتاً زیات شمیر پرچمیان دورځی له خواپه دله ائیزه توګه دکابل پوهنتون په ساحه کی سره راټول اوبیا بیرته زرتیت شول.

دکی جی ، بی له خوا په افغانستان کی ددوی اعتمادی پرچمی اجنټانو ته دروسی عسکرو دراتګ په اړوند د۱۳۵۸هـ ش کال دحوت شپږمی نیټی څخه خوهفتی پخوا یو شمیر وعدی اوداډ ګیرنی ورکړل شوی وی اودروسی عسکرو دراتلو نښی اونښانی خولاڅو میاشتی پخوا احساسیدلی خودروسی نظامی قواؤ دراتګ څخه یوه هفته مخکی نوموړی مطلب ( دروسی نظامی قواؤ په واسطه سره پرافغانستان تیری ) په زیاته پیمانه سره افشا شولاکن امین دروسانو

داعمل ( مستقیمه نظامی مداخله ) هغه وخت قبوله کړه کله چې روسانو دده له وجود څخه غلبیل جوړکړ .

روسانو د۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی دپنځمی ورځی په ماښام داوویجو په حدود کی دکابل هوایی ډګر پخپل کنټرول کی راوست اوخپلی زغره-والی قواوی یی دڅو دقیقو وروسته په دارالامان کی دهغه قصر (دتاج بیګ غونډی قصر ) څخه تاوکړلی چی امیر امان الله خان دخپل استوګنځی لپاره دنوموړی غونډی په سرباندی جوړکړی ؤ اوامین هم دخپل استوګنځی په توګه انتخاب کړ.

روسانو هغه وکړه چی قصرته ورننوزی اوامین ژوندی ونیسی خوامین ساتونکو مقاومت وکړچی په نتیجه کی سخته اوشدیده جګړه دروسانو اودامین پلوی قواؤ ترمنځ پیل شوه دروسانو ټانکونه دامین قواؤ دټانک ضد راکټونو په واسطه سره په تورو دوډونو کی پټ اوپوشمیر ټانکونه یی له منځه یوړل خودقوی تناسب زیات تفاوت درلود دروسانو دقوی کمیت زیات اووسلی یی مدرنی وی اوبڅلورو ساعتو شدیدی جګړی څخه وروسته روسانو وکولای شول چی دامین قواؤمورچلونه اوهغه قصرچی امین پکی اوسیده ( دتاج بیګ غونډی قصر) دټانکونو دتوپونو په واسطه زیر اوزبر کړی چی په نتیجه کی هیڅوک پکی جوړپاتی نه شول اکثریت یی ووژل اودیر کم یی سخت ټپیان شول چی دوژل شویو سره یی پیژندګلوی مشکله وه اودامین جسد پداسی حال کی چی پوره نه پیژندل کیده روسانو ته په لاس ورغی خودهغه (امین ) دخښیدو ځای هم ندداؤد » اوترکی » په شان ورک اوچاته یی په دقیقه توګه پته نشته .

دهمدغی شپی دیوولسو بجو په حدودو کی دامین داوسیدو نکرشوی





ځای اولږ څه مخکی راډیو تلویزیون دروسانو په لاس کی کیوتل اوخپله قبضه یی پری ولګوله خوتریوولسو بجوپوری دافغانستان راډیویی خپرونو دپخوا په شان عادی بڼه درلوده اوپه همدایوولسو بجو یی ناڅاپی دکارمل بیانیی په خپرولو پیل وکړ.اصل مطلب خوداؤچی دافغانستان راډیو خپرونی یی پای ته ورسولی په همدی موجونو یی دتاشکند راډیو څخه دکارمل ثبت شوی بیانیه خپره کړه اوله دی وروسته دځمکی اوهواله لاری روسی نظامی قواوی افغانی اسلامی خاوری ته دملخانو سیل په شان په داخلیدو شوی .

په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه نیټه سهار په شپږو بجویی دراډیو څخه دپرچم اوخلق دلو څخه جوړه شوی ګډه ګوندی مرکزی کمیټه اعلان کړه امین اودهغه دله یی خائینه اوغداره اوخپل ځانونه یی دروسی ټانکونو په سیوری کی دوطن رښتینی ساتونکی معرفی کړل .

په همدی ورځ دخلق اوپرچم دلو یو شمیر مشهور شوی غړی په روسی ټانکونو کی له روسانو سره د راه بلد په توګه لیدل کیدل اودمرکزی کمیټی نورو غړو یی دیو شمیر روسانو سره په راډیو تلویزیون کی موقعیت اختیارکړاودامین وزیرانو اومرکزی کمیټی غړو ته یی دراډیو څخه اعلان خپورکړچی ټول راډیو ته پخپله راشی خو دامین طرفداران پخپله خوښه رانه غلل .

دپرچمیانوهغو ملکی غړو ته چی په کابل کی یی استوګنه درلوده دستوروورکړ شوچی دجدی په ٦ سهار په اتوبجو هغه تعمیرته راټول شی کوم چی دروسی سفارت غرب خواته یی موقعیت درلود دغو پرچمیانو ته په نوموړی تعمیر کی موجود کلاشینکوفونه دروسانو په لاس توزیع اوویشل شول اودیو شمیر دولتی موسسو دساتلو لپاره په داسی حالت کی وګمارل شول چی له متو (لاسونو ) یی سپین رنګی لتی ترلی وی .

دپرچمیانو دلی دجدی په اوومه اواتمه نیټه مخصوص وسله وال گروپونه وگمارل ترڅو په کابل کی دهغو گوندی اودولتی کارکوونکو څخه وسلی ټولی کړی کوم چی دخلق په دله پوری ترلی دی په دی دوو ورځو کی یی اکثریت هغه خلقیان چی دملکی مامورینو دندی یی درلودی خلع سلاح کړل خو کله چی له دوو ورځو څخه وروسته دخلقیانو نوی مرکزی کمیټی یوشمیر غړو ته (دخلقیانو اوپرچمیانو نوی گډه گوندۍ مرکزی کمیټه لاپخوا په مسکو کی جوړه شوی وه ) داخبر ورسید هغوی سم دلاسه روسانو ته شکایت وکړ چی باید دهغو خلقیانو څخه وسلی ټولی نکړی هغه چی دامین دلی سره مستقیمی اړیکی نلری .

روسانو پرچمیان له دی کارڅخه منع کړل خوداځرگنده نه شوه چی دخلقیانو ملکی کارکوونکو څخه دوسلو ټولول دروسانو په اشاره ؤاوکه پرچمیانو داجرأت په خپله کری ؤ .

روسانو کارمل دخلك دموکراتیك گوند ( دخلقیانو اوپرچمیانو ) دعمومی منشی په اصطلاح دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم په توگه وټاکه اوخلقیانو ته دوهمه درجه گوندی اودولتی مقامونه ورکړل شول .

سره ددی چی په اردوکی دپرچمیانو په نسبت دخلقیانو کمیت زیات ؤ خوروسانو په عمومی دول سره په اردو کی دخلقیانو اوپرچمیانوقدرت دتعادل په حالت کی وساته اما دکورنیو چارو وزارت په عمومی دول سره دخلقیانو دتجمع اوقدرت سنگارندوی شو اوداو( پخوانی خاد) دپرچمیانو دغه حالت ترهمدی نن پوری دوام لری .

روسانو دامین یو شمیر هغه طرفداران چی ونیول شول ووژل اودروسانو اودروس مزدورانو په واسطه سره دمجاهدینو اومسلمانانو دشهیدولو اودروسانو او دهغوی مزدورانو په مقابل کی دجهاد باتوریو اوننگونو نوی بهیر پیل شو.





# دروسانوله نظامی مداخلی څخه ترنن پوری

## (۱۳۵۸ -۱۳۶۹ ) هـ ش

کله چی روسی نظامی قواوی د ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه نیټه دکابل په ښار کی مسلطی شوی نوورسره سم په افغانستان کی د«کی،جی ، بی » رسمی کارکوونکو شمیر نورهم په زیاتیدو شو. نور نونه دروسانوپه سفارت کی ځای کیدل اونه دمزدور رژیم په مؤسسو کی،نو په دارلامان کی دملي شورا ماڼی شمال خواته په یوه لوی تعمیر کی ځای په ځای شول خومهم پرسونل یی په سفارت ، زرومکرویانواو په کابل کی دروسانو دنظامی قواؤ دقوماندی مرکز کی قراردرلود .

روسان دسالنگ څخه په راتیریدوسره گرځیدل په کابل کی خو په خیالونو کی به یی ځانونه دهند بحر شمالي سواحلوکي احساسول. د «خاد» اوسنی «واد» روسی مشاورین چی دفوق العاده قوماندانانو

حیثیت لري تول د «کې جي بي» رسمي کارمندان دي. دوی به په اکثرو خصوصي مجلسونو کې د «خاد» کارکوونکو ته په ډیر مکر حکیمانه څیره او پزرګوار انه فیګور په نیولو سره ویل چه یو وخت به تاسو هم په پاکستان کې دموږ په شان مشاورین یاست خو چې څومره وخت تیریده او دمجاهدینو له غوټو سره مخامخ کیدل هغه هوا چه کومې پرسولي وه وروپه وروله لاسه ورکړه او اوس نو مسئله دې ته ورسیده چه پخواني روسي کمونستي خونړۍ امپراطورۍ څنګه وساتلې شي.

«کې جي بي» په افغانستان کې دپټوپولیسو (خاد) دستګاه په جوړولو زوروا چاوه او دکابل رژیم تول کورني او بهرني کره وره یې ددغې خطرناکې او دبې ګناه خلکو وژونکي دستګاه له لارې په خپل لاس کې ونیول. ددغې دستګاه مصارف دکابل مزدور رژیم دټولي بودجې په نسبت زیات دي او دجاسوسي چارو پیسې د مرکزي بانک (دافغانستان بانك) له لارې نه ورکول کیږي بلکې «کې جي بي» هغه راساً د «واد» له لارې په اجنتوري فعالیتونو کې په مصرف رسوي. همدا اوس دکابل رژیم هیڅ یوارګان هم په دې باره کې حقیقي معلومات نلري چه په څومره کمیت سره بانکنوتونه (افغاني) نشرته سپارل شوي دي نودغې د «کې جي بي» دشیطاني او وراني ځانګې (واد) تشکیلاتو او چاروته اشاره کړل په دموږ سره د «کې جي بي» دخطرناکو او استعماري فعالیتونو څخه دخبرتیاپه هکله کمك وکړي.

## د «واد» تشکیل:

۱– لومړۍ ریاست :– دغه ریاست مختلف مدیریتونه، امریتونه اوځانګې لري برسیره پردې ددغه ریاست په تشکیل کې یې یوه





امپراتیفي کنډك ته هم ځای ورکړی دی دغه ریاست دکابل ولایت اړونده اجنتوري چارې سرته رسوي اوډضرورت په وخت کې دمجاهدینو کوچنیو ګروپونو سره چې دکابل مزدوررژیم امنیتي ساحې ته یې دخول کړی وي وسله وال برخورد هم کوي.

۲– دوهم ریاست :– دغه ریاست دکابل په ښار اودهغو ولایتونو په مرکزونو کې چې دمزدور رژیم ترتسلط لاندې دي دبانډنیو هیوادو دسفارتونو قونسلګریو اوپه عموم کې دخارجیانو دجاسوسي ضد فعالیتونو اودهغوی دامنیت اودوی په داخل کې داجنتوري دندې سرته رسوي (دسفارتونو اوقونسلګریو پهره داران چې دپولیسو یعني ځارندوی دریشي یې په تن دي دواد ددوهم ریاست رسمي کارکوونکي دي).

په هغو هیوادونو کې چې دکابل رژیم سفارتونه فعال دي دسفیر دوهم سکرتر د «واد» رسمي کارکوونکي اونوموړی بست مستقیماً په وزارت امنیت دولتي (واد) پورې اړه لري. ددغو سفارتونو کارکوونکي دسفیرانو څخه نیولې بیاتر پیاده ګانو پورې ظاهراً دبهرنیو چارو په وزارت پورې تړلي دي خوپه واقعیت کې اکثریت دواد رسمي کارکوونکي دي اودسفارتونو اوقونسلګریو تول کارکوونکي دواد سره مستقیمه همکاري لري اوپه بهرنیو هیوادونو کې دمزدور رژیم هیڅ کارکوونکی دواد له موافقې څخه پرته کارنشي کولی خودواد دجاسوسي تول فعالیتونه دکې ، جي ، بي داهدافو دسرته رسولو په خاطر صورت نیسي اودروسانو په مستقیم دستورسره په نښه شوي چارې تراجرا لاندې نیسي کې ، جي ، بي په بهرنیو هیوادونو کې برسیره په خپلو سفارتونو اوقونسلګریو دپولنډ ، چکوسلواکیا ،



Ketabton.com

هنگري ، بلغاريا ، رومانيا ( دالمان شرقي برخه چې پخوا دموکراتيك المان په نوم يادېده اوهمدارنگه اوس هلته روسي نظامي قواوې موجودې دي ، داستخباراتو اساسي کره وړه د کې ، جي ، بي له لارې رهبري کيږي اوترڅو پورې چې دپخواني دموکراتيك المان داستخباراتو دستگاه کومه چې دکې ، جي ، بي په لاس جوړه شوې له بيخه ورانه نشي ترهغو پورې يې دکې ، جي ، بي ديوې څانگې په مثابه پېژندلې شو )

مغلستان ، ويتنام ، لاوس ، کامبوديا ، حبشي ، انگولا ... دسفارتونو له لارې خپل ناولي اواستعماري اهداف پرمخ بيايي ، همدارنگه دهغو هيوادونو په سفارتونو کې چې له روسانو سره نسبتاً زياتي سياسي ، اقتصادي اوکلتوري اړيکې لرې دپاملرنې ورنفوذ لري .

٣ دريم رياست :– دغه رياست چې دامنيت رياست په نوم هم يادېږي دواد په اړونده رياستونو اوڅانگو کې داجنتوري چارې سرته رسوي. دغه رياست دواد رسمي کارمندانو ، اجيرانو اوعسکرو خصوصيات اړيکې اوسياسي ميلان تثبيتوي اوپه واد کې درژيم ضد اشخاصو پېژندل اوپه دغه دستگاه کې دمجاهدينو له نفوذ څخه دجلوگيرې چارې ترغور اواجرا لاندې نيسي .

ددغه رياست کارکوونکي دواد اړونده مامورينو ته دمکافاتو اومجازاتو په ورکولو کې رول لري .

٤ – څلورم رياست:

چې درژيم داقتصادي موسسوسره سروکار لري په کابل اودرژيم تر تسلط لاندې ښارگوتو په صنعتي ، کرهنې ، تجارتي ، بانکونو ، هوايي ډگرونو اونورو اقتصادي موسسو کې داجنتورې چارې په مخ





بيايي په دغو موسسو کې درژيم ضد سياسي ، تخريبي ، سبوتاژ ، شانتاژ ، ترور اودمزدور رژيم نورو ضد کړووړو دکشف خنثا اوله منځه وړلو دندې سرته رسوي .

دڅلورم رياست په گډون دواد ټول کارکوونکي دذيصلاح مقامونو په دستور درژيم اودروسانو په گټه تبليغات هم ترسره کوي .

٥ – پنځم عمومي رياست :– دغه رياست چې پخپل تشکيل کې درې رياستونه لري درژيم ضد وسله والو قوتو کې داجنتوري فعاليتونه ترسره کوي.دغه رياستونه چې په مختلفو مديريتونو اوڅانگو ويشل شوي دي په داخل اودسرحد څخه دباندې خصوصاً پاکستان اوايران کې تروريستي ، تخريبي ، اجنتوري کړه وړه سرته رسوي دغه عمومي رياست په خپل تشکيل کې خاص وسله وال کندکونه هم لري همدارنگه دضرورت په وخت کې دمجاهدينو په فورم او شکل جعلي گروپونه جوړوي اودمجاهدينو په واسطه ازادو شويو منطقوکې دمجاهدينو پرضد اودمجاهدينو دبدناملو په خاطر ډول ډول کړه وړه سرته رسوي.

٦– شپږم رياست:چې دتعقيب په نوم هم يادېږي درژيم ضد مشکوکو اويا کشف شويو اشخاصو تعقيب په غاړه لري ددوی تعقيب په ډول ډول طريقو اووسايلو صورت نيسي لکه ترانسپورتي وسايل ،مخابراتي ، دجاسوسي مخصوصو الاتو اونور.دوی په انفرادي گروپي اوعمومي ډول سره خپل هدف ترتعقيب لاندې نيسي .

٧– اووم رياست:-په ټولوفرهنگي اوکلتوري موسسو کې داجنتوري فعاليتونو سرته رسوي لکه ښوونځي ، پوهنتونونه ، راديوټلويزيون ، مطبوعات اودرژيم ضد گوندونه اوسازمانونه ، روحانيون ، جماعتونه اوزيارتونه اوهمدارنگه دترور ضد څانگې لري . دغه رياست دمزدور

رژیم په مختلفو ضد قواؤ کې داجنتورې کره وره په غاره لرې.
دکابل ښار په اصطلاح ټول ملاامامانو اوجماعتونواوزیارتونو مستخدمینو اجنتورې چارې داووم ریاست په لومړې مدیریت (دروحانیونو په مدیریت) پورې تړلې دي. دولایاتو دښارګوټو په اصطلاح ملاامامانو اوجماعتونو او زیارتونو مستخدمین په ولایاتو کې داووم مدیریت په لومړې امریت ( دروحانیونو امریت ) پورې تړلې دي .

دکابل مزدور رژیم تر تسلط لاندې منطقو کې ټول په اصطلاح ملاامامان ، واعظین ، دجماعتونو ، زیارتونو اونورو مذهبي ځایونو مستخدمین اجنتورې دوسیې لرې اوډواد همکاران دي. دروحانیونو دمدیریت امریتونه دشیعه اوسني مذهبونو اوهندوانو لپاره ځانګړې ځانګې لرې اوډهمدې لارې هم دهغوې په منځ کې اجنتورې چارې سرته رسوې .

کې ، جي ، بي دهمدغه ریاست له لارې هغه دسیاسي ګوندونو او سازمانونو په نوم چې په اصطلاح دنجیب څو ګوندیز سیستم کې یې برخه اخیستې ده جوړکړل اوپایې هغه کوچنې سیاسي جلقې اواشخاص چې دروسانو سره یې دمقاومت ، تکړ او جهاد شهامت نه درلود ، عاطل او باطل پاتې شوې وو راتول اودګوښیو سازمانونو په نوم یې اعلان کړل او اوس دنجیب دپه اصطلاح څو ګوندیز سیستم دګنون ګوونکو له ډلې څخه شمیرل کیږي .

دنجیب په واسطه سره اعلان شوې څوګوندیز سیستم کې دشاملو ګوندونو اوسازمانونو مالي مصارف دواد په سلسله ترسره کیږي.داهم دتوجه وړده چې په دغو مصارفو کې چندان مخفي کارې صورت نه





نیسي بلکې هغه وخت چې کوم په اصطلاح سازمان یا ګوند په نوموړې څو ګوندیز سیستم کې شامل شي نو دنوموړي ګوند یا سازمان مهمو غړو ته دموټرو ، کورونو ، فرش اوظرف میاشتني معاش اودسازمان یا ګوند لپاره ټول مالي مصارف ورکول کیږي اوجهان ته دغه د کې ، جي ، بي په دام کې بندې شوې چوغکې دڅوګوندیز سیستم اودموکراسي اوازادۍ دموجودیت په نوم ورښکاره کوي .

۸۹ یا دتفتیش اوکنترول عمومي مدیریت :
دغه مدیریت دواد اړونده ریاستونو دکړو وړو تفتیش اودفعالیتونو ارزیابي دندې سرته رسوي.

۹– نهم ریاست چې دفیلډ ګیرې په نوم هم یادیږي دولایاتو دښارګوټواو کابل ترمنځ او دکابل په ښار کې دواد اړونده پستي وړلو او راوړلو وظیفې سرته رسوي .

لسم ریاست :چې دتحقیق په نوم یې هم یادوې دسیاسي متهمینو اوبندیانو څخه دتحقیق دندې سرته رسوي ددغه ریاست کارکوونکې دسیاسي متهمینو داقرار پخاطردډول ډول اوشدیدو روحي او جسمي شکنجو څخه کار اخلې تردې چې یو شمیر متهمین دجسمي شکنجو په اساس په شهادت رسیږي اویو شمیز دجسمي او روحي شکنجو په وجه نورمال حالت له لاسه ورکوي اوپه عصبي او روحي ناروغیو یې اخته کوي.

یوولسم ریاست :دغه ریاست په داخل اوبهر کې داجنتورې دندې سرته رسوي .

دوولسم ریاست : دافغانستان په قومونواوقبایلو،ښارنواوهمدارنګه

دهیواد څخه بهر خصوصاً دپاکستان په سرحدی منطقواو ښارنو کی داجنتوری ، تخریب ، دمجاهدینو ضد تبلیغ اوترور چاری سرته رسوی .

کادر وپرسونل (پیژند ):- دغه ریاست دواد کارکوونکو تشکیل ځای پرځای کول تغیر اوتبدیل ، درتبو او درجو تعیین ، روس ته داستخباراتی زده کړی پخاطر دواد کارمندانو دلیږلو چاری سرته رسوی.

تعلیمی مرکزونه :-تعلیمی مرکزونه دواد استخباراتی نظامی اوسیاسی ښوونی اوروزنی هغه مرکزونه دی چی دواد زده کوونکی دکابل مزدور رژیم اوروسانو ته دوفاداری په روحیه روزی اوپه نظامی ، مسلکی ( اجنتوری ) اوسیاسی برخو کی یی ترښوونی او روزنی لاندی نیسی.دکابل تعلیمی مرکز او دنظامی تعلیمی مرکز په نومونو دوه هغه ریاستونه دی چی دواد کارمندان ترمسلکی اونظامی ښوونی او روزنی لاندی نیسی اودانسان وژنی تخریب ترور ، پروپاګندلاری چاری ورته پکی ښودل کیږی.

دلوژستیك ریاست :- دغه ریاست دواد لوژستیکی چاری سرته رسوی

دمالی عمومی مدیریت :- نوموړی مدیریت هم لکه چی له نامه څخه یی څرګندیږی دواد دکارمندانو دتنخواه ګانو اونورو مالی چارو په اړوند فعالیت کوی .

دسیاسی امورو عمومی ریاست :- دغه ریاست چی دواد دمعاونینو له جملی څخه دی دواد په منسوبینو کی دکمونستی نظریی تبلیغ اوترویج ، روس اوکابل رژیم ته دهغوی دوفاداری په روحیه د ښوونی او روزنی فعالیتونه سرته رسوی اوپه عین وخت کی دواد ګوندی





سازمانونوتنظیم اودپرسونل اړوندوچارو کی کمك اوهمکاری کوی .

دولایتونو ریاستونه :-دټولو هغو ولایاتو په مرکزونو کی کوم چی دکابل رژیم ترتسلط لاندی دی دواد ریاستونه وجود لری دغه ریاستونه دنوموړو ټولوریاستونو یو یومدیریت پخپل تشکیل کی لری اوهر یو مدیریت پخپل چوکاټ کی په ترتیب سره امریتونه اوځانګی لری. نوموړی ریاستونه په داخل اوبهر کی داجنتوری ، تخریب ترور، دمجاهدینو ضد تبلیغ اودرژیم ضد فعالیتونو دکشف خنثی اوله منځه وړلو دندی سرته رسوی .

دنظامی عمومی ریاست :- دغه ریاست داردو ، څارندوی ، سرحدی ، خاص ګارد دقطعاتو اوجزوتامونو دمطمئن کنترول اوپه هغوی باندی دحاکمیت په خاطر دقول اردو څخه نیولی تر کندکونو اونوروځانګو اوشعبو پوری خپل کارمندان په علنی دول موظف کوی اودافسرانو اوعسکرو په منځ کی دمجاهدینو دطرفدارانو دپیژندګلوی اودرژیم ضد اعمالو دجلوګیری په خاطر، اجنتوری چاری سرته رسوی .

دولایتونو او پوشمیر مرکزی ریاستونه د رژیم ضد فعالیتونو دله منځه وړلو په خاطر په خپل تشکیل کی وسله وال اوپراتیفی او محافظ کندکونه لری .

د ل –٤٥ عمومی مدیریت :

دغه عمومی مدیریت په کابل اوهم دټولو هغو ولایتونو په ښارګوټو کی کوم چی دکابل مزدور رژیم تر تسلط لاندی دی ځانګی لری . دنوموړی عمومی مدیریت اساسی دنده دهغو اطلاعاتو تحلیل اوتجزیه ده کوم چی دواد له مختلفو ریاستونو ، مدیریتونو اوځانګو څخه ورته رالیږل

کیږي.کله چې د اطلاع اهمیت اونوعیت تثبیت شو نوبیا یې د واد اړونده ریاستونو او مدیریتونو ته لیږي ترڅو هغوی د اطلاع سره سم اجرات وکړي خو یو شمیر عاجل اویا ډیر محرم اومهم اطلاعات یې له ل –٤٥ څخه اړوندو مراجعو ته انتقالیږي .

دترانسپورت مدیریت :

دغه مدیریت د واد اړونده موټرونو ترمیم تخنیکي کنټرول ، اودې ته ورته نوری چارې سرته رسوي خوکله چې د واد ډیروانو په واسطه سره دتیلو غلا اوپه چکونوکی جعل کاری زیاته شوه نو نوموړی مدیریت ته په ١٣٦٧ هـ ش کال کی ترانسپورتي وسیلوته د دیزلو او پټرولو ویشلو دنده هم وسپارل شوه اما په واد پورې ترلې فرقې ، لواګاني اوغندونه دخپلو جزوتامونو لپاره ګوښې ترانسپورتي اوتخنیکي امریتونه لرې .

خاص ګارد :

دغه نظامي ارګان چې پخپل تشکیل کی فرقې ، لواګانې اوغندونه لرې نسبت نورو نظامي قواؤ ته مدرنې وسلې لرې اودروسانو اوددوی مزدورانو ( خلقیانو خصوصاً پرچمیانو ) نسبتاً اعتمادي اشخاص یې پکې راټول کړي دي .دغه نظامي ارګان چې ډیرپراخ تشکیل اوپرسونل لري دکابل مزدور رژیم ته دټولو نورونظامي ارګانونو په پرتله زیات وفادار دي . دخاص ګارد په تشکیل کی زیات شمیرملیشاؤ ته هم ځای ورکړل شوی اودمجاهدینو پر ضد ډیر پوځي عملیات اجرا کوي .

دل – ٣٥ عمومي مدیریت :

دغه عمومي مدیریت په مختلفو څانګو ویشل شوی دی او د —





ظاهرشاه له وختو راپه دې خوا داستخباراتو رسمي کارکوونکو او همدارنګه دریزو نتانو او اجنټانو شخصي اوکاري دوسیې دنوموړي مدیریت دارشیف په څانګه کې ساتل شوې دي.په دې برسیره دټولو هغو اشخاصو سیاسي دوسیې چې نوموړي سیاسي متهمین ورڅخه خبرتیا لري اویا په پټ اومخفي ډول سره یعنې ددوی په غیاب کې جوړې شوې دي د ل – ٣٥ په عمومي مدیریت کې ساتل کیږي اوکله چې کوم شخص غواړي باندنیو هیوادونو ته سفر وکړي ترهغو پورې پاسپورټ نه ورکول کیږي ترڅو چې دنوموړي مدیریت موافقه یې نه وي ترلاسه کړي .

په ١٣٦٨ هـ ش کال کې یو شمیر دوسیې خصوصاً هغه چې دهغوی له مخې دروسانو اوددوی مزدور رژیم جنایات په څرګند ډول سره ثابت کیدل دروسانو په واسطه له دغه مدیریت څخه وایستل شوې.په نوموړي کال ددغه مدیریت روسي مشاورینو دځو ورځو په جریان کې دهغه موټر په ذریعه چې موټروان اوساتونکې یې هم روسان وو دکابل له شش درک څخه چې نوموړي مدیریت پکې موقعیت درلود ، دنړو مکروپانو هغه بلاك ته انتقال کړلې په کوم کې چې روسان اوسیدل . داسې ویل کیدل چې دغه دوسیې یې له هغه ځایه څخه روس ته نقل کړې .

داهم په یادولو ارزیږي چې روسي مشاورین په ډول ډول بڼو خپل اهداف اوامرونه دواد په کارکوونکو عملي کوي اوکله خو دواد له په اصطلاح آمرینو څخه پرته په مستقیم ډول سره خپل امرونه تطبیق کوي .

د١٣٦٨ هـ ش کال په اوایلو کې ددغه مدیریت روسي مشاور په داسې

حال کې چې دنوموړی مدیریت عمومي مدیر یې ترشا ولاړ هغه کارمند ته بدرد وویل کوم چې دپغمان ولسوالی په امنیتی کمربند کې یې دیوی میاشتی له تیرولو څخه بده وکره نوموړی کارمند دخپل کلاشینکوف په واسطه روسی مشاور له منځه یوړ او وروسته یې دغه دواد غړی ونیوه اوروسانو له ځان سره بوتلو او ترننه پوری یې پته ورکه شوه .

دی ته ورته حادثه دامین دقدرت په وخت کې هغه وخت وشوه کله چې روسی مشاور په مستقیم ډول سره دامین نظامی قواؤ ته امر ورکر چې دغوربند ولسوالی مجاهدینو پرضد وجنګیږی خو هغه کندهاری عسکر چې ددغه روسی مشاور مخامخ ولاړ دعسکرو له کتار څخه راووت اودخپل کلاشینکوف په واسطه سره یې دروسی مشاور تټر سوری سوری کړ.دغه عسکر له نیول کیدو څخه وروسته روسانو له ځان سره بوت اوبیا یې ترهمدی دمه پوری چاته پته ونه لګیده .

داوپراتیفی تخنیك مدیریت :

دغه مدیریت دجاسوسی ډول ډول تخنیکی الات په اختیارکی لری او دتر نظر لاندی اشخاصو درژیم ضد کړو وړو په تثبیتولو کی ورڅخه کار اخلی .

همدارنګه دهغو باندینیو هیوادونو سیاسی میلمنو په استوګنځایونو کی کوم چې درژیم له خوا ورته تعین کیږی مخصوص تخنیکی الات په پټ او نه احساس کیدونکی ډول نصب کوی دغه تخنیکی الات دترکنترول لاندی اشخاصو ټول کړه وړه په سمعی اوبصری ډول سره څرګندوی.

دشفر عمومی مدیریت :





دغه مدیریت دکابل ښار خصوصاً دمرکزاو ولایاتو ترمنځ هغه اطلاعات او کره وره دشفر په ډول انتقالوی چې یاخو په بل ډول سره دهغه انتقال امکان نلری اویا داچې دشفر څخه په بل شکل یې لازم نه بولی .

دحفظ او امنیت ریاست :

دغه ریاست دګوند اودولت دعالی رتبه مامورینو دترور څخه دژغورلو دندی سرته رسوی کله چې کوم عالی رتبه ګوندی اودولتی مامورین په کومو غونډو کی برخه اخلی نو ددغه ریاست کارکوونکی په ملکی لباس کی دعالی رتبه مامورینو شاوخوا اشغالوی په دی وخت کی ظاهراً داسی څرګندیږی چې ګنی نوموړی مامورین دوګړو منځ ته ورغلی اوپو په بل باورلری خوپه واقعیت کی ددغو عالی رتبه مامورینو څو متری فاصله دنوموړی ریاست په کار کوونکو ډکه شوی وی .

«واد » دغه دمسلمانانو دزجر، وژلواوپه هغوی کی دشیطانی کړو وړو سرته رسولو دستګاه دترور اوانسان وژنی لپاره مخصوص تشکیلات لری اودهغوی په پټ ساتلو کی دډیراحتیاط څخه کار اخلی.

## دواد دکار طریقه :

واد( پخوانی خاد ) په کم وخت کی دکابل رژیم ترتسلط لاندی ښارګوټو کی دوحشت اوویری توری وریځې لانوری هم تیاری کړلی اودسرحدی پولی څخه بهریی ترور ، تخریب اونورو ورانوونکو کړو وړو ته شدت ورکر . په دی وخت کی دسیاسی متهمینو روحی او جسمی شکنجو نوی ډولونه په کار واچول شول اوکله چې کوم مجاهد او مسلمان په لاس ورشی دهغه داقرار لپاره دسختو اودردوونکو جسمی

او روحي شکنجو څخه کار اخلي.دغو شکنجو بولونه له شمیره وتلي دي خو دهغوی یوې برخې ته اشاره به زمونږ سره دروسانو او دهغوی کمونستي وحشتونو په پیژندګلوی کې څه ناڅه مرسته وکړي .
واد دجسمي او روحي شکنجو لپاره مخصوص وسایل او کارکوونکي لري دغه دشلم قرن نوی ټیپ جلادان دسرڅخه نیولي بیا تر پښو پورې داسې توري مخصوصي دریشي اغوندي چې یوازې سترګې یې پکې ځرګندیږي بیانو سیاسي متهمین په داسي حال کې چې روسي مشاورین ( چې اصلاً دوی لپاره دفوق العاده قوماندانانو حیثیت لري ) یې ترڅنګه پر چوکیو ناست وي،دلښتو په واسطه دمتهم په وهلو پیل کوي.دغه متهمین ترهغو پورې وهي چې یاخو په رښتیا اویا دوهلو څخه دنجات پخاطر یې په دروغو اقرار نه وي کړی اویا دوهلو لاندې شهید شوی نه وي . که چیرې دکوما حالت اختیار وي اوبې هوښه کیږي نو یې په اوبو کې اچوي اوکله چې دکوما له حالت څخه راوګرځي بیا همغه وهل پیل کیږي ترڅوچې نوموړی یابیاکوما اویاشهید شي. کله چې دغه متهمین شهیدان شي بیا یې نو خپلو کورنیو اوخپلوانو ته نه سپارې بلکې دوسیو ته یې روسان اور وراچوي اوپه شهیدانو باندې دشپې له خوا په داسي ځای کې خاورې انباروي چې بې له روسانو اودروسانو له مخصوصو پرچمي او خلقي مزدورانو څخه بل څوك پرې خبر نه شي.بې خوبه کول ، یخواوبو کې درول ، په لغتو اوسوکانو وهل ، دوبښتانو وستل ، معنرت ته نه پریښودل ، برقي جټکې (الکتریکي شوك ) ورکول ، دنوکانو وستل، تناسلي الاتو ته برق ورکول ، په تیارو نمجنو اوتنګو کوټو کې اچول ... خودوی عادي او ورځنی کارونه دي چې پر متهمینو باندې یې





تطبیق کوي اما دهغوی روحي شکنجو بیان دکومو څخه چې روسان اودوی لاسپوڅي رژیم کار اخلي ، دهرانسان له وسه پوره نه دی. روسان او مزدوران یې دلزوم په صورت کې متهمینو او دمتهمینو اقاربو ته دهیڅ بول بې حرمتي څخه بره نه کوي اودانسانیت اوانساني شرافت څخه لیرې توّلو لارو چارو څخه کاراخلي.دغو روسانو اودهغوی پرچمي اوخلقي مزدورانو خصلتونه څه چې څیرې یې بدلي او وحشي شوي دي او دغو دشلم قرن انسان نما ځناورو په دې ترتیب سره دکمونستي استبداد په پیاده کولو زور واچاوه .
کله چې په ۱۳۶۵ هـ ش کال کې دخاد رئیس نجیب دکارمل پر ځای مقرر شو دخاد نوم یې په واد ( وزارت امنیت دولتي ) واړاوه اوهمدا غیر اسلامي او غیر انساني اودهومانیزم ضد کړه وړه یې لانور هم ګرندي اوپراخ کړل .
دکې ، جي ، بي دغه څانګه (واد ) په عمومي بول سره ددریو لارو انګیزو اوعواملو په اړوند داجنټانو اوریزدینټانو سره اړیکې ټینګوي .
۱– عقیدوي –۲ مادي (دپیسو په اړوند ) ۳– مجبوریت
۱– عقیدوي :–په دې دله کې هغه اجنټا ن او ریزډ ینټان شامل دي چې یاخو نظر په مختلفو عواملوسره یې کمونستي نظریات منلي او منل یا عملي کول یې په خپله کټه بولي یاداچې دهغو عقدو په واسطه چې دژوند په جریان کې یې دکمونستانو ضد ځواکونو په مقابل کې پیداکړي وي.کې ، جي ، بي دغه دله اجنټان او ریزډ ینټان ترټولو مطمئن او عالي بولي .
۲– مادي :–دغه دله یا میاشتنی معینه تنخواه لري اویا داچې دهغه خبر اویاعمل داجراکولو په مقابل کې چې راوړي یې اویا ورته سپارل

کېږي اواجرا کوی یې په معلومه اندازه پیسی ورکول کیږي.همدارنګه یو شمیر اجنټان داعمل دمعینو اهدافولاس ته راوړلو په خاطر سرته رسوی لکه د دولتی چوکیو اومقامونو لاس ته راوړل اویا ساتل اوپه ژوند کی دنورو پرابلمونو دړفع کولو په خاطر کوم چی په روسانو اوډروسانو په مزدور رژیم پوری تړلی وی .

۳- مجبوریت :-که چیری کوم شخص برسیره پر هغوعواملوچی وجود لری موثریت یی زیات وی اوډعقیدی اویا په مادی لحاظ د کی ، جی ، بی اویا واد سره اجنټوری کاروته نه تیاریږی نو په مختلفو شکلونو باندی یی مجبوروی چی باید دواد د خوښی اجنټوری کارونه سرته ورسوی دمثال په ډول دنوموړی شخص لپاره داسی دوسیه جوړ وی چی دپلان شوی سناریو په واسطه یی منځ ته راوړی وی اودهغی په نتیجه کی ذکرشوی شخص یاپه اعدام اویا اوږده بند باندی محکوم کیږی نو بیا داورته وړاندی کوی چی که چیری دموږ سره داسی کمک وکړی موږیه دی له اعدام اویا بند څخه وژغورو نو په دی صورت کی که ذکر شوی شخص داعدام اویا بندیخانی طاقت اومیرانه نه درلوده نوبیا اجنټوری کارته غاړه ږدی . برسیره پردی کوم شخص چی دواد لپاره داجنټوری په اړوند مهم سکاره شی اودنوموړی شخص جذب کول په عادی ډول سره امکان ونلری نوبیا یی خصوصیات مطالعه کوی اوډهرشی سره چی زیاته علاقه لری دهغه دتیارولو په وسیله‌یی ترخپل نفوذ لاندی راولی.کیدای شی دجنسی مسایلو په اړوند وی (دواد » تولو ریاستونو دخپلو شیطاني اوانساني ضد کړو وړو دسرته رسولو لپاره یو شمیر فاحشو ښځواونجونوته په خپلو تشکیلاتو کی په پټه ځای ورکړی ) اویا داچی دنوروحیاتی مسایلو په رابطه ترسره





شی .

کی ، جی ، بی دواد په واسطه سره دامکان په صورت کی په ټولو هغو ځایونو کی چی انسان ژوند کوی خپل اجنټان اوریزدینټان ټیټ کوی. دکابل رژیم په ادارو اوموسساتو کی دهری موسسی امر ته دواد رسمی کارمند ورمعرفی کوی په دی صورت کی دموسسی امر مجبوروی چی دهغه لپاره ټولی اسانتیاوی کومی چی په اجنټوری کارونو کی موثریت لری تیاری کړی.دغه رسمی کارمند په ورسپارل شوی مؤسسه کی دررژیم ضد کړه وړه دهغی مؤسسي داجنټانو په ارتباط ترخپل کنټرول لاندی نیسی.دبله طرفه دبعضو مؤسسو امرینواوکارکوونکو ته په پټه دواد درسمی کارمندانو امتیازات ورکوی په همدی ترتیب سره یو شمیر خپل کارمندان درژیم په اداروا ومؤسسو کی دیوه نوی شاملیدونکی شخص په توګه نصب کوی دغه نوی شامل شوی اشخاص ظاهراً دهغی موسسی کار کوونکی څرګندیږی خوپه واقعیت کی دواد رسمی کارمندان وی برسیره پردی دررژیم په مختلفو موسسو کی کومی چی دکی ، جی ، بی لپاره نسبتاً زیاتی مهمی دی. دهغی موسسی تر پردی لاندی دواد مدیریتونه امریتونه او څانګی جوړوی.دمثال په ډول دسرحداتو په وزارت کی داداری اوتبلیغاتو ریاستونه ظاهراً دسرحداتو په وزارت پوری تړلی دی لاکن دهغوی کار کوونکی دواد رسمی کارمندان دی . همدارنګه دپاکستان اړونده هغو پښتنو اوبلوچو محصلینو لپاره کوم چی په کابل پوهنتون کی تحصیلات کوی په هغوی کی داجنټوری کارونو دپرمخ بیولو په خاطر دنوموړی وزارت تر نامه لاندی خاص مدیریت پرانیستی دی. له دغو کړو وړو څخه دروسانو اصلی هدف دادی چی په افغانستان

کې په دایمې ډول سره نفوذ او تسلط ولري او هم ددې لاری څخه په پاکستان او ایران کې شیطاني او استعماري فعالیتونه لانور هم گړندي کړي. کله چې روسانو په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدې په شپږمه نیټه پر افغاني خاوره دخپلو نظامي قواؤ په واسطه پوځي تیری وکړ په افغانستان کې یې په سیاسي ، اقتصادي ، کلتوري ، ایډیالوژیك ، نظامي او نورو ټولنیزو اړخونو کې په ټولو امکاناتو سره دتغیراتو په رامنځ ته کولو پیل وکړ او په ۱۳۶۱ هـ ش کال کې یې په روسي،پښتو او فارسي ژبو باندې داسې روسي نقشي جوړې اوچاپ کړې چې افغانستان دروسيې دشپاړسم جمهوریت په شکل ښودل شوی ؤ خودغه نقشې یې په افغانستان کې له خپرولو څخه ځو ورځې وروسته بیرته ټولې کړې . همدارنگه روسانو غوښتل چې دمجاهدینو سره دجگړې مسئله په ځو میاشتو کې حل کړي نو ددوی نظامي قواؤ دداخلیدو سره سم یې په وحشت او بربریت پیل وکړ- نه یې دوړو ، زړو ، ښځو او سپین ږیرو په شهیدولو صرفه وکړه اونه یې کورونه ، کلي ، دکرمځکې ، باغونه او کاریزونه روغ پریښودل خوچې هر ځومره دروسانو او ددوی لاس په نامه غلامانو په واسطه (خلقیان ، پرچمیانو او دروسانو نورو مزدورانو ) دافغانستان مسلمان ولس شهیدېدل او د وینو ویالې بهیدلې په همغه اندازه سره دمجاهدینو مقاومت ، میړانې او قربانۍ زیاتیدې.ددغو بې ساري تنگونو په وجه وو چې افغاني مجاهدین او مسلمانان داسلام او اسلامي خاورې څخه په دفاع او ساتنه ، ایمان او مقاومت کې دویاړونو او سرښندنو نمونې وگرځیدل او ددغه دغیرتونو کور ددوی دشهادت په وینو رنگ شوی هره تیگه او هر بوټی لوی لوی تاریخونه بیانوي او دهر مجاهد دژوند یوه کوچنۍ





شیبه د ننگونو او قربانیو ستر تاریخ دی اما تاریخ لیکونکو د دغو توپانی سیلابونو دیوه څاڅکي تاریخ لیکلو قدرت او امکانات هم هغه ډول چې لازم دی نه دی پیدا کړی .

ددغو دوولسو کالو څخه په زیات جهادی دوران کې په سلگونو زره دهغو ورك نومو شهیدانو په کارنامو او باتوریو چې د ایمانو او ایماني جذبې یې غرونه او دړې په لړزان راوستلې ، دتاریخ پاڼې نه دی ښکلې کړای شوې او که چیرې موږ هم ددوی اسلامیت ، شهامت او سرښندنې ، ایمان او قوت ته داحترام او تسلیمي سرونه ټیټ نکړو نو هلته به مو رښتیا ته دروغ حقیقت ته باطل او حق ته ناحق ویلی وی خو دلته به دبیلگې په توگه دهغه اسلامي پاڅون یوې برخې ته اشاره وکړو کوم چې دروسي کمونستي استعمارچیانو په وجود کې یې لړزیا ته اوهغوی ته یې داسلام او ایمان زور په عملي ډول وښود . کله چې په ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدې په شپږمه دروس وحشي عسکرو زموږ پر اسلامي وطن پوځي تیری وکړنو هغه جهاد کوم چې دروسي مزدورانو ( خلقیانو او پرچمیانو) پرضد توپاني شوی ؤ لا نور هم توپاني شو . افغاني مجاهدینو داسلامي کلك ایمان په واسطه سره په تشو لاسو نو دروسي ټانکونو مقابله پیل کړه او یوځل بیا دجهاد ورانگې دغرونو او رغونو څخه دښارونو او بازارونو په لور وخوځیدې . په ۱۳۵۸ هـ ش کال دحوت په دریمه نیټه دکابل په ښار کې کفر او استعمار راپرځوونکی اسلامي پاڅون وشو داقیام داسې پیل شو :

دروسانو دنظامي قواؤ له پوځي تیري سره سم دکابل ښار له زیاترو کورونو څخه دیوې شپې په نسبت بلې ته دالله اکبر ناري مخ په زیاتیدو شوې خود حوت دریمې نیټې څخه څو ورځې مخکې دغو



Ketabton.com

اسلامي نعرو او زوږ کابل ښارته نوی بڼه ورکړه . دورځې لخوا به اکثریت دوکانونه له روسانو سره دمخالفت په منظور تړل شوي وواو دشپې له خوا دالله اکبر او دروسانو او دهغوی مزدورانو پر ضد شعارونو به تو‌له شپه بدرګه کوله .دنوموړی کال (۱۳۵۸) دجدی میاشتی په دوهمه نیټه دکابل ښارټول دوکانونه دروسی استعمار چیانو او دهغوی مزدورانو (خلقیانو او پرچمیانو) سره دمخالفت په وجه وتړل شول او ښه څرګنده ښکاریده چی داچوپی جادی او کوڅی به په کم وخت کی دکفر او استعمار ضد اسلامي موجونه شی . دهمدی ورځی په ماښام دکابل ښار دهر بام هر کور ( هغوی چی دروسانو مزدوران ؤ دمجاهدینو له ویری یی د الله اکبر په نارویېل وکړ) او هری کوڅی څخه دالله اکبر ناری پورته شوی . دا هغه شپه وه چی ورو ورو یتیمانو هم جهاد ته ملاتړلی وه کوچنیو ماشومانو دغزاء په نیت دالله اکبر ناری پیل کړی وی او داسی څرګندیده چی بی سا او غیرژوندی اجسام هم دالله اکبر ناری وهی.داټوله شپه دروسانو او دهغوی دغلامانو لپاره دهیبت او ویری شپه وه او دمسلمانانو لپاره دیوه اسلامي جشن او لویی غزادانتظار شپه .

دحوت په دریمه ورځ دسهار تراتو بجو پوری دکابل ښارټولی جادی او کوڅی په غازیانو ډکی شوی دالله اکبر نارو او اسلامي شعارونو غږ او زوږ ټول ښارولړزاوه او د (۹) بجو په شاوخوا کی دکابل ښار په ټولو ناحیو کی دجهاد ورانګی پورته شوی . داهغه دحق او باطل جګړه وه او هغه صحنی وی چی یوازی عینی لیدل یی په واقعی ډول څرګند ولی شی او دهغوی لورتیا ، دغازیانو شهادت او عظمت دقلم په ژبه نشی څرګندیدلی .





په دغه جهادی توپان کی ډیر کم شمیر مجاهدینو توفنګچی درلودی او نور ټول سپین ږیری او ځوانان تش لاسونه خو دایمان او عقیدی زور وری وسلی یی درلودی . ددغه اسلامي پاڅون مجاهدینو دښار اکثریت ګوندی ناحیی ( دخلق او پرچم ګوندی دفترونه ) دپولیسو (څارندوی ) حوزی او د اردو یو شمیر هغه قطعی فتح کړلی کومې چی دکابل ښار په داخل کی موقعیت درلود. مجاهدینو دخلق او پرچم دغه وسله والی قطعی او حوزی دافسانوی قهرمانانو په بڼه تسخیر کړلی هغه په دی ډول چی مجاهدین به دسیلاب په څیر دمزدور رژیم پر دفتر ونوحوزو او نظامی قطعاتو باندی وروختل او کله به چی دمجاهدینو اسلامی لښکر دغو حوزو او ناحیو ته ورننوتی شول نو دروس مزدورانو به کلاشنکوفونه دمجاهدینو په طرف ضربه کړل او ټولو مجاهدینو به پری ورمنډی کړی . هغوی چه شهیدان کیدل پرځمکه به لویدل او نوریه ترهغوی پوری په مخ ورتلل تر څو چی به یی په خالی او تشو لاسونو روسی مزدوران ( خلقیان او پرچمیان) دخپلو دوسلو سره یوځای ژوندی ونیول په دی ترتیب سره دکابل ښار کوڅو او جادو، کورونواوسرکونو هم دافغانستان دکلیو اوبانډو په څیر دشهیدانو په وینو سری اورنګینی جامی واغوستی اودمزدور رژیم اکثریت ګوندي اودولتي اداری اومرکزونه دمجاهدینو په لاس فتحه شول دجهاد دغه حالت ترغرمی وروسته هم دوام وکړ او مجاهدینو دکابل مزدور رژیم اوروسانو په هغو نظامی قطعاتو اوجزوتامونو باندی کومی چی کابل ښار ته څیرمه منطقو کی پرتی وی هم یرغل پیل کړیه دی وخت کی روسانو ددوی ټولو هغو زغروالو قطعاتو اوجزوتامونوته کومی چی کابل ښار ته نږدی پرتی وی امر وکړ چی

دکابل ښار دمرکز په طرف حرکت وکړی اوهرڅوك چي مخی ته ورځی له منځه یی یوسی نودروسانو عمده او اساسی زغروالو قواؤ ددازالامان اوخیرخانی له خواؤ څخه د ښارمرکزی لوری ته دمجاهدینو پرضد خرکت او جنګ شروع کړ . څرنګه چي دمجاهدینو سره دټانك ضد وسله نه وه موجوده نو دهغوی سره په هغو وسلو چي دخلقیانو اوپرچمیانو څخه یی په غنیمت نیولی وی مقابله پیل کړه اودیوی شدیدی اوخونړی جګړی څخه وروسته روسانو وکولی شول چي دکابل ښار یوازی مرکزی څلور لاری اوجادی په خپل کنترول کی ونیسی اودښاراړونده اطرافی منطقی مجاهدینو په لاس کی پاتی شوی.دحوت په څلورمه شپه دکوروټو څخه دالله اکبر نارو ویلو ادامه درلوده اوهم دمجاهدینو له طرفه دښار په ټولو برخو کی پر روسانو باندی وسله والو بریدونو دوام پیداکړ اوپه کابل ښارپوری مربوطی اطرافی ناحیی په میاشتو اوکالونو دمجاهدینو تر نفوذ اواثر لاندی پاتی شوی اما بیا وروسته دشرایطو په نظر کی نیولو سره مجاهدینو دجهاد تاکتیك ته تغیر ورکړاوپه غرونو او ر غونوښارونو اوبازارونو کی دروسانو اودوی لاس په نامه غلامانو پرضد جهادی بهیر اوپاخون لانور هم پیاوړی شو .

د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیتی څخه نیولی بیا دروسانو تر شرمیدلی ماتی او تیښتی پوری دیو نیم ملیون څخه زیات افغانی مجاهدین اومسلمانان دروسانو اودکی ، جی ، بی په خونخوارو لاسونو جورو شوولو (خلقیانو ، پرچمیانو اودوی نورو اجنټانو ) په واسطه سره شهیدان شول اودادشهادت بهیر دوام لری .

روسانو دیوی خوا په افغانستان کی له افغانانو سره په لس کلنه





مستقیمه جګړه کی سخته اقتصادی ضربه ولیده اودبلی خوا په بین المللی ارخ کی لانورهم رسوا شول او په دی پوه شول چي دافغانستان مجاهدین او مسلمان ولس چي دایمان اوحق په زور جنګیږی ، تابع کول اودغه دغیرتونو اوننګونو خاوره په زور سره تر تسلط لاندی راوستل ناممکن کار دی نو په داخلي اوبهرنۍ سیاست کی یې دفریب اوغولونی نوی استعماری سیاست (ګلاسنوست اوپروستروئیکا ) پیل کړ.

په افغانستان کی دروسانو دګلاسنوست اوپروستروئیکا نوی ډراماتیکه صحنه کی دکارمل رول ضعیف ښکاره شو نوددی خلا دډکولو په خاطر نوی لوبغاړی ته اړتیا پیداشوه . کی ، جی ، بی ددی کار لپاره دخاد رئیس نجیب چي ددوی پخوانی ازمویل شوی وفادار اجنټ ؤ رامنځ ته کړ اوکله چي کی ، جی ، بی د ۱۳۵۸ هـ ش کال څخه راپه دی خوا په مستقیم ډول سره په افغانستان کی دخاد (واد ) استخباراتی دستګاه جوړوله.نجیب په ټولو امکاناتو سره دکی ، جی ، بی همکاری ته حاضر اوپه افغانستان کی دکی ، جی ، بی په فعالیتونو کی دلومړی درجی همکارانو اومعتمدینو له جملی څخه حساب شو نوځکه یی په ۱۳٦۵ هـ ش کال کی دکارمل پرځای دکابل مزدور رژیم په راس کی مقرر کړ اوکارمل یی دصحی مشکلاتو په نوم له ورکړل شوووظیفو څخه وغورځاوه اوبیا یی وروسته دهغه تقاعد اعلان کړ .

کله چي په ۱۳٦۷ هـ ش کال کی دافغانستان څخه دروسانو نظامی قواو لومړۍ برخی وتل پیل شول دکابل په حضوری چمن کی دروسانو اودکابل مزدور رژیم ګډه غونډه جوړه شوه په دی غونډه کی کارمل هم

حاضرۇ او کله چې یوه بهرنی ژورنالیست له کارمل څخه پوښتنه وکړه چې ایا په رښتیا تاسو دناروغی په وجه دخپلو وظایفو څخه لیری کړای شوی یاست ؟ کارمل په ځواب کی ورته وویل چې نه خیر یعنی داصحیح نه ده اما په همدی جریان کی دکابل رژیم دهغه وخت دفاع وزیر نظرمحمد دکارمل مخی ته راغی او ورته ویی ویل چې په پلان کی دستاسو سره مرکی ته ځای نه دی ورکړل شوی په نتیجه کی کارمل چوپ اوغلی شو .

نجیب زیاتی هلی ځلی وکړی ترڅو وکولای شی دافغانستان مسلمان ولس ته دنوی تیپ چل اوفریب ورکولو له لاری دکی ، جی ، بی ، داهدافو په ترسره کولو کی فعال رول ولوبوی خو دافغانستان مجاهد اومسلمانو ولسونو دهغه داسلام اووطن ضد کره وړه پیژندلی ۇ نو ځکه یی هیڅ یول اعتبار پری ونکړ .

سره ددی چې دنجیب درامنځ ته کیدو په وخت کی ظاهراً دنجیب پر ضد اودکارمل په طرفداری دیو شمیر نجونو له خوا دمظاهری په بڼه مخالفت څرګند شو اوبیا ورروسته په ۱۳۶۸ هـ ش کال کی کودتا ته ورته سناریو هم پیل شوه خو داټول په افغانستان کی دکی ، جی ، بی دهغو هلو ځلو یوه برخه ده چې ترڅو هم په اوسنی مرحله کی دافغانستان په مسئله کی ورڅخه پخپله کټه کار واخلی اوهم په اوږده راتلونکی کی په افغانستان کی دنفوذ امکانات ولری .

دافغانستان څخه دروسانو نظامی قواؤ تیښته دامعنا نه درلوده اونه یی لری چې روسانو دافغانستان په کورنیو چارو کی دلاسوهنی څخه ډډه وکړله اویا به په راتلونکی کی ورڅخه پرهیز وکړی .

که چیری روسان افغانستان ته دروسی نظامی قواؤ بیا راتګ پخپله





ګټه و بولی نو روسان به داکار سل ځله بیا هم تکرار کړی خوځرنګه چې اوس روسان په دی باندی ترېخوا ښه پوه شول چې که چیری دوی ډیر لوړ نظامی قدرت هم ولری اما دنظامی قواؤ په واسطه سره دافغانستان داشغال امکانات نلری اوپه اوسنی پړاو کی دکی ، جی ، بی له لاری خپل نفوذ اوتسلط ترټولو پخپله ګټه ګڼی ، همدا علت دی چې په اوسنی وخت کی سره ددی چې روسان په افغانستان کی نظامی وسله وال پوځونه نلری خو کی ، جی ، بی دکابل رژیم دلاس مستقیمه اله ګرځولی اوډواد په اړوند یی خپل استعماری اوشیطانی فعالیتونه جاری ساتلی دی .

روسانو په افغانستان کی داسی پلانونو عملی کولو ته اقدام وکړاو دوام ورکوی چې نه یوازی دافغانی ټولنی دعقیدی خصوصیاتو روان اوټولنیزو روابطو سره سمون نه خوری بلکی اصلاً دبشریت انسانی فطرت او انسانی اړیکو په مقابل لوری کی قرار لری .

دافغانستان مسلمان ولس دربنتینی اسلام ، خپلواکی ، ترقی اوعالی اخلاقو غوښتونکی دی اوپه اوسنی پړاو کی دافغانستان په اسلامی ټولنه کی دامتحان شویو جنایتکارانو اومنفورو اشخاصو اوډلو له قدرت څخه غورځول (دخلق اوپرچم دلی اودروس نور پیژند ل شوی اجنټان ) اودافغانستان پر اسلامی خاوره کی داسلامی حکومت جوړول غواړی اودحق په دی لار کی یی بی شمیره ځانی اومالی قربانی وکړی خو روسان اودوی مزدوران دافغانی مسلمانانو ددغوټولو عالی اوحقه حقوقو پرضد دهیڅ ډول بربریت څخه ډډه نکوی اولانورهم دافغانستان مسلمان ولس ته دخاګانو په کندلو لګیا دی نو ځکه دابیا هم په ویلو ارزیږی چې دروسانو تیښته ددوی مهربانی ،

دافغانانو سره خواخوږي اوداستعماري اهدافو او کړو وړو څخه ددوی کول نه دي بلکې خاصو عواملو اوشرايطو دې کار ته مجبورکړل .
سره ددې چې دروسانو په تيښته کې دافغاني مسلمانانو دايمان اوحق زور بنسټيز اوټاکونکی رول ولوباوه خو لاندينيو عواملو دروسانو ماتی ګړندی کړله .

١- دافغانستان ولس دکلکې اسلامي عقيدې درلودل او ورسره په څنګ کې دافغانستان داسلامي خاورې دخپلواکۍ احساس پياوړتيا .

٢- څرنګه چې کمونستي ايډيا دبشري فطرت ضد اساس لري نو پخپله روسانو اودخلق اوپرچم ډلو نشول کولای چې حتیٰ پرخپلو ځانو يې عملي کړي اودوی پخپله دخپلو ځانو څخه بې زاره وو اودی .

٣- د افغانانو لوړ جګړه ايزمورال .

٤- دمجاهدينو په کټه اراضي .

٥- دروسانو سره دافغانستان دمسلمانانو کينه او ددوی څخه نفرت دتولو استعماري قوتونو په نسبت زيات قوي وُ اودی .

٦- په ايران اوخصوصاً پاکستان کې دافغاني مجاهدينو، مهاجرينو او مسلمانانو طرفدارو اودوستو دولتونو موجوديت ( په دې اخيرو کې دمجاهدينو په مقابل کې دايران دولت سياست بله بڼه غوره کړه)

٧- دمجاهدينو او مهاجرينو سره دنړۍ مسلمانانو اوغربي هيوادونو مرستې .

٨- دروسانو رکود اوسکون ته نږدې اقتصادي انکشاف.

٩- روسانو ته په عمل کې تاريخي تريخ درس ورکول اودځان جهان اوافغانانو نسبي رښتيني پيژندګلوي .

١٠- په ملي اوبين المللي اړخونو کې دروسانو اصلي استعماري





سياست لاافشا کيدل اوپه نوموړې سياست باندې دنوی غولوونکی پردې (ګلاسنوست او پرسترويکا سياست ) اچول .

١١- دپاکستان اوايران سره دافغانستان اوږده سرحدي پوله .

١٢- روسانو اودکابل رژيم دهغو امکاناتو اووسايلو څخه چې په لاس کې يې درلودل مناسبه ګټه وانه خستلای شوه.روسان او دخلق اوپرچم ډلې دشرايطو سره سم دلازمي دولت اودولت دارۍ څخه عاجز وو.

١٣- دروسانو په واسطه سره دداسی دستګاه (دکابل رژيم ) جوړول چې کم ترکمه په بين المللي سويه پرې سودا اوتجارت وکړای شي .

١٤- دمجاهدينو په واسطه روسانو ته اقتصادي ضربه ورکول .

روسان په دې هڅه اوتلاش کې دي چې خپل استعماري اودولسونو دښکيلاک اوزبيښاک لارې چارې نورې غولونکی اودګلاسنوست اوپروسترويکا ترپردې لاندې دولسونو دتيرايستنې نوې څيره رامخې ته کړي خو ترټولو مهمه مسئله داده چې : ترڅو پورې دروسانو نظامي ، ماشين مات اوتوتي نشي ترهغو به افغانستان او نړۍ دبريونو اوويرونو سره لاس په ګريوان وي .

په نتيجه کې بايد وويل شي چې روسانو اواستخباراتو يې دڅو پيړيو راهيسې داميرامان الله خان تر زمامدارۍ پورې دافغانستان په بربادۍ اووړانولو کې خپله برخه اخيستې ده او د ١٢٩٨ ـ هـ ش کال څخه بيا د١٣٥٧ هـ ش کال دثور ٧ نيټې وړانوونکی کودتا پورې يې دافغانستان دمسلمان اوتوريالي ولس دبربادۍ اومصيبتونو په رامنځ ته کولو کې اساسي رول لوبولی دی خو دثور کودتا څخه بيا ددوی تر مستقيمې نظامي مداخلې اوبالاخره تر نن پورې دافغانستان اسلامي ټولنې دټولو رنځونو ، کړاوونو ، دټولو مادي

اومعنوی ارزښتونو دبربادی اوزمونږ دګلشن وطن افغانستان دورانولو عامل (کی ، جی ، بی ) یاروسان اودوی مزدوران (دخلق اوپرچم ډلی اونور اجنتان ) دی.نو دافغانستان دټولو مجاهدینو ، مهاجرینو اومسلمان ولس اسلامی اوایمانی وظیفه ده چی ددغو داسلام اووطن اصلی دښمنانو پرضد دڅوند تر وروستی سلګی پوری په کلك ، ایمان اوسپنیز هوډ اوعمل سره مقابله اوجهاد وکړي .

لوی خدای(ج) موښ اداوکامیاب لره